# لرغوني پښتانه قومونه

لیکونکی :

استاد مولانا قیام الدین (خادم)

دوهم چاپ
وږی ۱۳۸۷ ل (اګست ۲۰۰۸)

More Info:
gadheewad@hotmail.com
Ph #:(416)428-2121

## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: لرغوني پښتانه قومونه
خپرندوی: روښان ((خادم)) ، تورپېکی ((خادم)) سنګین
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
مهتمم: روښان (خادم)
چاپ نېټه: وږی ۱۳۸۷ل ، اګست ۲۰۰۸ م
کمپوز او ډیزاین: عبدالهادي (اثر) ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳
مطبعه: شمشاد (ساپی) مطبعه جلال آباد ښار ، افغانستان
۰۷۸۲۰۲۰۱۲۰ - ۰۷۵۲۰۱۳۱۵۰

اهداء

شیخ کته (رح)

ته

# فهرست


| مضمون | مخ |
| --- | --- |
| حمد اوثنا | |
| د خبرو سر | ۱ |

**لومړۍ برخه**

| | |
| --- | --- |
| ساک قام | ۲ |
| اجمالي خاکه | ۲ |
| د ساکو تاریخي نومونه | ۴ |
| د ساکو تول نومونه | ۲ |
| د نومونو شرحه | ۲ |
| د ساکو د کولتور او عاداتو په باب | ۱۰ |
| سهاک قومونه | ۱۱ |
| دله زاک | ۱۴ |
| په موجوده پښتنو کې سهاک قومونه | ۱۸ |
| د تاریخ او روایاتو توافق | ۲۰ |
| ساک یا سیتي قام په قبایلو تقسیم ؤ | ۲۰ |
| ساک څنګه پیدا شول ؟ | ۲۳ |
| د ساکو مهاجرتونه | ۲۴ |
| د ساکو واکمني او مرکزونه | ۲۷ |
| د ساکو لویه واکمني | ۲۹ |

د ساکو مشاهیر او اتلان ........................................ ۳۲
زرینه تولواکمنه ........................................ ۳۸
ساک ولې ورک شول ؟ ........................................ ۴۴
د ساکو ژبه ........................................ ۴۲
باختري ژبه ........................................ ۴۷
ساکي ژبه او پښتو ........................................ ۵۰
اریائي ژبې ........................................ ۵۱
باختري ژبې ........................................ ۵۴
کینت KENT ........................................ ۵۸
ساکي ژبه ........................................ ۵۹
د ختني ژبې د څو لغاتو مقایسه ........................................ ۶۱
د ختني ساکي د تومشوک د لهجې یو متن ........................................ ۶۲

## دوهمه برخه

ساک پښتانه دي ............ ۷۲
ساک او کاسي ............ ۷۵
کاسي ............ ۸۰
د تاریخ د زنځیر ماتې کړۍ ............ ۸۸
پارتیان ............ ۸۸
سکایان ............ ۹۳
پهلوایان ............ ۹۴
کوشانیان ............ ۹۷
یفتلیان ............ ۹۹
کابل شاهان ............ ۱۰۴

## د کتاب لنډیز په درسي ترتیب

کابل شاهان، یفتلیان ،پهلوایان ............ ۱۰۸
اسکایان ، پارتیان ، د ساک او پارت وروري ............ ۱۰۹
ساک او کاسي ............ ۱۱۰
لس اریائي قبیلې ............ ۱۱۰
حاصل او نتیجه ............ ۱۱۱
د کتاب ماخذ ............ ۱۱۳
د استاد خادم یادداشت ............ ۱۱۴

۱

## دخبرو سر

پښتانه لومړی مغروره وو او اوس مجبوره دي ، په دغه وجه له ځانه بېځانه او له خپل خیر و شره نا خبره پاته شوي دي ، له دوی ځان ورک دي ؛ نو ځکه ټول په دنیا کې سپک دی ؛ د هوښیارانو د وینا له مخې د ایشیا قوي تېر دی . دافغانی په تشخیص «د عزم او اقدام خاوند په آزادئ مئین او زړه ور دی !» .

نن صبا ډېر ستومانه او خاورې په سر دی ، دومره راتیټ شوی دی چه ناهیلئ په سر اخیستی او په ځان کې یې شک پیدا شوی دی .

علاج یې زمونږ په فکر د خپل تاریخ او جهان پېژندنه او د ملي شعور په ذریعه د خطراتو مخ نیوی او د ځان ژغورنه ده!

دا کار په بې علمه سیاست او بې پوهې ضدیت او نورو ته د تسلیم کېدو په مطلق صورت نه کېږي .

زمونږ وظیفه په دې حالت کې لیت لګول دي ، لاره ښودل او له نورو هر څه تېرېدل ، د پښتنو وظیفه دا ده چه ولولي هغه چه زما زړه ته راغلي .

او دا کتاب او ورګډ شي د ژوند په دریـــاب
چه څـو شـي کامیـــاب والیه المرجع والمأب !

اول د جوزا – ۱۳۵۳ کابل خادم مېنه

لومړئ برخه :

## ساک قام

دلته د ایشیا په منځ په لویه ساحه او دوه زره کاله تاریخ کې یو لوی قام اوسېدلو چه "ساک" یې باله ، لوی تاریخ پوهان د دوی په باب ډېر روایات لري.

## اجمالي خاکه

ساک قام د میلاد نه زر کاله مخکې او زر کاله وروسته په دوه زره کلن تاریخ کې د توري بحیرې نه د هند د ګوجرات ، کاتیاوار او د پامیر د لوړو څوکو څخه ورها پلو له کاشغر، ختن ، تیان شان او د سائبیریا د فلات څخه د فارس د خلیج او د هند د دریاب پورې خپور پروت (۱) ؤ او البته په نورو نومونو هم یاد شوي دي ، ځکه چه دوه زره کاله او دومره لوی وطن په خپله تقاضا کوي چه لغات ، نومونه او لهجې دې په کې تغیر وکړي.

(۱) مونږ څو ، څو ځایه دا خبره لیکلي ده چه ، (کاشغر) کلمې اصل (کاسي غر) دی ، او د (کسي غر) په شان ده ، دلته دا ذکر بې ځایه نه دی ، چه د (ختن) اصل د ځینې پښتنو محققینو په اند (ښه تون) دی چه د ښکلو هوسیو او مښکو په ستائنه یې د مشرق ادبیات ډک دی ، د کاشغر ، ختن او د تبت د ځینې برخو څخه علاوه ، ساکي یوچیان د کوچاتو په شکل د چین د کانو په ولایت کې درې سوه کاله اوسېدل ، د سائبیریا په (کانسک) ولایت کې د پښتنو کاسي قام نه دی معلوم چه له کومې زمانې موجود ؤ ، دا ټول شواهد دا حقیقت څرګندوي چه د منځني اسیا لوی او قوي نژاد یا ټبر پښتانه دي او په دغومر لویه ساحه کې سوونه کاله موجود وو او وړاندې تاریخ یې زرګونه کالوته رسېږي. (خادم)

عالمان وايي چه د ساکو اصلي هېواد د لرغوني افغانستان او د ايندوکوش خواوشاوې دي . (۱)

بيا له دې ځايه څخه د خپلو رمو ، ګورمو ، پادو ، ګلو او غېلو سره هر پلو خپاره شوی ، ډېر شوی او د حکومتونو او امپراطوريو په جوړولو موفق شوي دي .

خو يوه برخه نور قومونه يې چه " مرکزي آريايان " يې بولي په خپله اصلي خاوره پاتې شوي دي ، کوم ساک چه په خپل مرکز پاته شول ، د " مرکزي آريايانو" يا " باختر" په نامه د پارتيانو ، سوغديانو ، خوارزميانو او نورو سره ګډ اوسېدل، يا په بل عبارت په مختلفو قبيلو ويشل شوي وو ، يعنې يو توکوم او يو تبر ؤ ، خو په ډېرو نومونو يادېدلو .

---

(۱) کابل مجله ۲۲۰ ګڼه له روسي منابعو څخه

## د ساکو تاریخي نومونه

ساک په پخواني چیني اسنادو کې په دې نومونو لیکل شوي دي: (سئه، سئک رد سین په زورکی) سای (س-ای) سیت، سیک، سی وانګ، په زړه پارسۍ کې دا نوم په دې عبارتونو راغلی دی:

الف: ساکاهیګرا خاوردا – تېره خولۍ ساک *

ب: ساکاتېرای پاراسوغدام – د پورې سوغد نه ورتېر ساک.

پ: ساکاهومارګه – هوما جوړوونکی ساک.

ت: ساکاتېرای پارادریا – د سیند نه پورې څخه ورتېر ساک.

د زړې هندي ژبې په اسنادو کې داقام په (شاکه) ذکر شوی دی.

د زړې یوناني ژبې په آثارو کې په (سکیف) او (سکوت وای) راغلی دی.

په اشوری آثارو کې (اشکوزی) او په یو لړ نورو آثارو کې د (سیت، سیتی، سکائی) په نامه ثبت شوی دی، ځینو (سَهک) هم بللی دی، په اسلامي آثارو کې په (اشکانی) نوم یاد شوی دی، د وحشت په زمانه کې چه دوی په باختر یرغلونه کول، نو اوستا ورته (توریا) * او (ازهي دهاکا) * ویلی دی، په ویدي دوره کې (اهی) یاد

﴿۵﴾

شوی دی ، ځینې مؤرخینو ساسا هم بللی دی ، نن یې سهاک بولي . (۱).

---

• (۱) SAKA HIGRA XAUDA

(۲) SAKA TYRAY PARASVGEAM.

(۳) SAKA HAWMA WARGA

(۴) SAKA TYRAIY PARADARYA.

(۱) کابل مجله ، غبار ، ظفر کاکا خېل ، نوي لار .

* دا اصطلاح له ډېر پخوا څخه په پښتو کې موجوده ده ، چه دښمن او مخالف د تور په نامه یاد دی . (خادم)

* په یو روایت کې راغلي دي چه اوستاني ورته (اذهي داهاکا) هم ویل شوی دی ، په ویدونو کې (آهي) راغلي ، بعیده نه ده چه ( اژدها ) له (اذهي دهاکا ) څخه جوړ شوی وي خادم)

## د ساکو ټول نومونه

که دغه ټول نومونه په یو ځای راټول کړو نو داسي به وي :*
ساک ، سئ ، سئک ، سای ، سیت ، سیک ، سی وانګ.
ساکاهیګراخاودا.
ساکا تیرای پاراسوغدام.
ساکاهوما ورګه.
ساکا تېرای پارادریا.
شاکا ، سکیف ، سکوت وای ، اشکوزي ، سیت ، سیتي، سکائي ، سَهَک ، اشکاني ، توریا ، ازهي کا ، سَهَاک ، ښناک ، ضحاک ، ساس، سهاکزي ، سګزي ، سګه ها ، اسحاقزي. *

## د نومونو لږه شرحه

دا ټېر تېره خولۍ ځکه بلل شوي دي چه دوی به یو قسم مخروطي شکله خولۍ په سر کولې ، دغه قسم خولۍ د امیر حبیب الله خان تر وخته په افغانستان کې مروجې وې ، په تېره بیا په وردګو او کوچانو کې یې زیات رواج درلود ، د مالوچو په پلتو به یې ډکولې ، پورته څوکې به یې تېرې

---

* دا څلور نومونه وروسته راځي.

وتلې وې او لاندې ځنډو ته به يې په افقي ډول څلور پنځه پلتې ورکولې.
د (خاودا) لرغونی لغت په پښتو کې تر اوسه د (خول) او (خود) په شکل زغرينې خولۍ، يا شاهي تاج دپاره شهرت لري.
(پارادريا) سوغديانه او سوګديانه د تاشکند او سمرکند د ځمکو دپاره په جغرافيائي مصطلحاتو کې اوس هم رواج لري.
(پارا) هماغه د پښتو (پورې) دی (ددينه ورپورې) دا معنی لري چه دا خلک د امو دریاب د پورې غاړې نه او همدارنګه د سوغديانې نه وروړاندې ځمکو کې خپاره وو، توره بحيره او کسپين د دغو ځمکو او حدودو څخه وړاندې وه چه تر دغو سيمو پورې دوی پراته وو. (۱)
(هوما- يا -سوما) په وړاندې تاريخ کې يو مشهور مشروب وو چه دا خلک ددغه مشروب يا څښاک په جوړولو په دنيا کې مشهور وو، ددې نامتو څښاک په بابت دا مشهوره وه چه خوندور، روغتيا ښښونکی او عمر اوږدوونکی دی.
•
مقدوني سکندر په دغه شرابو پسې له يونانه راوخوځيد او د افغانستان په تنګو، تيرو او مهيبو درو کې يې د زرګونو يوناني زلميو په قربانۍ ځان بخدي يعنی باختر ته ورساوه،

چه سکندر ظلمات او آب حیات د شرق په ادبیاتو کې او (سکندر او رخشانه) زمونږ په روایاتو کې له خولو څخه خولو ته درومي او له یوه نه بل ته نقلیږي.

ځنباک، یا ځنبار: چه عربي مؤرخینو ورته اشاره کړې ده، له ځنبا، یا ځنبا څخه جوړ شوی بریښي، دا هم د ځنبلو، یا د ځبینبلو په مناسبت د (هوما، سوما) د جوړولو په لحاظ ورته ویل شوي دي. (۲)

سګزي، سګه ها: ایراني تحریفات دي چه د ساک په کلمه کې یې کړي دي.

سهاکزی: د معاصرې پښتو د لهجې په اساس بدلون دی.

اسحاقزی: د ساکزی نه اسحاقزی جوړول د بعدالاسلام د تصور له مخې په خپله پښتنو کړي دي، ضحاک د عربو

(۱) یعنی د خزر، کسپین او توري بحیرې پورې ساکا قومونه پراته وو، په وروسته کتاب کې دا مسئله د مختلفو اسنادو له مخه ثابتیږي. (خادم)

(۲) عربو مشهور سهاک د غوریانو، سوریانو نیکه ضحاک کړی دی او بیا ایراني تخیلاتو ورته ((ضحاک)) ماران جوړ کړی دی. وایې چه پښتون سهاک او عربي ضحاک بهل، بهل نومونه او اشخاص دي، دا د عربي مؤرخینو سهوه ده چه سامي ضحاک یې د اریایي سهاک سره یو شی ګڼلی دی. د اریائي سهاک اصلي نوم د عربو د ثقه د مؤرخینو له قوله په دې ډول و: چه دده د نامه د لومړي توري آواز د عربي (س، ز) ترمنځ ادا کېده. عربو دا توری په (ض) بدل کړ او دده د نامه منځنی توری د عربي (خ، هـ) ترمنځ ادا کېده، عربو دا په (ح) بدل کړ او دده د نامه اخري توری د عربي (ک) او فارسي (ګ) ترمنځ ادا کېده چه عربو دا توری په (ک) بدل کړ. دا تحقیق له طبري، ابن شراد، ابن خلدون څخه اخیستل شوی دی، رجوع دې وشي، زمونږ قلمي کتاب (نوې لار) کې د پښتنو د تاریخ د اساسي څېړنې دریمې مکالمې ته. (خادم)

تحریف دی (۱) خینو لیکوالو ساک یا اسکائي د (ساس) په نامه هم یاد کړي دي (۲) چه که ساس جمع شي ساسان به شي او که ساسان پوري نسبتي (ی) ملحقه شي ، (ساساني) بـه تـري جـوړ شـي او کـه دغـه منسـوب اسـم جمـع شـي (ساسانیان) به شي .

(سـاک) یـا (اسـکائي) د (سـیتی) قـام لویـه پښـه ده ، چـه د چین پـه قـدیمو ماخـذو کـې پـه (سـیت) ، (سـیک) او (سـی وانـګ) هـم یـاده شـوې ده ، موسـیورونه ګروسـه نـامتو مستشرق وایي : ((ساک ، یا ساس قـوم د کاشغر پـه منطقـه کې د تیـان شـان د غرونـو پـه لمنو ، فرغـانې او دایګزارتس (سردریا) په ښیٔ غاړه د اورال د بحیرې پوري پروت ؤ )) . سیتي عام نوم دی ، په دې کې تخاري ، کوشاني او سکائي تړل راځي . (۳)

(۱) له سهاک ضحاک او له ضحاکه "ضحاک ماران" افسانه جوړل عربو او ایرانیانو کړي دي ، هو ، په عربو کې کوم شخص د ضحاک په نامه بادشاه تېر شوی دی ، وروسته په عربو د عربي ضحاک او پښتون سهاک فرق شوی دی ، په دې اشتباه کې ایرانیان هم لویدلي دي او هر کله چه پښتون سهاک جمشید وژلی او بادشاهي یې تر ې تیولې ده او بیا فریدون سهاک وژلی دی ، نو د سهاک د قوت او هیبت پـه تصـور ورتـه ضحاک ماران او اژدها ویل شوی دی . (خادم)

(۲) د احمد علی کهزاد د (افغانستان در پرتو تاریخ کتاب ، د کابل طبع ، ۳۰ مخ ۲۵-۲۲ کرښه) .

(۳) افغانستان در پرتو تاریخ ص ۱۲۲-۱۲۳ .

۱۰

## د ساکو د کولتور او عاداتو په باب

مؤرخینو لیکلي دي چه دوی به ږیرې پرېښوې ، ددوی تېرې څوکې خولۍ غوړ پوتې وې ، پراخ کمیس پرتوګ یې اغوستل ، اس ، غشي ، لیندۍ یې دائمي ملګري وو او د یوه ګرځند ښار په ډول یې کراچۍ لرلې . (۱)

د غوړ پوتو خولیو ، پراخ کمیس پرتوګ نمونې لاتر اوسه په کندهار کې لیدل کېږي (۲) د اسونو رواج د بلخ د شاوخوا سیمو په خلکو او سلیمانخېلو کې ټینګ دی ، پیش قوزې او تبرونه ګرځول لاتر اوسه پښتنو نه دي پرېښي البته د غشو او لیندو ځای تمانچو او ټوپکو نیولی دی .

---

(۱) غبار ، ظفر کاکا خېل او دوست شینواری .

(۲) د آزاد کمیس پرتوګ نمونې تقریباً په ټولو پښتنو کې لاتر اوسه شته .

## سهاک قومونه

د نوي لاړ د تاريخ په دريمه مکالمه کې (۱) مو ليکلي دي چه شهاب الدين غوري په څلورم پښت کې (سام) ته رسيږي او په لسم کې (سوري) ته په دولسم کې (ملک شنسب) او په څلويښتم کې (سهاک ملک) ته ور رسي، مګر دا يو تاريخي روايت دی (۴۴) پښته که هر پښت په (۳۰) کالو ومنل شي او له شهاب الدين غوري څخه تر اوسه اوه سوه کاله هم (۲۱) پښته وګڼو، نو (۲۱+۴۴ = ۶۵) پنځه شپېته پښته کېږي، که ديرش په پنځو شپېتو کې ضرب کړو نو (۱۹۵۰) به شي چه دا ډېره لږه موده ده.

څکه لکه چه مؤرخينو ثبت کړې ده د ملک سهاک او جمشيد بادشاه ترمنځ مجادله او مبارزه اوشوه او جمشيد د باختر له سيمې د ايران د سيمې پر خوا چه هغه وخت دواړه سيمې يو دولت ؤ، ماتې وکړه او په تېښته کې مړ شو، نو د جمشيد عصر خو له پنځو زرو کالو څخه لنډ تاريخ نه لري، نو رښتيانې خبره هغه معلومېږي چه يو انګريز مستشرق "لين پول" ليکلي ده، دی په خپل کتاب (طبقات سلاطين) کې وايي:

---

(۱) نوي لاړ د مؤلف يو کتاب دی چه لا نه دی چاپ شوی هلته د پښتنو د تاريخ په باب څو مفصلې مکالمې شته. (خادم)

"له ډېرو پخوانو زمانو څخه چه تاريخ يې نه شي محدودولی په غور کې يوې کورنۍ حکومت لاره چه د اسلام په اوائلو کې همددې کورنۍ مستقل حکومت ومنل شو".

ددې اسنادو او روایاتو له مخې غوریان چه د شنسب کورنۍ ده او سوریان چه له اسلامه مخکې سور ته منسوب دي دا ټول سهاک دي مګر سهاک خو نور هم ډېر دي مدعا دا ده (شنب) چه وایې د (شین اسپ) له کلمې جوړ شوی لفظ دی او د پخوانۍ اسپه کورنۍ په مناسب ساتل شوی دی د اسلامي عصر شخص دی ، ولې (سور) نامي شخص چه وروسته بیا سوري کورنۍ ورته منسوبه شوېده . له شنسباني کورنۍ څخه مخکې او د قبل الاسلام د عصر سړی دی.

سور د (سرخ) په معنی نمر ته ویل کېدو ، ځکه چه نمر سور دی ، د اسلام نه مخکې ځینې متنو د لمر د رب النوع چه ډېر مخکې یې په بابلي عصر کې (شوماش) هم باله عبادت کاوه ، لکه چه د زریني ټولواکمنی په قصه کې چه وروسته راځي ، دا مدعا ښه واضحه کېږي چه ساکو هم د لمر عبادت کاوه *

---

* په پښتو کې د افتاب دپاره د نمر کلمه موجوده ده ، نمر د (نه مر) حی و قیوم ، ازلي او ابدي معنی لري . (لمر ، مېر ، مهر ، هور او خور) کلمې لکه چه وروسته وي ، د خور نه خورشید کلمه جوړه شوې ده . (خادم)

او شاوماش اوس هم د کونړ د مزار درې په سرپورې ، د سُتن او چلس ترمنځ یوه سیمه او ولس دی چه په داردي سلسله کې ځانته ژبه لري ، داردیان باختریان او د پښت له کورنۍ څخه دي ، نه دا چه تاجک دي او دا ادعا د شوماشتي ژبې او پښتو د مقایسې څخه ښه ثابتېږي، لکه چه دا کار د مسکو اکاډیمۍ کړی دی او دوست شینواري د کابل مجلې په ( ۲۳۷ ) ګڼه کې ترجمه کړی دی . ( خادم )

# دله زاک

ډېره موده مخکې به ما په تاریخونو کې د (دله زاک) نوم لوست او له پښتنو څخه به مې اورېدو ، خو نه پوهېدم چه دا خلق څوک دي ، آخر را ته معلومه شوه چه دله زاک سوچه پښتانه وو او دي ، دا هغه قوم دی چه له غوري مرغي څخه د یوسفزو له مهاجرته مخکې د پېښور په سیمه پروت ؤ ، کوم وخت چه یوسفزو او نورو پښتنو قومونو د مرزا الغ بیگ د حکومت په وخت کې پېښور ته مهاجرت وکړ (۱) نو دله زاکو د دوی ښه استقبال وکړ او په خپله سیمه یې د ورونو غوندې ځای ورکړ خو د زماني پېر ددې قومونو ترمنځ مخالفت پیدا کړ چه پس له خونړیو جنگونو دله زاکو ماتې وکړه او له اباسینده پوري یوتل ، د پېښور سیمه یوسفزو او د هغو ملگرو قومونو ته پاتې شوه ، دله زاک له اباسینده پورې غاړه د چچ هزارې په سیمه کې د کشمیر ، کاغان ، لاهور او ملتانه پوري خپاره شول ، دغلته لا د ځینو ژبه اوس هم پښتو پاتې شوې ده ، خو د ډېرو ژبه اووښتې ده .

په ۱۳۴۳ هـ ش کې چه زه په یوه افغاني ډله کې دباره گلیځ سیمینار ته تللی وم ، ومولیدل چه ددغه ځای په ځنگلي سیمه کې یو ځانته قام ودان دی چه ژبه یې هم څه علیحده غوندې ده .

## ۱۵

# ـ ما يوه ورځ د يوه سړي سره چه د ځنګله د لرګو کار يې کاوه

(۱) د مرزا الغبيګ حکومت او د يوسفزو مهاجرت :

په درانو کې د يوسفزو شمېر ډېر زيات ؤ ، ددوی د ملک حدود داد ي ، شمال غرب ته يې د اتمانخېلو غرونه ، شمال ته يې د ايندوکوښ غر ، شرق ته يې اباسيند او ورنه ښکته علاقې جنوب ته يې د کابل سيند ، غرب ته يې اشنغر دی .

د يوسفزي نه اول شجره پرېدوه ښاخونو بېلېږي ، يوسفزي۱ ، مندړ۲ يعنې منډري ورور دي يوسفزي په دغه ملک کې چه وښودل شو له څلور سوو کالو څخه پراته دي ، دا خلک اول په ګاروانوشکي کې چه د سيستان د لوط د دشتې په څنډه کې دی آباد وو .

يوسفزي په اصل کې دپښتنو د (خوښې ، خښي ، ښخي ، AXAY قام يوه پښنه ده چه ددوی قام نورې قبيلې ګيګياني ، ترکاني او مهمنزي دي ، قريباً د ۱۳۰۰ م په حدود کې دا څلور واړه قبيلې نورو قومونو له خپلې علاقې وشړل ، څه لاړل خراسان ته او څه راغلل د کابل د جنوب په خوا و شا کې پريوتل ، دلته يوسفزو ډېر زر ، قوت نفوذ او رسوخ پيدا کړ .

مرزا الغ بيګ د مرزا ابو سعيد زوی چه د تيمور ګرګاني له اولاده او د بابر شاه تره وو ، د کابل د تخت نيولو دپاره له دوی څخه کومک وغوښت ، په کابل باندې له ډېري مودې څخه د تيمور د اولاد حکومت ؤ ، خو د ابوسعيد مرزا له مرګه وروسته د کابل بادشاهي ددوی له لاسه تللې وه ، يوسفزو مرزا الغ بيګ په تخت کېنيسينولو ، ميرزا الغ بيګ خو په اوله کې يوسفزي ونازول او انعامونه يې ورکړل خو وروسته چه ټينګ شو او له ماوراالنهره ورته ډېر مغول راغلل نو د يوسفزو آزاد طبيعت او قومي قدرت څخه ودار شو نو د بلا نه د ځان خلاصولو دپاره يې اول د يوسفزو او ګيګيانو ترمنځ د اختلاف کوښش وکړ چه دا کار ونه شو نو ناڅاپه يې په يوسفزو حمله وکړه خو په جنګ کې مرزا مات شو ، خو د صلحې په يوه جرګه کې يې د يوسفزو ټول مشران ونيول او له تېغه يې تېر کړل ، دغه وخت ددوی مشران شيخ ملي او ملک احمد وو .

دا مهال لغمان د ترکانيو په لاس کې وو ، مګر ننګرهار ، د پېښور ټوله علاقه ، دچچ ، هزارې او ددېنه نمر خاته تر جهلمه دا ځمکه د دله زاکو پښتنو په لاس کې وه ، د سوات بادشاهي د سلطان اويس سره وه .

يوسفزي لومړی د دله زاکو ميلمانه وو او بيا مخالف شول ، په دې وخت کې يوسفزي د وريسې خلکو په راتګ ډېر شوي وو ، نو د باجوړ ځمکه يې له دله زاکو په زور واخسته ، وروسته د ډېرو جنګونو په اثر دله زاک له اباسينده پور پريوتل ، سلطان اويس هم مغلوب شو او ځمکه يې يوسفزو ونيوله .

* کوم وخت چه مرزا الغ بيګ مړ شو ، لائق خلف يې نه درلود ، نو بابر په کابل برې ومونده .

(د پښتنو تاريخ رومبی جلد قاضي عطاء الله ، ۲۲ – ۲۴ مخ)

په اردو ژبه خبرې شروع کړې ، ده راته په ماته ګوډه اردو
جواب راکاوه ، ما ورته وویل کاکا تاسو په قام څوک
یاست؟ ده راته وویل : "کاړلاڼ" زه پوه شوم چه کاړلاڼ د "
کرلاڼ" یو وران شکل دی ، کرلاڼي د پښتنو یو لوی ټبر دی
، چه خټک ، شیټک (۱) مروت ، منګل ، ځدران او نور
ډېر قومونه ورته منسوب دي او دله زاک هم په کرلاڼو کې
راځي (۲) د ښکلې شهۍ (تور دلی مئین) هم ددله زاکو یو
پیمخې بهادر ځوان ؤ چه قصه یې ډېره مشهوره ده .
د کاکا په جواب د پښتون قام په وران ویجاړ حال زما په
سترګو کې تودې اوښکې وګرځېدې ، چه د بې ورده ملګرو
له شرمه مې دروني ته واچولې .
له دغو جګړو او جنګونو وروسته دله زاک لفظ د یوسفزو

---

(۱) خټک او شیټک د یوه لغت دوه لهجې بریښي ، څکه چه د (خ ، ش) لهجوي اختلاف تر اوسه په پښتو لغاتو کې په پراخه اندازه لیدل کېږي — او له (شیټک) څخه په اسانۍ کسره (سیټي) فکر ته راځي ، چه د سهاکو د تاریخي نومونو له جملې څخه دي .

(۲) خوشحال خان وایي :

"پښتون په اصل کې سړبني دی
یا غورغښـــی دی یا بټني دی
لودي غلجي دی د بیټ له نوره
په سړبن پورې بیا کرلاڼي دی"

مدعا یې دا ده چه پښتانه چه دا بیا په دوه قسمه دی ، د خپلوۍ له درکه لکه لودیان او غلجیان او د ګوندۍ او ډلیست له مخې لکه کرلاڼي قومونه ، نو ددینه دا نتیجه لاس ته راځي*

په محاوره کې د کنځاؤ ځای ونیسو ، دوی وایې : دله ، دؤسه، دله زاکه) . په دغه شان دله زاک لوی قام د پښتنو له تاریخ او حافظو څخه ولوید ، مګر روغه او سمه خبره دا ده چه دله زاک ولې په اصل کې (ډله سهاک) او دا قام سهاک دی ! .

* چه کرلاڼي پښتانه قومونه د (کیس) له پښتنه نه دي ، بلکه وروستیو مؤرخینو ورپوري ملحق ګنلي دي ، کرلاڼي چه اوسني پښتانه یې کرړه بولي ځښت ډېر دی ، نو ګویا د تاریخ بنیاد په دوی پوري اړه لري او دوی سهاک دي دا بله خبره چه (کیسان) هم کاسیان دي او کاسیاڼ سهاک دي ، دا به په همدې کتاب کې وروسته راشي . (خادم)

## په موجوده پښتنو کې سهاک قومونه

اوس بـه راشـو دېتـه چـه د پښـتنو پـه موجـوده قومونـو کـې څوک، څوک په سهاکو کې ګڼل کېږي؟ پـه دې بـاب کـې چـه مـا کـوم معلومـات کـړي دي ، د هغـو لـه مخـې د سـوريانو غوريانو ، لوديانو او دله زاکو څخه پرته د کوسين توتاخېل ، موسـى خېـل ، کونـدر خېـل دوزبـين ، ميرعلـي خېـل ، دپغمان او ميدان اوريا خېـل ، ابراهيم خېل او ګدائي خېل او همدارنګه د کـامې ابراهيم خېـل ، د سره رود خـدرخېل کوچان ، د مکرر کلګر د غزني اندړ او په يوه روايت د کابـل تره خېل ، په سهاکو ګډېږي ، دا خو واړه ، واړه قومونه دي مثلاً توتاخېل او ايدوخېل په ګرديز کـې هم شـته ، ابـراهيم خېل په پغمان کې هم مېشته دي ، له کوموسپين ږيرو څخـه چه ما دا پوښتنې کړې دي ، هغو ويل چه د زابل او کندهار توخي او هوتک هم د سهاکو له جملې څخه دي .

د کابل د شيوکيو بر سر ته د سهاکو لوی کلی شـته چـه ډېـر لرغوني معلومېږي او همدغلتـه د غزنيو غونډيو دپاسـه د لرغونو ودانيو نښې نښانې هم ليدل کېږي ، چه اټکل کېږي د سهاکو اصلي کلی به دا ؤ وروسته به دغره لمنې ته راغلي وي .

د پښتنو په موجوده قومونو کې يو لـوی قـام د اسـحاقزی پـه نامه موجود دی ، چه په اصل کې دا کلمه (سـهاکزی) ده او

دغه شان په خپله سهاکزي هم شته ، دغه قومونه د سهاک نه سهاکزي شوي دي .

په فارسي تاريخونو کې چه (سګزي) او (سګه ها) ليدل کېږي ، د دغو نه هم مراد سهاک دی .

دا خبرې روايتي شکل لري ، البته روايات د تاريخ بنسټ دی .

خو علمي صورت به يې هغه وي چه ټول پښتانه قومونه او پښتنې سيمې له نوي سره څخه سروې شي او د پخوانو ليکل شويو کلاسيکو معلوماتو سره موازنه ، مقائسه او پرتله شي ، خو دا کار بي له دولتي توجه څخه ډېر مشکل اوناشونی دی ، خو بيا هم له دغو معلوماتو څخه دا نتيجه لاس ته راځي چه تاريخي سهاک په بڼه تر اوسه هم د ډېرو لويو قومونو په شکل په پښتني دنيا کې شته !

ډېره مشهوره شوه ، تر دې چه د آمو پورته علاقې د دوی په نامه تخار یا تخارستان مسمی شوې او کله هم ټول یوچي قام د تخار په نامه یاد شوی دی (۳) .

(۳) تر دې ځایه د غبار له کتابه اخستنه ده ، د تخار او یوچیانو یو والی واضح دلالت کوي چه په دواړو کې که قبیلوي فرق وي ، نو شک نه لري ، مگر بېل ، بېل قومونه نه دي ، دا بله خبره چه له کوچیانو څخه کوشانیان او کوشاني امپراطور جوړه شوه ، دا به همدې کتاب کې وروسته هم راشي ، نو په دې حساب کوشانیان ، تخاریان او یوچیان د یوه قام بناخونه دي او د ساکو په لویه کورنۍ ورگاه یږي . (خادم)

# ساک څنګه پیدا شول ؟

هیرودت په خپل تاریخ کې د ساکو پیدا ایښت په اړه داسې بیانوي: " ساکان وایي : زمونږ هیواد وچ ډاګ ؤ ، لومړئ زل په کې د ترګیتای په نامه یو سړی پیدا شو ، چه پلار یې اسمان او مور یې د سیند لور ده ، د هغه دري زامن وشول ، چه مشر یې ( لوراکزی ) منځنی یې ( اریوکزی ) او کشر یې ( کولکزی ) نومېدل . ددوی په وخت کې ددوی په ځمکه طلائي شیان اوریدل * دا شیان ( مېوه ، تسبکوره او کاسه ) وو ، دوی چه دغه څیزونه ولیدل ، مشر ورور یې ور ورانډې شو چه راوائي خلې ، خو طلائي څیزونه د اور په سره لمبه بدل شول . هغه ورنه بېرته راستون شو ، په دې کې منځنی ورغی ، د هغه سره هم دا پېښه تکراره شوه . په آخره کې کشر ورنږدې شو ، هغه دا اسباب راواخیستل مشران ورونه په دې معجزه پوه شول او ټوله پاچاهي یې ور پرېښوده " . د سیسل اوسیدونکی ( د یو دور ) مورخ چه د ق م په لومړۍ پېړۍ کې تېر شوی دی ، هغه هم همدغه افسانه په لږ شه تفاوت ذکر کړی دی .

---

* د جمشید په باب هم دغسې یو روایت شته چه هغه ته له اسمانه ځینې شیان را ولوېدل چه په هغو کې همسا ، سپاره او جام وه ، د سوغدیانې د سومیریانو ګئومرت چه عربو کیومرث کړی دی چه د غوائي او انسان په صورت یې مجسمه موندل شوېده ، د سپین نژاد بابا ادم دی ، چینیان وایي په چین کې اول یو سړی پیدا شو پانګو نومېدو ، د هغه نه دا نور خلک پیدا شول . ق - خادم

# د ساکو مهاجرتونه

مخکې مو وويل چه د ساکو اصلي وطن د ايندوکوښ لمنې او درې دي ، دا خلک ډېر پخوا دغلته پيدا او ډېر شول ، د ميلاد نه نژدې زر کاله لومړی ددغو خلکو يو زيات شمېر کوچيان له خپل هستوګنځي څخه د شمال لور ته ولېږد بدل (۱) او د تورې بحيرې له غاړو څخه د چين د سرحدونو پورې خپاره شول.

د ساکو يو څه قبائل او قومونه د چين د سرحد کانسو څخه د "تراس" او "يونت" د علاقې پورې په دغه منځ کې درې پېړۍ ځای پر ځای پاته شول (۲) مګر بله ځانګه يې د مرکزي آريايانو ، يعنې باختريانو ، پارفسيانو ، سوغديانو ،

(۱) د ساکو زيات شمېر کوچيان د ميلاد نه زر کاله پخوا له خپل هستوګنځي څخه د شمال لور ته ولېږد بدل ، دا عبارت تر دې ځايه چه د ساکو يو څه قبائلو او قومونه د چين د سرحد کانسو څخه د تراس او يونت د علاقې پورې په دغه خمکه درې پېړۍ ځای په ځای پاته شول ، په صراحت دلالت کوي چه د ساکو پښتانه قومونه چين ته تللي دي نه دا چه مثلاً يوچيان چينايان وو او له چينه افغانستان ته راکوچيدلي دي ، زه نه پوهېږم چه که د نورو پښتانه خوښ نه دي او تاريخ يې وړانوي ، خو دا کار توجيهات لري ، مګر دا چه پښتانه ولې فکر نه کوي او تراوسه له چين او چيني ترکستان څخه بېرته راغلي پښتانه چينيان يا مغول ګڼي له حيرت او استعجاب نه ډکه خبره ده ، تاريخ په صراحت سره وايي چه د ساکو اصلي خمکه د ايندوکوښ لمنې دي او له دې ځايه خيني ساک په کوچې ډول د چين له سرحدو تېر شول او درې سوه کاله په چين کې پاته شول او همدغه ساکي قبائل د هوناتو د مخالفت په وجه د يوه مليون په تعداد د افغانستان و لور ته را وکوچيدل چه تخاري او کوشاني امپراطوري يې جوړې کړې ، مګر بيا هم لا د دغه بېرته راکوچېدلي ساکي قومونو په پښتونولۍ کې شک کېږي . (خادم).

(۲) د بناغلي غبار کتاب (افغانستان بيک نظر).

خوارزميانو او نورو سره په خپل اصلي هېواد کې پاتې شول (۱) او د غـه شان دغـه قبايـل پـه منځنـي اسـيا او چينـي ترکستان کې مېشته شول .

داسې معلومېږي چه د قبل الميلاد په دريمه پېړۍ کې د ساکو يوې ډلې يا ددوی خپلوانو يعنې د تخاريانو يوې قبيلـې (۲) پـه باختر ، درنگيسـان (يعنـي سيسـتان) او اراخوزيا (يعنې کندهار) په سيمو خپل واک ټينګ کړ او له هغې وروسته يې د خپلې واکمنۍ لمن د هند شمال لويديځ ته ورغځوله (۳).

کوم وخت چه ساکانو د هيلمند او هامون وادۍ ته مخه وکړه او هلتـه ودان شـول ، نو دغـه سيمه ددوی پـه خپـل نامـه ساکستانه ، وبلل شوه چه نن يې سيستان بولي ، د تاريم د سيند په شمال او د کاشکار د لويديځ په لويه سيمه کې د ساکو موجوديت لـه چيني تاريخي منابعو څخه هم تائيد کېږي .

---

(۱) معنې يې دا ده چه د خپلو ورونو سره د خپل پلار په مينه ټينګه شول ، وروسته دا خبره راځي چه مرکزي آريايان او ساک يو شی دی يعنې دغه قومونه په دغه وخت کې مرکزي آريايان حسابېدل . (خادم)

(۲) د سـاکو يـوې ډلـې يـا ددوی خپلوانـو: دا عبـارت دلالـت کـوي چـه تخاريـان ساک دي . (خادم)

(۳) تر دې ځای پورې د ښاغلي غبار له کتابه اخستنه ده . (خادم)

تاریخي اسناد شاهدي لري چه له پښتونخوا څخه د ساکو مهاجرت د هند و لور ته په میلادي زرکالو کې شوی دی او د سند په وادي کې ترې د ساکو موجودیت ثابتیږي .

د سلیمان له غرونو اود (خاب) د سیندۍ له غارو څخه چه دا سیند د معاصرې کراچۍ د جنوب په پنځوس کیلو مترۍ کې شط العرب ته ورلویږي ، له دغو بریدونو د باختري او په دغه جمله کې د ساکي قبائلو نفوذ د هند په لور احتمالاً د ق م د زرو کلونو په لومړي نیمائي کې شروع شوی دی .

د ارکیالوجیکي پلټنو څخه لاس ته راغلي اسناد ښئي چه ساک به د پامیر نه د ق م په اوومه شپږمه پیړۍ کې کوچیدل او له هغو ځایو څخه به یې د هند په شمالي بریدونو کې نفوذ کاوه .

د ختیځ پامیر په هغو هدیرو کې چه د ساکو د ق م د پنځمې، څلورمې پیړۍ پورې اړه لري ، په دغو کې چه کوم هندي الات او شیان لاس ته راغلي دي ، ددې مطلب اثبات کوي چه تر دې نیټې لا هېر پخوا د هند د سیمې اوسیدونکو او د باختري قبائلو او د هغو په جمله کې د ساکو سره مخامخ تماسونه موجود وو* .

---

* د کابل مجله ۲۲۰ گڼه د ښاغلي دوست شنواري ترجمه له روسي منابعو څخه .

# د ساکو واکمني او مرکزونه

مرکزونه : د قبل المیعاد * د زرو کلونو په نیمائي کې د پامیر او هغه ته ور څېرمه سیمو اوسیدونکو ساکو " یوه باختري مرکزي اریائي ټولنه " جوړه کړه چه په یوه واحد کولتور بنا وه (١) داسې تصور کېږي چه د دغو ساکو یووالی به د هغو ساکو سره هم ؤ چه د دارا په " نقش رستم " کې د ساکاهاوماورګه : د هوما جوړوونکی ساک " او په نورو کتیبو کې په داسې نورو نومونو یاد شوي دي ، همدغه ساک * هیرودوت د (امورګی سکیفیانو) په نامه یاد کړی دی او هستوګنځی یې ورته د سکیفی قبائلو جنوب ختیزو سیمو کې ښودلی دی ، هیرودوت په دې باب دا هم وایې چه سکیفیانو به ساک د (امورګی سکیفیانو په خاص نامه) یادول (٢)

---

* په لومړي چاپي نسخه کې هم قبل المیعاد چاپ شوی دی ، خو زه فکر کووم دا چاپې تېروتنه ده او په اصل کې قبل المیلاد دی . (روښان خادم)

* همدغه ساک : یعنی ساکه ها و ما ورګه قبیله هیرودوت د امورګي سکیفیانو په نامه یاد کړي دي ، د سکیفیانو جنوب ختیځي سیمې شط العرب ته نږدې حدود معلومېږي » .

(١) وقت په کار دی ، بې له واحد کولتوره متمرکزه جامعه نه جوړېږي ، دوه نیم زره کاله مخکې لازمونږ خلک په دې حقیقت پوهېدل چه نن ورته غافل دي

(٢) له پورته عباراتو څخه په وضاحت سره دا مدعا لاس ته راځي چه د پامیر او له ده څخه ور ها پلو ساکو او د سکیفیانو ترمنځ اتحاد موجود ؤ . یعنی ساک د پامیر له حدودو څخه د فارس د خلیج پورې په دغه سیمه کې آباد وو . د هیرودوت له عباراتو دا هم څرګندېږي چه (ساک ، سکیفیان او امورګي سکیفیان) یو قام دی .

د هیرودوت له عباراتو دا هم استنباط کېږي چه (امورګی سکیفیان، چه د (سکیفیانو او ساکو) دریمه قبیله ده او یا دا چه د سکیفیانو په خوله ټول ساک امورګي سکیفیان وو. خادم

د ستـرابون د روايـت لـه مخې ( سـاک ) د هغـو وګړو نوم ؤ چـه د سـکيف پـه بيخـی ختـيځ کـې پراتـه وو ، د مؤرخينو پـه خيـال د " سـاکاها وماورګه " پـه کونفيدراسيون کې پرته لـه بـاختري قبـائلو ( اقوامو ) هغه غير باختري بومي قبائل هم داخل وو چـه د جنـوبي پـامير او د اينـدوکوښ د ختـيځ پـه سـيمو کـې د سـاکو د راتګـه پخـوا دغلتـه اوسـيدل ، پـه دغـه موضـوع انتروپولوژيـک او ارکيالوژيک مواد هم شهادت وايې او هم يې د لرغونو مؤرخينو په اثارو کې څرک ليدل کېږي .

د ساکو پـه هېـواد کـې د اوسـيدونکو قبـائلو پـه لـړ کـې پتـوليمي نومې مـورخ د بيلـت : BILT نـومې قبيلـې ذکـر هـم کـوي ، چـه د بيلت نوم د بالتسـتان د نوم سره هم ربـط لـري چـه د اوسيدونکو ډېرى يـې ( دارديـان) دي او وروسـتـه يـې د سـاکو ژبـه او کولتـور منلي او ساک شوي دي . (۱)

---

دا لاندې دوه يادګيرنې دې په غور ولوستل شي : - اول له دې عباراتو دا مطلب په لاس راځي (۱) قوميت او مليت په ژبواو کولتور اړه لري نه په بل څه (۲) دارديان د پامير او ايندوکوښ په لمنو کې د نورو بومي قومونو سره له ډېر پخوا څخه پراته دي (۳) دارديان تاجک نه دي که وي ، نو ساک او پښتانه دي (۴) د پښتنو دا تلقي بيخي سمه ده چه قوميت يوازې په نژاد او وينه اړه نه لري ، بلکه د خپلوئ او ګونديئ له درکه هم چه څوک په چا وتړل شي دا هم له هغو ګڼل کېږي . (خادم) . --- دويمه. که دا د سترابون روايت په غور ولوستل شي دا هم ترې لاس ته راځي (۱) د پامير له حدودو څخه د فارس د خليج پورې يو کونفيدراسيون موجود وو چه د ساکاها درګه کونفيدراسيون يې باله (۲) نورستان ، پشئي او چترالي قومونه دارديان دي (۳) دغه داردي قومونه دي څمکو ته د درې زرو کالو نه پخوا راغلي دي په دغو کې څينې بومي او غير باختري قبيلې هم وې (۴) دغو قومونو د ساکو لـه راتګه وروسـتـه ساکي ژبه او کولتورمنلى دى لکه چه مقايسوي فيلالوجي ددې خبرې اثبات کوي (۵) په موجوده حال کې چه پخواني کولتور په ساکي کولتور بدل شوى او دغه تولـه داردي ساحه د ساکي او بيا د پښت په کولتور کې رنګ شوي دي دوى ته به تاجک ويل لوى ظلم وي . خادم

# د ساکو لویه واکمني

لکه چه وویل شوه د ق م د زرو کالو په نیمائي کې ، ساکي قومونه د " مس ساکیت " MASS SAKIT یعنی د لوی ساک په نامه یوه لویه اتحادیه جوړه کړې ده . (۱) ، دوی وروسته د جنوب خواته نفوذ وکساوه او بیا یې (پارفیانا:پارتیا) او د (ګریکو باختر : یونانو باختري) سیمو تر قلمروه پورې د واکمنۍ احاطه پراخه کړه ، د جنوب خواته ددغو یرغلونو او فشار عامل غالباً د هغو ترکانو (مغولو) زور ؤ چه ګون یې بلل (۲) او دوی یې د جنوب وخواته تیل وهل ، د ق م د زرو کلونو په لومړي نیمائي کې دغو ترکانو په هغو ساکي او مس ساکي قومونو سخت

---

(۱) د مخکې عنوان لاندې راغلي دي ، د ساکاهاوماورګه په کنفیدراسیون کې پرته له باختري قبائلو هغه غیر باختري بومي قبائل هم داخل وو چه د جنوبي پامیر او ایندوکوش د ختیځ په سیمو کې د ساکو له راتګه پخوا دغلته موجود وو ) دلته مخکې وویل شول ، نه دغه عبارت مراد دی یعنی هغه کونفیدراسیون همدغه د (مس ساکیت) په نامه ؤ ، مس ساکیت د (مشرساک) په معنی تفسیر شوی دی .

(۲) راګون هماغه ترکي قبائل معلومېږي چه په همدې کتاب کې دهون په نامه یاد شوي دي او ددغو هونانو د حملو د فشار په سبب یو میلیون یوچیان ساک د چین له حدودو بیځایه او د غرب خواته په هجرت مجبور شول ، دا یوچي ساک دري سوه کاله د چین د کانسو په ولایت کې اوسیدل . ( خادم )

چپاوونه کول چه د (تیان شان) په ختیځو او شمالي سیمو کې د کوچانو په توګه میشته وو. (۱)
لکه چه مخکې اشاره وشوه چه په جنوب کې ساکو. پارفیایانو ته سخته ماتې ورکړه، نو د ایران ختیځو سیمو ته ورننوتل او دغه شان یې د رنګیان (سیستان) او د اوسني افغانستان لویدیځي سیمې ونیولې، پخواني (ساکستان) او اوسنی سیستان همدغه قام ته د نسبت په لحاظ تسمیه ده.

---

(۱) تر دې ځایه د بیروچین له کتابه اخستنه ده (د ساکو واکمني او مرکزونه) د ستر عنوان لاندې راغلي دي چه " د پامیر او هغه ته ورڅېرمه سیمو اوسیدونکو ساکو یوه مرکزي اریائي تولنه جوړه کړه چه په یوه واحد کولتور بنا وه) دغه په یوه واحد کولتور بنا مرکزي آریایي تولنه هماغه شی دی چه وروسته په همدغه عنوان کې ورته په (ساکاهاوماورګه کونفیدراسیون) تعبیر شوی دی، د دی لولې واکمنی تر عنوان لاندې بیروچین د مخکې عبارت توضیح کړی وایې (ګون ترکانو به په هغو ساکي او مس ساکي قومونو سخت چپاوونه کول چه د تیان شان په ختیځو او شمالي سیمو کې د کوچانو په توګه میشته وو) ددې عبارت نه د مس ساکیت د کونفیدراسیون اولني مراکز معلوم شول چه پامیر، تیان شان او ددغو سیمو مشرقي برخې دي (خ).

﴿۳۱﴾

## د قبل الميلاد د لومړۍ پېړۍ د نيمائي پوري د ساکو قومونو د نورو قومونو سره د اختلاط او فشار په واسطه په خپل قوت نه وو پاتې او کولتور يې ضعيف شوی و (۱)*

(۱)* مورخ په دې عبارت سره اشاره کوي چه د قوميت او مليت د بقا او تحفظ دپاره ضروري ده ، چه قوم او د قوم کولتور دې له اختلاط او ترکيب څخه وژغورل شي . د قومونو د مرګ لوی سبب دا دی چه د نورو قومونو سره ګډ او کولتور يې اروړه شي ، بس نو ورک شي او موجوديت بايلي ، په پښتنو همدا کار وشو ، مليونونه په هند او پاکستان او خراسان کې او داسې په نورو قومونو کې او دغه شان خپله په افغانستان کې د ژبې او د کولتور د نه ساتلو په وجه بدل او ورک شول ، چه ورک شي افتخارات او قوت يې هم له منځه ځي او د نورو د لاس لاندې کېږي ، نننې عصري قومونه د کولتور په اهميت ډېر ښه پوه دي ، ځکه چه هر يو د خپلې ژبې او کولتور په ساتلو سخت اصرار کوي . په نننيو عصري قومونو کې هيڅوک تر هغې نه شي منل کېدای چه څو يې کولتور ونه منې او ژبه يې زده نه کړي ، ډېرو قومونو په دې باب قوانين وضع کړي دي ، د مورخ له عبارته د پښتنو ددې عنعنوي عادت تائيد هم کېږي چه اصيل پښتانه د نورو بېګانه قومونو سره خپلوي نه کوي ، نه ورنه ښځې کوي او نه يې ورکوي . هو که په کولتور او پښتونولۍ يې بده اغيزه نه کېږي نو منع نه کوي .
* په هغه وخت کې ګندارا د ننګرهار، کندهار او خواو شا سيمې ګڼل کېدې او تيکسلا خو معلومه ده چه له اباسينده ورګښته د مارګلۍ د غره په شمالي څنډه کې شاهي مرکز و چه لرغوني آثار يې هملته په يوه موزيم کې غونډ شوي دي .
اغلباً د پښتنو لوی عالم پانيني د سنسکريت ګريمر همدغلته ليکلی دی چه اوس د هغه تمدن کنډوالې د تېر برم وير کوي . (خادم)

د ساکو د واکمنئ دوه مرکزونه پاتې وو ، يو يې د ګندارا په غرب کې او بل يې تيکسلا په شرق کې ؤ* دغه وخت د ساکو باچا "ماويس" نوميدلو چه د پنجاب په زياته برخه يې هم واک چليدلو ، په دغه وخت يعنې د ق م ، د لومړئ پيړئ په نيمائي کې چه ساکانو په ګندارا او تيکسلا کې دوه مرکزه جوړ کړي وو دا هغه ساک وو چه د پامير او تيان شان (۱) څخه د تخاريانو د فشار په سبب (چه د کاشک او زرافشان د سيندونو په حدودو کې يې له ورو ، ورو دولتونو لوی تخاري کونفيدراسيون جوړ کړی ؤ) د پامير په سختو لارو د کابل سيمې او د هند پاسنيو سيمو ته تېر شول او يو لړ نوې څمکې يې ونيولې .

(۱) پامير او تيان شان د ساکي قومونو د کونفيدراسيون لومړنی مرکز وو ، البته د غلته به واړه ، واړه دولتونه تاسيس شوي وو چه د ټولو نه بيا کونفدراسيون يا اتحاديه جوړه شوې وه ، پامير خو د افغانستان لوړه سطحه ده او تيان شان د پامير نه ور ها پلو څمکې دي چه هغه وخت په کښې د ډېره زمانه ساکان مستقر وو ، تخاري کونفيدراسيون ، دوهم کونفيدراسيون يا اتحادي دولت دی چه ساکانو تاسيس کړی ؤ محکې اثبات ته رسيدلی ده چه تخاريان ساک دي ، د ګندارا او تيکسلا مراکز هم يو اتحادي شکل لري چه دا دولت څلورموئ دولت دی څلورم اتحادي دولت يې هغه وو چه د پارقيانو يعنې پارتيانو د (پارتيا) په نامه د اوسني ايران په مشرق کې جوړ کړی ؤ چه پنځه سوه کاله يې دوام وکړ او څو څله يې د روما دولت ته ماتې ورکړې وه .

ددغو ساکو څه برخه يې په خپل تاتوبي پاتـه شول (۱) ښاغلی غبار ليکي چه "سکايانو د ارغنداو په ساحه کې يو مستقل حکومت جوړ کړ (۲) چه په جنوب کې د سند د کوزنۍ برخې پورې رسيدلی ؤ ، څکه نو دغه حصه په يوناني مآخذو کې (هندوسيتا) او په چيني مراجعو کې د (کی پن Kipin) په نامه ليکل شويده ، دا منطقه د ګندارا په ولايت نيم بلوچستان او د سند د کوزنۍ برخې پورې ځمکې احتوا کوي.

(۱) د کابل مجلې ۲۲۰ ګڼه د روسي منابعو په حواله.

(۲) په مخکې تاريخي روايت کې د ساکانو د پامير او تيان شان د کونفيدراسيون له کمزوري کېدو څخه ددوی دوه مرکزونه پاتې بنودل شوي وو : يو يې د ګندارا په غرب کې او بل يې تيکسلا په مشرق کې وو د (پاتې) له کلمې هم دا استنباط کېږي چه دا دواړه مراکز د لوی کنفيدراسيون په ولاياتو کې داخل وو ، بله خبره دا ده چه ددې شهنشاهۍ مرکز او پايتخت ارغنداو ؤ ، يا دا چه د ګندارا د ولايت اداري مرکز ارغنداو ؤ چه بادشاه به دوبې دلته او ژمی په تيکسلا کې تېراوه.

د کی پن لومړنی بادشاه (موکا) ؤ چه په سکو کې په لوی بادشاه یاد شوی دی. او زمانه یې ۷۲ ق م تاکل شوېده، داسې معلومېږي چه (موکا) د پېښور ولایت د ټیکسلا پورې نیولی ؤ، دوهم ئې (ازس) دی چه د ق م، د ۵۸ په حدودو کې تېر شوی دی، په همدغه نامه یو بل بادشاه د ق م، د ۴۰-۴۵ په شاوخوا کې ژوند کړی دی چه غالباً د اول زوی به وي.

ددې بادشاهانو سکې له مسو او سپینو زرو په خروشتي او یوناني لیک او پراکتریت ژبه د یونانو باختر د بادشاهانو په تقلید ضرب شوی دی یعنی دا چه طلائي سکې یې نه لرلې.

وايي چه کی پن گرمه هوا لرله ، غنم او وريجي په کې کېدلې ، باغونه يې لرل ، د خلکو صنعت مجسمې جوړول، کنده کاري ، فلز ، معماري ، نساجي ، خامه گنډنه او طباخي وه " . (+) (۱)

له بل پلوه د ق م په لومړۍ پېړۍ کې د پارفيانو د فشار له امله د ساکستان واکمنو د افغانستان ذ جنوب او بلوچستان د شمال له لارې د ختيځ خواته د منځني هند په لور هڅه وکړه او د هند په لانديني برخه کې گوجرات . کاتياوار اودغسې هم د هند نورو شمالي او لويديځو سيمو ته ورسيدل . (۲)

---

(+) د صنعت ، هوا او پيداوار له شرحې څرگندېږي چه کی پن ، کندهار او ارغنداو دی والله اعلم.

(۱) افغانستان ته ، يو نظر کتاب د هيون تسانگ په حواله .

(۲) د کابل مجله ۲۲۰ گڼه .



ـړۍ تر نيمائي پورې يې د لرغوني افغانستان
خاوره کې يوه لويه اتحاديه جوړه کړه .
) او بيا ئي د پارفيا (پارتيا) پلوته په ايرانيانو
ـاد ، او ، پارسوا) نومونو باندې پر يرغلونو پيل وکړ،
ـه مرغاؤ باختر او سوغد کې لوی تاريخي
والونه د تاريخي اسنادو په حيث دد غه عصر په جنگونو
دفاعي سنگرونو دلالت کوي.

﴿۳۷﴾

## دساکو مشاهیر او اتلان

**الف :**

ماویس : مخکې ووېل شول چه ماویس د ، ق-م د لومړۍ پېړۍ په نیمایي کې د ساکو بادشاه ؤ ، دا هغه وخت ؤ چه ساکو دوه حکومتي مرکزونه لرل ، یو په ګندارا او بل په ټیکسلا کې ؤ ، د ګندارا مرکز یې ارغنداو بریښي ، نو یا دا چه ارغنداو اصلي مرکز او د پښور سیمه چه ټیکسلا یې مرکز ؤ اشغالي سیمه وه (۱) یا دا چه دا دواړه مرکزه د یوه بادشاه د اوړي اود ژمي مرکزونه وو ، اغلباً (موکا) د ګندارا او سند او (ماویس) به د ټیکسلا او پنجاب بادشاه ؤ.

**ب :**

کله چه مونږ د لرغوني افغانستان تاریخ مطالعه کوو نو د ډېرو ساکي اتلانو سره اشنا کېږو ، ددغو له جملې څخه افسانوي هیرو ساکي ملکه (زرینه) هم ده چه د ق م د دوهمې پېړۍ له اخر څخه د شپږمې

---

(۱) د اشغال احتمال ځکه ضعیف دی چه د ارغنداو او ټیکسلا په سیمه کې اوسیدونکي خلک د یوه کولتور لرونکي معلوميږي ، تو یو قام به وي نو د ویه قام بادشاه په خپلو خلقو اشغالي حکومت څنګه کولی شی ؟ (خ)

﴿۳۸﴾

## زرینه ټولواکمنه

د ساکي اتلانو په ډله کې زرینه د مؤرخینو په اثارو کې ډېره زیاته یادېږي ، د هیرودوت د روایت له مخې د ساکو او فارسیانو په لومړۍ جګړه کې فارسیانو په ساکو چل وکړ او دوی ته یې په چل ماتې ورکړه او د ساکو د لښکر مشر "سپارګاتیس" چه د زرینې زوی ؤ فارسیانو ته په لاس ورغی ، زرینې دوی ته پیغام واستاوه چه که زوی مې ایله کړئ زه به درسره روغه وکړم ، په دې باب زرینې د فارسیانو واکمن (کیر) ته ولیکل " که ته دا کار ونه کړې ، د ساکو په خدای (لمر) لوړم چه زه به ستا تنده په وینو ماته کړم که څه هم ته موړ یې " ، خو فارسي واکمن پرواه ونکړه او سپارګاتیس یې ووژه . په دې وخت کې ساکو په فارسیانو له بل هر وخته زورور یرغل وکړ کیر واکمن په دې جګړه کې ووژل شو ، کوم وخت چه دمړو په جمله کې د کیر مړی ومونډل شو ، زرینې دده سر په هغه

کله چه تا زه ډېره خواشيني او له زويه دې محرومه کړم ، نو زه تا په وينو داسې مړوم لکه چه درته مې ويلي وو . (۱)

د يو دور مورخ چه د ق م په اوله پېړۍ کې يې ژوند کاوه ، روايتاً ساکي ملکي زرينې په باب ليکي : " د ساکو ښځې ډېرې زړورې دي ، دوی په ټولو جګړو کې د خپلو مېړونو سره ګډون کوي ، مګر زرينه د ساکو ټولو ښځو نه زياته زړوره وه ، هغې خپل ولس د ګاونډيو قومونو له غلامۍ څخه خلاص کړ ، ډېر ښارونه يې ودان کړل او د رعيت تکليفونه يې کم کړل .

د زرينې له مرګه وروسته ددې د يادګيرنې د لمانځنې په غرض ددې قوم ، په دې باندې لوی قبر د هرم په شکل جوړ کړ ، ساکو به د خپلو اتلانو په نسبت ددې زياته لمانځنه کوله . "

---

(۱) مؤرخينو د ساکو دغه ملکه چه د فارسيانو بادشاه يې وواژه او سر يې ورته د هسده د خپل قوم د وينو په ډک ژی کې وماتو ه چه وئې ځښه چه تنده يې ماته شي ( د توميريس يا تاميريس ) په نامه هم ياده کړېده او کير واکمن يې چه سرور نه د ساکو ملکې پريکسړ ، کوروش کبير ښودلی دی نو زرينه ملکه او ( توميريس : تاميريس ) همدارنګه د فارسيانو کير واکمن او ( کوروش کبير ) يو شي ښکاري او که ببل ، ببل وي نو هم دا خبره په ډاګ ده چه لوی کوروش ساکي پښتنو وژلی دی او دا هم ښکاره ده چه دغه کوروش په ختيځو ساکانو سخت يرغلونه او بريدونه پيل کړل ، ځکه نو د ساکو ملکه دده سرته وايي : وځښه دا انساني ويني چه تنده دې ماته شي ، " اې د وينو تږيسه! متعرضه! جابره! ظالمه !!!" همدغه قصه قران کريم د ذوالقرنين په نامه ذکر کړی مولانا ابوالکلام شرحه کړې او ما ورنه « پښتانه په قرآن کې » عنوان په توګ رڼا کې اخيستې ده . ((خادم))

پ :
روستم : د ساکي اتلانو په ډله کې روستم یو بل نامتو سړی دی ، دی په ټوله منځنی اسیا کې شهرت لري ، په اوستا کې د روستم نوم نه دی ذکر شوی .
مستشرقین عقیده لري چه د زردشتي دین روحانیانو ته د روستم نوم او د هغه په باب قصې څرګندې وې خو له دې کبله چه روستم د زرتشتي دین منونکی نه ؤ او د محلي معبودانو عبادت یې کاوه .
زردشتي روحانیانو دده نوم نه دی اخستی او په ساکي حماسو کې د روستم په باب د قهرمانۍ قصې اوستا په بل ډول بنودلی دی ، په سوغدی حماسي متنونو کې څو ځایه د روستم نوم راغلی دی ، د روستم نوم په پارفیاني قصیدو (یادګارز ایران او درخت سوریک )کې هم یاد شوی د په منځني پارسۍ کې چه د اوسنۍ پارسۍ مور ده د شپږمې ، اتمې میلادي پیړۍ په اثارو کې لکه ( شهرهای ایران) روستم د روستاتم ROSRATHAM په نامه د سیستان واکمن او د فراه او د زابلستان د ښارونو جوړوونکي په صفت په ډېرو افسانوي قیصو کې یاد شوی دی ، فردوسي روستم د یو لوی پهلوان په صفت یادوي په یو ځای کې وایي : که یک نیمه از عمر خود کم کنم
جهان را پر از نام رستم کنم

## ساکي اتل روستم په ټوله منځنۍ اسیا کې لکه افغانستان، ایران او داسې نورو ملکونو کې د یو نه ماتیدونکي پهلوان په حیثیت شهرت لري. (۱)

(۱) دا شهرت زیات د فردوسي د شاهنامې په واسطه تامین شوی دی ، د غزنوي محمود په عهد کې د ایران ژبې (فارسي) سر او صورت نیولی ؤ ، محمود چه د عربي خلاقت سره جنړ نه ؤ او د ځان د پاره یې د یوې لویې امپراطورۍ فکر درلود ، له ایرانه یې څو سوه شعراء دربار ته را طلب کړل چه دده د پاره قصیدې ولیکي او د تبلیغاتو کار ترې واخلي ، په دغو شعراؤ کې د فردوسي په شان د ښه استعداد شاعران هم وو.
۲۵ کاله مخکې تر دې چه فردوسي په شاهنامه لیکلو شروع وکړي دقیقي مړ شوی ؤ ، دقیقي په دې کار مخکې پیل کړی ؤ ، زر بیته یې لیکلي هم وو ، دا بیتونه د زردشت په عصر او ترده مخکې روایاتو او قصو باندې بنا وو چه د پارتې ژبې ایا تکار زریران یې ماخذ ؤ ، وایي چه دقیقي په دماغ کې لاتر دغه وخته د اباو اجدادو د بزم نقشې ګرځیدلې چه محمود په غزنې کې د اسلام نغاره ډنګوله ، اغلبا د دقیقي دا نقشه کشف او نا مطلوبه وبلل شوه خو هر څه چه وو دقیقي د خپل مریي دلاسه مړ شو او کار فردوسي ته په لاس ورغی.
دا چه فردوسي دې درانده کارته څنګه تیار شو ، په دې باب خپله فردوسي وایې چه یوه شپه له ماخوب و تښتید لاړم ښځې ته مې وویل چه ډیوه ولګوه ، هغې راسره خبرې شروع کړې ویل یې چه زه به درته یوه قصه وکړم چه فکر دې برابر شي ، خو شرط یې دادی چه ته به یې په شعر اړوې.
وایي چه ما ومنله ( محبوبې راته قصه وکړه ما په نظم کړه ) دې نظم په ملي او ادبي محافلو کې زیات شهرت پیدا کړ نو دا باعث شو چه فردوسي د شاهنامې د لیکلو په فکر کې ولویږي، فردوسي وایي " زه د روایاتو د راټولولو دپاره بلخ ته ولاړم هلته راسره مرسته وشوه او شاهنامه منځ ته راغل ".
که څه هم په دقیقي د زندیقۍ (ژندیک) تور موجود دی خو د فردوسي سره هم د ایران ایرانزم ، فارسي ژبې او د ایران د کلچر او تاریخ د مجسمې د کانکریټ کولو ارادي شعور موجود ؤ ، ده اراد تا خپل ملت قوي کول غوښتل.

د محمود په وخت کې دا میدان تیار ؤ ، ده سره د لوی انعام وعده وشوه ، ده په ۳۰ کاله کې د ۲۰ زرو بیتونو یو لوی ادبي شاهکار ولیکه خو هر څه چه وو د بادشاه او دده معامله خره شوه ، د فردوسي له خوا د بادشاه په نامه هجوه پاتې شوه چه تر اوسه وربانديې تبصري کیږي.

د فردوسي د اکثرو قصو هیرو او پهلوان رستم دی ، رستم د زال څوی ، دسام نمسی دی** دا خو یې پلارنۍ سلسله ده ، د مور له خوا د مهراب شاه کابلي نمسی او د رودابې د لور د سیندخت (وسپین لور) له ګیډې دی ، دده د قصو ، میدان بلخ ، سیستان ، زابل ، کابل تر بدخشانه د افغانستان ځمکه ده ، فردوسي په خپل شعوري کار داسې فخر کوي .

بسی رنج بردم دران سال سی عجب زنده کردم بدان فارسی*

(** چه سام د نریمان او نریمان د سام د ګرشاسپ نسب ته رسیږي)

* د فردوسي هدف فارسي ژبې او کلچر ته خدمت ؤ ، دا مدعا لاس ته راغله ، فردوسي هم په دې مرام ښه پوهېدو ، په دغه شان د افغانستان او باختر تاریخ کلک په ایران وتړل شو .

دا لا دومره عجیبه نه ده ، عجیبه دا ده چه زر کاله همدا کتاب د پښتنو په حجرو ، مساجدو او کوروتو کې تدریس شو او په هیچا کې دا فکر ، عقل او غیرت راونه خوځید چه ووایې هر کله چه دا ځمکه ټوله د ایران ده ، ژبه ، قصې او روایات یې ایراني دي ، نو افغان څوک او چرته دي؟ علاوتاً په دغه موده کې لاډېرو افغانانو خپل ملیت ترک او خپل هویت یې هم بدل کړ ، او خورا عجیبه لا داده چه تر اوسه لا په همدغو جعلي افسانو افغانانو له خوا استناد کیږي ، کتابونه لیکل کیږي او باختر په ایران تړل کیږي او د حیرت له احاطې بیخې د باندې خبره داده چه همدغه کسان هلته او دلته تقدیر کیږي او پوهاندي هم اخلي ؟؟؟

اوس لا هم یوه خبره پاتې شوه هغه دا ده چه څوک د افغان او افغانستان د بقاء او ارتقاء دپاره څه کول غواړي تخریب کیږي او تعذیب کیږي هم ! دیته څه ووایو ؟؟؟

زه دلته په شاهنامه څه ویل نه غواړم ، دا یې ځای نه دی خو دومره وایم چه شاهنامه یو ادبي شاهکار دی ، نه علمي او تاریخي اثر ، د فارسي نه مخکې پارتي یا پارتیانې یوه باختري پښتنیک ژبه وه چه پنځه سوه کاله په ایران چلیده او دا د (فارسي) کلمه هم د پارتي نه جوړه ده چه خوارزمیانو په (ث) سره (پارثي) لیکله ، بیا وروسته (فارسي) شوه ، په شاهنامه کې پهلوانان او قومونه ټول پښتانه او سهاک دي ، مګر د قلم قوت او د شاعر اراده خو دنیا چپه کوي ، له بده مرغه اوس له هغه تاریخه چه نهه نوي په سلو کې افغاني دی پنځه په سلو کې هم افغاني نه دی پاتې !

زه د علم په میدان کې دومره وایم دغه کس چه ضحاک یې بولي او بیا ضحاک ماران شوي دي ، سهاک نه دی څه ؟

او سهاک هغه څوک نه دی چه قام په جمشید راپورته شو ورته وي ویل چه تا د خدائي دعوی کړیده ، زمونږ د بادشاهي ور نه یې ، کوز شه ! په دغه وخت کې سهاک د قام په غوښتنه د خپل ماما جمشید (یم ، یما ، جم) په مخکې را ولاړ شو ، جمشید له میدانه وتښتید او په

# د ساکو واکمني او مرکزونه

مرکزونه : د قبل الميعاد * د زرو کلونو په نيمائي کې د پامير او هغه ته ور څېرمه سيمو اوسيدونکو ساکو " يوه باختري مرکزي اريائي ټولنه " جوړه کړه چه په يوه واحد کولتور بنا وه . (۱) داسې تصور کېږي چه د دغو ساکو يووالی به د هغو ساکو سره هم ؤ چه د دارا په " نقش رستم " کې د ساکاهاوماورګه : د هوما جوړوونکی ساک " او په نورو کتيبو کې په داسې نورو نومونو ياد شوي دي ، همدغه ساک * هيرودوت د (اموړګی سکيفيانو) په نامه ياد کړی دی او هستوګنځی يې ورته د سکيفی قبائلو جنوب ختيزو سيمو کې ښودلی دی ، هيرودوت په دې باب دا هم وايې چه سکيفيانو به ساک د (اموړګی سکيفيانو په خاص نامه) يادول (۲)

---

* په لومړي چاپي نسخه کې هم قبل الميعاد چاپ شوی دی . خو زه فکر کووم دا چا پې تېروتنه ده او په اصل کې قبل الميلاد دی . (روښان خادم)

* همدغه ساک : يعني ساکه ها و ما ورګه قبيله هيرودوت د اموړګي سکيفيانو په نامه ياد کړي دي ، د سکيفيانو جنوب ختيځي سيمې شط العرب ته نږدې حدود معلومېږي )) .

(۱) وقت په کار دی ، بې له واحد کولتوره متمرکزه جامعه نه جوړېږي ، دوه نيم زره کاله مخکي لازمونږ خلک په دې حقيقت پوهېدل چه نن ورنه غافل دي

(۲) له پورته عباراتو څخه په وضاحت سره دا مدعا لاس ته راځي چه د پامير او له ده څخه ور ها پلو ساکو او د سکيفيانو ترمنځ اتحاد موجود ؤ . يعني ساک د پامير له حدودو څخه د فارس د خليج پورې په دغه سيمه کې آباد وو ، د هيرودوت له عباراتو دا هم څرګندېږي چه (ساک ، سکيفيان او اموړګي سکيفيان) يو قام دی .

د هيرودوت له عباراتو دا هم استنباط کېږي چه (اموړګي سکيفيان) چه د (سکيفيانو او ساکو) دريمه قبيله ده او يا دا چه د سکيفيانو په خوله ټول ساک اموړګي سکيفيان وو. خادم

د ستر ابون د روایت له مخې (ساک) د هغو وګړو نوم ؤ چه د سکیف په بیخي ختیځ کې پراته وو، د مؤرخینو په خیال د " ساکاها وماورګه " په کونفیدراسیون کې پرته له باختري قبائلو (اقوامو) هغه غیر باختري بومي قبائل هم داخل وو چه د جنوبي پامیر او د اینډوکوښ د ختیځ په سیمو کې د ساکو د راتګه پخوا دغلته اوسیدل، پسه دغه موضوع انتروپولوژیک او ارکیالوژیک مواد هم شهادت وایې او هم یې د لرغونو مؤرخینو په اثارو کې ځرک لیدل کېږي.

د ساکو په هېواد کې د اوسیدونکو قبائلو په لړ کې پتولیمي نومې مورخ د بیلت : BILT نومې قبیلې ذکر هم کوي، چه د بیلت نوم د بالتستان د نوم سره هم ربط لري چه د اوسیدونکو ډېری یې (داردیان) دي او وروسته یې د ساکو ژبه او کولتور منلي او ساک شوي دي. (۱)

---

دا لاندې دوه یادګیرنې دې په غور ولوستل شي : - اول له دې عباراتو دا مطلب په لاس راځي (۱) قومیت او ملیت په ژبواو کولتور اړه لري نه په بل څه (۲) داردیان د پامیر او اینډوکوښ په لمنو کې د نورو بومي قومونو سره له ډېر پخوا څخه پراته دي (۳) داردیان تاجک نه دي که وي، نو ساک او پښتانه دي (۴) د پښتنو دا تلقي بیخي سمه ده چه قومیت پوازې په نژاد او وینه اړه نه لري، بلکه د خپلوۍ او ګوندۍ له درکه هم چه څوک په چا وتړل شي دا هم له هغو ګڼل کېږي. (خادم) ---- دویمه. که دا د ستر ابون روایت په غور ولوستل شي دا هم ترې لاس ته راځي (۱)، د پامیر له حدودو څخه د فارس د خلیج پورې یو کونفیدراسیون موجود وو چه د ساکاهادرګه کونفیدراسیون یې باله (۲) نورستان، پشۍ او چترالي قومونه داردیان دي (۳) دغه داردي قومونه دي خمکو ته د درې زرو کالو نه پخوا راغلي دي په دغو کې ځینې بومي او غیر باختري قبیلې هم وې (۴) دغو قومونو د ساکو له راتګه وروسته ساکي ژبه او کولتور منلی دی لکه چه مقایسوي فیلالوجي ددې خبرې اثبات کوي (۵) په موجوده حال کې چه پخوانی کولتور په ساکي کولتور بدل شوی او دغه ټوله داردي ساحه د ساکي او بیا د پښت په کولتور کې رنګ شوي دي دوی ته به تاجک ویل لوی ظلم وي. خادم

# د ساکو لویه واکمني

لکه چه وویل شوه د ق م د زرو کالو په نیمائي کې ، ساکي قومونه د " مس ساکیت " MASS SAKIT یعنی د لوی ساک په نامه یوه لویه اتحادیه جوړه کړې ده . (۱) ، دوی وروسته د جنوب خواته نفوذ وکاوه او بیا یې (پارفیانا : پارتیا) او د (ګریکو باختر : یونانو باختري) سیمو تر قلمروه پورې د واکمنۍ احاطه پراخه کړه ، د جنوب خواته ددغو یرغلونو او فشار عامل غالباً د هغو ترکانو (مغولو) زور ؤ چه ګون یې بلل (۲) او دوی یې د جنوب وخواته تېل وهل ، د ق م د زرو کلونو په لومړي نیمائي کې دغو ترکانو په هغو ساکي او مس ساکي قومونو سخت

---

(۱) د مخکې عنوان لاندې راغلي دي (د ساکاهاوماورګه په کنفیدراسیون کې پرته له باختري قبائلو هغه غیر باختري بومي قبائل هم داخل وو چه د جنوبي پامیر او ایندوکوش د ختیځ په سیمو کې د ساکو له راتګه پخوا دغلته موجود وو) دلته مخکې وویل شول ، نه دغه عبارت مراد دی یعنی هغه کونفیدراسیون همدغه د (مس ساکینت) په نامه ؤ ، مس ساکیت د (مشرساک) په معنی تفسیر شوی دی .

(۲) راګون هماغه ترکي قبائل معلومېږي چه په همدې کتاب کې دهون په نامه یاد شوي دي او ددغو هونانو د حملو د فشار په سبب یو میلیون یوچیان ساک د چین له حدودو بیخایه او د غرب خواته په هجرت مجبور شول ، دا یوچي ساک درې سوه کاله د چین د کانسو په ولایت کې اوسیدل . (خادم)

چپاوونه کول چه د (تیان شان) په ختیځو او شمالي سیمو کې د کوچانو په توګه میشته وو. (۱)
لکه چه مخکې اشاره وشوه چه په جنوب کې ساکو، پارفیایانو ته سخته ماتې ورکړه، نو د ایران ختیځو سیمو ته ورننوتل او دغه شان یې د رنګیان (سیستان) او د اوسني افغانستان لویدیځې سیمې ونیولې، پخوانی (ساکستان) او اوسنی سیستان همدغه قام ته د نسبت په لحاظ تسمیه دی.

(۱) تر دې خایه د بیروچین له کتابه اخستنه ده (د ساکو واکمنې او مرکزونه) د سټر عنوان لاندې راغلي دي چه " د پامیر او هغه ته ورځېرمه سیمو اوسیدونکو ساکو یوه مرکزي اریائي تولنه جوړه کړه چه په یوه واحد کولتور بنا وه) دغه په یوه واحد کولتور بنا مرکزي آریایي تولنه هماغه شي دی چه وروسته په همدغه عنوان کې ورنه په (ساکاهاوماورګه کونفیدراسیون) تعبیر شوی دی،. د دی لولې واکمنی تر عنوان لاندې بیروچین د مخکې عبارت توضیح کړی وایې (ګون ترکانو به په هغو ساکې او مس ساکې قومونو سخت چپاوونه کول چه د تیان شان په ختیځو او شمالي سیمو کې د کوچانو په توګه میشته وو) د دې عبارت نه د مس ساکیت د کونفیدراسیون اولني مراکز معلوم شول چه پامیر، تیان شان او د دغو سیمو مشرقي برخې دي (خ).

## ﴿۳۱﴾

# د قبل المیلاد د لومړۍ پېړۍ د نیمائي پوري د ساکو قومونو د نورو قومونو سره د اختلاط او فشار په واسطه په خپل قوت نه وو پاتې او کولتور یې ضعیف شوی و (۱)*

---

(۱)* مورخ په دې عبارت سره اشاره کوي چه د قومیت او ملیت د بقا او تحفظ دپاره ضروري ده ، چه قوم او د قوم کولتور دې له اختلاط او ترکیب څخه وژغورل شي . د قومونو د مرګ لوی سبب دا دی چه د نورو قومونو سره ګډ او کولتور یې اروړه شي ، بس نو ورک شي او موجودیت بایلي ، په پښتنو همدا کار وشو ، ملیونونه په هند او پاکستان او خراسان کې او داسې په نورو قومونو کې او دغه شان خپله په افغانستان کې د ژبې او د کولتور د نه ساتلو په وجه بدل او ورک شول ، چه ورک شي افتخارات او قوت یې هم له منځه ځي او د نورو د لاس لاندې کېږي ، نننی عصري قومونه د کولتور په اهمیت ډېر ښه پوه دي ، ځکه چه هر یو د خپلې ژبې او کولتور په ساتلو سخت اصرار کوي . په نننیو عصري قومونو کې هیڅوک تر هغې نه شي منل کېدای چه خو یې کولتور ونه مني او ژبه یې زده نه کړي ، ډېرو قومونو په دې باب قوانین وضع کړي دي ، د مورخ له عبارته د پښتنو ددې عنعنوي عادت تائید هم کېږي چه اصیل پښتانه د نورو بېګانه قومونو سره خپلوي نه کوي ، نه ورته ښځې کوي او نه یې ورکوي . هو که په کولتور او پښتونولۍ یې بده اغیزه نه کېږي نو منع نه کوي .

* په هغه وخت کې ګندارا د ننګرهار ، کندهار او خواو شا سیمې ګڼل کېدې او تیکسالا خو معلومه ده چه له اباسینده ورکښته د مارګلۍ د غره په شمالي څنډه کې شاهي مرکز ؤ چه لرغوني آثار یې هملته په یوه موزیم کې غونډ شوي دي .

اغلباً د پښتنو لوی عالم پانیني د سنسکریت ګریمر همدغلته لیکلی دی چه اوس د هغه تمدن کنډوالې د تېر برم ویر کوي . (خادم)

د ساکو دِ واکمنيءَ دوه مرکزونه پاتې وو ، يو يې د ګندارا په غرب کې او بل يې تيکسلا په شرق کې ؤ* دغه وخت د ساکو باچا " ماويس" نوميدلو چه د پنجاب په زياته برخه يې هم واک چليدلو ، په دغه وخت يعنې د ق م ، د لومړۍ پيړۍ په نيمائي کې چه ساکانو په ګندارا او تيکسلا کې دوه مرکزه جوړ کړي وو دا هغه ساک وو چه د پامير او تيان شان (۱) ځخه د تخاريانو د فشار په سبب (چه د کاشک او زرافشان د سيندونو په حدودو کې يې له وړو ، وړو دولتونو لوی تخاري کونفيدراسيون جوړ کړی ؤ) د پامير په سختو لارو د کابل سيمې او د هند پاسنيو سيمو ته تېر شول او يو لړ نوې ځمکې يې ونيولې .

---

(۱) پامير او تيان شان د ساکي قومونو د کونفيدراسيون لومړنی مرکز وو ، البته دغلته به واړه ، واړه دولتونه تاسيس شوي وو چه د ټولو نه بيا کونفدراسيون يا اتحاديه جوړه شوې وه ، پامير خو د افغانستان لوړه سطحه ده او تيان شان د پامير نه ور ها پلو ځمکې دي چه هغه وخت په کښې د پسره زمانه ساکان مستقر وو ، تخاري کونفيدراسيون ، دوهم کونفيدراسيون يا اتحادي دولت دی چه ساکانو تاسيس کړی ؤ مخکې اثبات ته رسيدلی ده چه تخاريان ساک دي ، د ګندارا او تيکسلا مراکز هم يو اتحادي شکل لري چه دا دولت ځلورموی دولت دی ځلورم اتحادي دولت يې هغه وو چه د پارفيانو يعنې پارتيانو د (پارتيا) په نامه د اوسني ايران په مشرق کې جوړ کړی ؤ چه پنځه سوه کاله يې دوام وکړ او څو ځله يې د روما دولت ته ماتې ورکړې وه .

ددغو ساکو څه برخه يې په خپل تپاتوبي پاته شول (۱) بناغلی غبار ليکي چه "سکايانو د ارغنداو په ساحه کې يو مستقل حکومت جوړ کړ (۲) چه په جنوب کې د سند د کوزنۍ برخې پوري رسيدلی ؤ، ځکه نو دغه حصه په يوناني مآخذو کې (هندوسيتا) او په چيني مراجعو کې د (کی پن Kipin) په نامه ليکل شويده، دا منطقه د ګندارا په ولايت نيم بلوچستان او د سند د کوزنۍ برخې پوري ځمکې احتوا کوي.

(۱) د کابل مجلې ۲۲۰ ګڼه د روسي منابعو په حواله.

(۲) په مخکې تاريخي روايت کې د ساکانو د پامير او تيان شان د کونفيدراسيون له کمزوري کېدو څخه ددوی دوه مرکزونه پاتې بنودل شوي وو : يو يې د ګندارا په غرب کې او بل يې تيکسلا په مشرق کې وو د (پاتې) له کلمې هم دا استنباط کېږي چه دا دواړه مراکز د لوی کنفيدراسيون په ولاياتو کې داخل وو. بله خبره دا ده چه ددې شهنشاهۍ مرکز او پايتخت ارغنداو ؤ. يا دا چه د ګندارا د ولايت اداري مرکز ارغنداو ؤ چه بادشاه به دوبې دلته او ژمی په تيکسلا کې تېراوه.

د کی پن لومړنی بادشاه (موکا) ؤ چه په سکو کې په لوی بادشاه یاد شوی دی. او زمانه یې ۷۲ ق م تاکل شویده، داسې معلومیږي چه (موکا) دپېښور ولایت د ټیکسلا پورې نیسولی ؤ، دوهم ئې (ازس) دی چه د ق م، د ۵۸ په حدودو کې تېر شوی دی، په همدغه نامه یو بل بادشاه د ق م، د ۴۰-۴۵ په شاوخوا کې ژوند کړی دی چه غالباً د اول زوی به وي.

ددې بادشاهانو سکې له مسو اوسپنیو زرو په خروشتي او یوناني لیک او پراکتریت ژبه د یونانو باختر د بادشاهانو په تقلید ضرب شوی دی یعنی دا چه طلائي سکې یې نه لرلې.

وايي چه کی پن گرمه هوا لرله ، غنم او وريجې په کې کېدلې ، باغونه يې لرل ، د خلکو صنعت مجسمې جوړول، کنده کاري ، فلز ، معماري ، نساجي ، خامه گنډنه او طباخي وه " . (+) (۱)

له بل پلوه د ق م په لومړۍ پېړۍ کې د پارفيانو د فشار له امله د ساکستان واکمنو د افغانستان د جنوب او بلوچستان د شمال له لارې د ختيځ خواته د منځني هند په لور هڅه وکړه او د هند په لاندينۍ برخه کې گوجرات . کاتياوار او دغسې هم د هند نورو شمالي او لويديځو سيمو ته ورسيدل . (۲)

---

(+) د صنعت ، هوا او پيداوار له شرحې ځرگندېږي چه کی پن ، کندهار او ارغنداو دی والله اعلم .

(۱) افغانستان ته ، يو نظر کتاب د هيون تسانگ په حواله .

(۲) د کابل مجله ۲۲۰ گڼه .

# دساکو مشاهیر او اتلان

الف :

ماویس : مخکې وویل شول چه ماویس د ، ق-م د لومړۍ پېړۍ په نیمایي کې د ساکو بادشاه ؤ ، دا هغه وخت ؤ چه ساکو دوه حکومتي مرکزونه لرل ، یو په ګندارا او بل په تیکسلا کې ؤ ، د ګندارا مرکز یې ارغنداو برېښي ، نو یا دا چه ارغنداو اصلي مرکز او د پښور سیمه چه تیکسلا یې مرکز ؤ اشغالي سیمه وه (۱) یا دا چه دا دواړه مرکزه د یوه بادشاه د اوړي اود ژمي مرکزونه وو ، اغلباً (موکا) د ګندارا او سند او (ماویس) به د تیکسلا او پنجاب بادشاه ؤ.

ب :

کله چه مونږ د لرغوني افغانستان تاریخ مطالعه کوو نو د ډېرو ساکي اتلانو سره اشنا کېږو ، ددغو له جملې څخه افسانوي هیرو ساکي ملکه (زرینه) هم ده چه د ق م د دوهمې پېړۍ له اخر څخه د شپږمې

---

(۱) د اشغال احتمال ځکه ضعیف دی چه د ارغنداو او تیکسلا په سیمه کې اوسیدونکي خلک د یوه کولتور لرونکي معلومېږي ، نو یو قام به وي نو د ویه قام بادشاه په خپلو خلقو اشغالي حکومت څنګه کولی شي ؟ (خ)

پېړۍ تر نیمائي پورې یې د لرغوني افغانستان په خاوره کې یوه لویه اتحادیه جوړه کړه.

(۱) او بیا ئې د پارفیا (پارتیا) پلوته په ایرانیانو (ماد، او، پارسوا) نومونو باندې پر یرغلونو پیل وکړ، په مرغاؤ باختر او سوغد کې لوی تاریخي دیوالونه د تاریخي اسنادو په حیث د دغه عصر په جنګونو او دفاعي سنګرونو دلالت کوي.

---

(۱) داسې برېښي چه د مّس ساکیت د لوی اتحادئي تاسیس کوونکي زریته ملکه وه، د مؤرخینو له عباراتو څخه داسې استنباط کېږي چه دغه اتحادیه د ق، م د شپږمې پېړۍ په سر کې جوړه شوې اود ق.م. د لومړۍ پېړۍ پورې یې دوام کړی چه ټول عمر یې پنځه سوه کاله په حساب راځي، پتځوس لومړی کلونه یې د زرینې تر اداري لاندې تېر شوي معلومېږي. (خادم)

# زرينه ټولواکمنه

د ساکي اتلانو په ډله کې زرينه د مؤرخينو په اثارو کې ډېره زياته يادېږي ، د هيرودوت د روايت له مخې د ساکو او فارسيانو په لومړۍ جګړه کې فارسيانو په ساکو چل وکړ او دوی ته يې په چل ماتې ورکړه او د ساکو د لښکر مشر "سپارګاتيس" چه د زرينې زوی ؤ فارسيانو ته په لاس ورغی ، زرينې دوی ته پيغام واستاوه چه که زوی مې ايله کړئ زه به درسره روغه وکړم ، په دې باب زرينې د فارسيانو واکمن (کير) ته وليکل " که ته دا کار ونه کړې ، د ساکو په خدای (لمر) لوړم چه زه به ستا تنده په وينو ماته کړم که څه هم ته موړ يې " ، خو فارسي واکمن پرواه ونکړه او سپارګاتيس يې وواژه .
په دې وخت کې ساکو په فارسيانو له بل هر وخته زورور يرغل وکړ کير واکمن په دې جګړه کې ووژل شو ، کوم وخت چه د مړو په جمله کې د کير مړی وموندل شو ، زرينې دده سر په هغه ژي کې ورواچاوه چه د ايرانيانو (فارسيانو) د وينو ډک ؤ او په ملنډو يې ورته وويل : که څه هم ما په جګړه کې پر تا بری ومند او ته مړ شوې ، خو هر

کله چه تا زه ډېره خواشینې او له زویه دې محرومه کړم ، نو زه تا په وینو داسې مړوم لکه چه درته مې ویلې وو . (۱)

د یو دور مورخ چه د ق م په اوله پېړۍ کې یې ژوند کاوه ، روایتاً ساکي ملکي زرینې په باب لیکي : " د ساکو ښځې ډېرې زړورې دي ، دوی په ټولو جګړو کې د خپلو میړونو سره ګډون کوي ، مګر زرینه د ساکو ټولو ښځو نه زیاته زړوره وه ، هغې خپل ولس د ګاونډیو قومونو له غلامۍ څخه خلاص کړ ، ډېر ښارونه یې ودان کړل او د رعیت تکلیفونه یې کم کړل .

د زرینې له مرګه وروسته ددې دیادګیرنې د لمانځنې په غرض ددې قوم ، په دې باندې لوی قبر د هرم په شکل جوړ کړ ، ساکو به د خپلو اتلانو په نسبت ددې زیاته لمانځنه کوله . "

---

(۱) مؤرخینو د ساکو دغه ملکه چه د فارسیانو بادشاه یې ووژه او سر یې ورته د همده د خپل قوم د وینو په ډک ژی کې ومانډه چه وئې ښځینه چه تنده یې ماته شي ، د تومیریس یا تامیریس، په نامه هم یادهٔ کړېده او کیر واکمن یې چه سرور نه د ساکو ملکې پرېکړ ، کوروش کبیر ښودلی دی نو زرینه ملکه او (تومیریس : تامیریس) همدارنګه د فارسیانو کیر واکمن او ( کوروش کبیر) یو شی ښکاري او که بېل ، بېل وي نو هم دا خبره په ډاګ ده چه لوی کوروش ساکي پښتنو وژلی دی او دا هم ښکاره ده چه دغه کوروش په ختیځو ساکانو سخت یرغلونه او بریدونه پیل کړل ، ځکه نو د ساکو ملکه دده سرته وایې : وځښه دا انساني وینې چه تنده دې ماته شي ، " ای د وینو تږیه! متعرضه!جابره! ظالمه !!!" همدغه قصه قران کریم د ذوالقرنین په نامه ذکر کړی مولانا ابوالکلام شرحه کړې او ما ورته « پښتانه په قرآن کې » عنوان په نوې رڼا کې اخیستې ده . ((خادم))

پ :

روستم : د ساکي اتلانو په ډله کې روستم یو بل نامتو سړی دی ، دی په ټوله منځنی اسیا کې شهرت لري ، په اوستا کې د روستم نوم نه دی ذکر شوی .

مستشرقین عقیده لري چه د زردشتي دین روحانیانو ته د روستم نوم او د هغه په باب قصې څرګندې وې خو له دې کبله چه روستم د زرتشتي دین منونکی نه ؤ او د محلي معبودانو عبادت یې کاوه .

زردشتې روحانیانو دده نوم نه دی اخستی او په ساکي حماسو کې د روستم په باب د قهرمانۍ قصې اوستا په بل ډول ښودلی دی ، په سوغدی حماسي متنونو کې څو ځایه د روستم نوم راغلی دی ، د روستم نوم په پارفیاني قصیدو (یادګارز ایران او درخت سوریک ) کې هم یاد شوی د په منځني پارسۍ کې چه د اوسنۍ پارسۍ مورده د شپږمې ، اتمې میلادي پېړۍ په اثارو کې لکه ( شهرهای ایران) روستم د روستاتم ROSRATHAM په نامه د سیستان واکمن او د فراه او د زابلستان د ښارونو جوړوونکي په صفت په ډېرو افسانوي قیصو کې یاد شوی دی ، فردوسي روستم د یو لوی پهلوان په صفت یادوي په یو ځای کې وایې : که یک نیمه از عمر خود کم کنم

جهان را پر از نام رستم کنم

## ۴۱

## ساکي اتل روستم په توله منځنۍ اسیا کې لکه افغانستان، ایران او داسې نورو ملکونو کې د یو نه ماتیدونکي پهلوان په حیثیت شهرت لري . (۱)

---

(۱) دا شهرت زیات د فردوسي د شاهنامې په واسطه تامین شوی دی ، د غزنوي محمود په عهد کې د ایران ژبې (فارسي) سر او صورت نیولی ؤ ، محمود چه د عربي خلافت سره جوړ نه ؤ او د ځان د پاره یې د یوې لویې امپراطورۍ فکر درلود ، له ایرانه یې څو سوه شعراء دربار ته را طلب کړل چه دده د پاره قصیدې ولیکي او د تبلیغاتو کار ترې واخلي ، په دغو شعراؤ کې د فردوسي په شان د ښه استعداد شاعران هم وو.
۲۵ کاله مخکې تر دې چه فردوسي په شاهنامه لیکلو شروع وکړي دقیقي مړ شوی ؤ ، دقیقي په دې کار مخکې پیل کړی ؤ ، زر بیته یې لیکلي هم وو ، دا بیتونه د زردشت په عصر او ترده مخکې روایاتو او قصو باندې بنا وو چه د پارتې ژبې ایا تکار زریران یې ماخذ ؤ ، وایي چه دقیقي په دماغ کې لاتر دغه وخته د ابناو اجدادو د بزم نقشې ګرځېدلې چه محمود په غزني کې د اسلام نغاره ډنګوله ، اغلبا د دقیقي دا نقشه کشف او نا مطلوبه وبلل شوه خو هر څه چه وو دقیقي د خپل مریي دلاسه مړ شو او کار فردوسي ته په لاس ورغی .
دا چه فردوسي دې دراننده کارته څنګه تیار شو ، په دې باب خپله فردوسي وایي چه یوه شپه له ماخوب و تښتید لاړم ښځې ته مې وویل چه ډیوه ولګوه ، هغې راسره خبرې شروع کړې ویل یې چه زه به درته یوه قصه وکړم چه فکر دې برابر شي ، خو شرط یې دادی چه ته به یې په شعر اړوې .
وایي چه ما ومنله ( محبوبې راته قصه وکړه ما په نظم کړه ) دې نظم په ملي او ادبي محافلو کې زیات شهرت پیدا کړ نو دا باعث شو چه فردوسي د شاهنامې د لیکلو په فکر کې ولوېږي، فردوسي وایي " زه د روایاتو د راټولولو د پاره بلخ ته ولاړم هلته راسره مرسته وشوه او شاهنامه منځ ته راغل" .
که څه هم په دقیقي د زندیقۍ (ژندیک) تور موجود دی خو د فردوسي سره هم دا یران ، ایرانزم ، فارسي ژبې او د ایران د کلچر او تاریخ د مجسمې د کانکریت کولو ارادي شعور موجود ؤ ، ده اراداتاً خپل ملت قوي کول غوښتل .

د محمود په وخت کې دا میدان تیار ؤ ، ده سره د لوی انعام وعده وشوه ، ده په ۳۰ کاله کې د ۲۰ زرو بیتونو یو لوی ادبي شاهکار ولیکه خو هر څه چه وو د بادشاه او دده معامله خرابه شوه ، د فردوسي له خوا د بادشاه په نامه هجوه پاتې شوه چه تر اوسه وریاندې تبصرې کېږي.
د فردوسي د اکثرو قصو هیرو او پهلوان رستم دی ، رستم د زال څوی ، د سام نمسی دی** دا خو یې پلارنۍ سلسله ده ، د مور له خوا د مهراب شاه کابلي نمسی او د رودابې د لور د سیند خت (وسین لور) له ګېډې دی ، دده د قصو ، میدان بلخ ، سیستان ، زابل ، کابل تر بدخشانه د افغانستان څمکه ده ، فردوسي په خپل شعوري کار داسې فخر کوي.

بسی رنج بردم دران سال سی      عجب زنده کردم بدان فارسی*

(** چه سام د نریمان او نریمان د سام د ګرشاسپ نسب ته رسېږي)

* د فردوسي هدف فارسي ژبې او کلچر ته خدمت ؤ ، دا مدعا لاس ته راغله ، فردوسي هم په دې مرام ښه پوهېدو ، په دغه شان د افغانستان او باختر تاریخ کلک په ایران وتړل شو.
دا لا دومره عجیبه نه ده ، عجیبه دا ده چه زر کاله همدا کتاب د پښتنو په حجرو ، مساجدو او کورونو کې تدریس شو او په هیڅ کې دا فکر ، عقل او غیرت راونه خوځید چه وواېې هر کله چه دا ځمکه ټوله د ایران ده ، ژبه ، قصې او روایات یې ایراني دي ، نو افغان څوک او چرته دي؟ علاوتاً په دغه موده کې لا ډېرو افغانانو خپل ملیت ترک او خپل هویت یې هم بدل کړ ، او خورا عجیبه لا داده چه تر اوسه لا په همدغو جعلي افسانو افغانانو له خوا استناد کېږي ، کتابونه لیکل کېږي او باختر په ایران تړل کېږي او د حیرت له احاطې بیخي د باندې خبره داده چه همدغه کسان هلته او دلته تقدیر کېږي او پوهاندي هم اخلي ؟؟؟
اوس لا هم یوه خبره پاتې شوه هغه دا ده چه څوک د افغان او افغانستان د بقاء او ارتقاء دپاره څه کول غواړي تخریب کېږي او تعذیب کېږي هم ! دیته څه وواېو ؟؟؟
زه دلته په شاهنامه څه ویل نه غواړم ، دا یې ځای نه دی خو دومره وایم چه شاهنامه یو ادبي شاهکار دی ، نه علمي او تاریخي اثر ، د فارسي نه مخکې پارتي یا پارتیاني یوه باختري پښتنیک ژبه وه چه پنځه سوه کاله په ایران چلیده او دا د (فارسي) کلمه هم د پارتي نه جوړه ده چه خوارزمیانو په (ث) سره (پارثي) لیکله ، بیا وروسته (فارسي) شوه ، په شاهنامه کې پهلوانان او قومونه ټول پښتانه او سهاک دی ، مګر د قلم قوت او د شاعر اراده خو دنیا چپه کوي . له بده مرغه اوس له هغه تاریخه چه نهه نوي په سلو کې افغاني دی پنځه په سلو کې هم افغاني نه دی پاتې !
زه د علم په میدان کې دومره وایم دغه کس چه ضحاک یې بولي او بیا ضحاک ماران شوي دي ، سهاک نه دی څه ؟
او سهاک هغه څوک نه دی چه قام په جمشید راپورته شو ورته وي ویل چه تا د خدائي دعوی کړیده ، زمونږ د بادشاهۍ ور نه یې ، کوز شه ! په دغه وخت کې سهاک د قام په غوښتنه د خپل ماما جمشید (یم ، یما ، جم) په مخکې را ولاړ شو ، جمشید له میدانه وتښتید او په

غریت کې مړ شو ؟؟ مخکې مو لیکلي دي ، مؤرخین وایي چه سلطان شهاب الدین غوري په څلورم پښت کې (سام) ته رسېږي ، په لسم کې (سور) ته او په دولسم کې ملک (شنسب) او په څلورڅلویښتم کې (سهاک ملک) ته ور رسي ، دلته سهاک د شخص نوم دی ، وروسته د قام نوم گرځیدلی دی بیا دغه د قام نوم دده نوم هم شو .

دغه سام چه په شاهنامه کې په (سام نریمان) یاد شوی دی ، دا سړی همدغه د شهاب الدین غوري د نیکونو له جملې نه دی څه ؟ ښه نو که دا د شاهنامې سام هماغه سام نریمان نه دي نو څوک دی ؟ حال دا چه (نریمان ، نریمن ، نری من ، نری زړه) د (زړه سوانډ) په معنی پښتو دی (سین دُخت ، دسیند لور) هم پښتو دی لکه مور ئې چه رودابه (دسیند اوبه) معنی لري ، پخپله په شاهنامه کې یو نوم (پشوتن) راغلی دی چه شهزاده دی دغه پشوتن چه پښتون نه دی نو څه شی دی ؟؟؟ سره ددې چه له ډېر پخوا څخه ارادتاً له افغاني تاریخه بل شي جوړول کېدو ، نومونه او حوادث اړول شوي دي . بیا هم د حق نمر په دوه گوتو نه پټېږي!!!

دغه د قراه د سیمې کک کهزاد چه حصار ئې اوس هم شته ، کاک او کاکړ پښتون نه دی ؟ هو دلته څه وجوهات شته چه د اشتباه سبب شي . «پښت ، پارت ، پارس ، بارت» پخوا ، پخوا د یوه پلار زامن وو ، وروسته په زرگونو کالو کې ورنه ملتونه جوړ شول ، اوس بهارت ، ایران او افغان ، د پاکستان سره د تاریخ په لحاظ ورونه مملکتونه دي ، خصوصاً ایران او افغان یو تر بله ببخي نږدې دي او په ټینگو رسیو تړلي دي ، باید په متقابل احترام او ورورۍ ژوند وکړي ، پښتانه وایي : «وروري په کوو ، حساب ترمنځ» .

۳۰ د عقرب ۱۳۵۷ (ق — خ)

## ساک ولې ورک شول ؟

د میلاد د کلونو په خوا و شا کې تخاریانو د ګریکو باختر واکمني ته ماتې ورکړه او هلته د تخاریانو واکمني قائمه شوه ، دغه ځای نور تخار وبلل شو ، تخاریانو په شمالي هغو سیمو کې چه د کاشیک او د زرافشان له سیندونو خړوبیدلې ، کوچني کوچني دولتونه جوړ کړل چه په یوه مرکز راغونډ بدل او د کونفیدراسیون شکل یې درلود ، دغلته د تخاریانو د فشار له امله د پامیر او تیان شان ساک د پامیر په سختو لارو د کابل سمې او د هند غربي سیمو ته راکوز شول او دلته یې څه ځمکې ونیولې او ساکو له تېرونو څخه څه په خپلو ځمکو پاتې شول ؛ لکه چه مخکې مو هم لیکلي دي .

ددغه خپریدلو په سبب د ساکي قومونو ځینې قبیلې له ځینو بیلې او لرې پاتې شوې ، په دغه شان قومي ارتباط وشلید او بیا د ساکو ډېرې څانګې د نورو وګړو سره ګډې وډې شوې ، نو په آخره کې ساکي ملت خپل علیحده او ځانته هویت مشخص کولتور او ملي تشخص بایلود او په دغه شان سره له منځه ولاړ او محوه شو* .

معنی یې دا نه ده چه ټول مړه او تباه شول ، بلکه د ژبې ، کولتور او عنعناتو په بایللو سره په نورو قومونو بدل ، یا په نورو کې ضم او وخوړل شول . !!! (۱)

---

* اجتماعي عالم ډاکټر ګوستا ولوبو په خپل کتاب "تطور الملل ۱۲۲ مخ کې وایي" دیوه ملت د قومیت مزي هغه وخت شلیږي او روحي جوړښت یې ورانیږي چه د پردو سره خلط او ګډ شي او هغه ملت خپل اجتماعي تشخص ، ملي وحدت او عظمت ساتلی شي چه لکه د لرغونو هندي اریایانو ، یا د معاصرو انګلیسانو په شان د بیګانه طوائفو له ګډون څخه ځان وژغوري او نسلي امتزاج ورسره ونکړي ، ځکه چه د پردیه خلکو سره اختلاط که څه هم شمیر یې کم وي . د ملت د روح په تغیر کې پوره تاثیر لري ، ځکه چه په دغه شان مشترک ملي اخلاق ، تاریخي سوابق او قومي عادات او آداب چه د یوه ملت دارتباط رسۍ ګڼل کیږي د دوی ترمنځ سستیږي او ملي بنسا رنګیږي . هوکه اختلاط او امتزاج په شعوري ډول د کمزورانو او غافلانو د خوړلو دپاره وي ، دا بیا . بیله مسئله ده او په یوه ملت کې د خارجي نفوذ د بحثه پورې اړه لري چه دا یې ځای نه دی هو که یو قام په تاریخي أدوارو کې په نورو شعب او بدل شي او تاریخي تسلسل په کې ونه ساتلی شي ، نو هم ورک یې بوله ؛ لکه د افغانستان موجوده پښتانه قومونه چه زیات یې ساک دي خو په نورو نومونو یادیږي او خپل ساکي ارتباط یې نه دی ساتلی ، ځکه نو لازمه ده چه دغه تاریخي تسلسل تازه او ژوندی شي او تاریخي سلسله باختري عصر ته مرتبا ورسول شي . ( ق - خ )

(۱) د موجوده پښتنو ډیر قومونه چه په همدغه شان ورک شوي دي : لودیان ، غوریان ، سوریان ، سدوزیان ، بابړ ، زیړاني ، تیراهي ، سراواني ، ورمړ ، دله زاک ، بره کي ، لواني ، فورملي ، بریخ ، کند ، زمند ، خویشکي ، نیازي ، کرت او داسې نور دي . د پاتې پښتنو سیاسي ګډوډي د کولتوري ګډوډۍ سبب شویده عاقبت دې یې په خیر وي .

## د ساکو ژبه

هغه ساک چه په منځني اسیا او چیني ترکستان کې اوسیدل د هغو د ژبې او ژبنیو دیالیکتونو یا لهجو په باب بې له هغو خالصو نومونو څخه چه د زړې پارسۍ په کتیبو او د لرغوني یونان د مؤرخینو په آثارو کې ساتل شوي دي ، نور کوم ژبني اسناد د علم په لاس کې نشته . (۱)

کوم وخت چه د ساکو یوې ډلې یا یې خپلوانو یعنې تخاریانو (۲) د ق م په دوهمه پیړۍ کې په سیستان او اراکوزیا خپل واک ټینګ کړ او بیا د هند شمال مغربي سیمو ته ورننوتل ،نو ددغه وخت له بقایاؤ څخه دساکو د ژبې د یوې لهجې اثار د میلاد په لومړیو پېړیو کې په براهمني او خروشتي لیک ساتل شوي پاتي دي .

د ق م په زرو کلونو کې د ساکو د ژبې په باب چه اوس د علم په لاس کې څه شته یوازې قبائلي او جغرافیائي خاص نومونه دي چه هغه هم د هغو ډېرو وروستیو روایاتو سکو او متنونو په ذریعه توضیح شوي چه په خروشتي او براهمني لیک لیکل شوي دي.

---

(۱) کابل مجله ۲۴۰ ګڼه د روسي منابعو څخه .

(۲) دا عبارت د بناغلي غلام محمد غبار دی ، د د تخاریانو په باب تل وایي " ساک یا ئي خپلوان " مګر محکې ددې خبرې سپیناوی شوی دی چه تخاریان په یقیني ډول ساک دی (ق-خ)

# باختري ژبه

پکتانو ، (پښتنو) (۱) د هيرودوت او هيکاتي د رواياتو له مخې د ق م په شپږمه او پنځمه پيړۍ کې د ګندارا په ايالاتو کې لوی دولت تاسيس کړ چه دغه دولت سرحدي پولې د پاميري ساکو سيمو ته لګېدلې وې (( هر کله چه د پاميري ساکو د لوی دولت د تاسيس په وخت کې د پارتيا لوی دولت موجود ؤ او دا رنګه په ګندارا کې د پښتنو لوی دولت هم تاسيس شو او د مخکې توضيحاتو له مخې د جنوبي او پاميري ساکو تر منځ اتصال هم موجود ؤ ، نو دا په خپله دلالت کوي چې ساک ، پارتي او پښتانه ټـه ډېر بېل او اجنبي قومونه نه دي )) . (خادم)

---

(۱) پکتان د پکت جمع ده چه لرغوني تاريخ کې پښتون د (پکت ، پخت) په نوم ياد شوی دی، وروسته دا دواړه لهجې د (پښت)په ګرافيم يعنی ليک دود کې رانغښتل شوی دي ، ځکه چه د (ښ) د کلماتو آواز د پښتون ملت په منځ کې په خوا دوه لهجې لرلې ، يوه يې د کاف ، بله د خې ده ،اوس در لهجې لري ، يوه يې د جنوبي سيمو لهجه ده چه له ښين ځخه درنده ويل کېږي ، بله يې د شمالي سيمو ده چه کلکه (خې) ده ، دريمه يې د منځني افغانستان : لکه وردګ، کوچان ، احمد زي ، سلمان خېل ، مهمند او داسې نورو ده ، چه دا د کاف مخرج ته نژدې ده خو په مهموسي تلفظ ادا کېږي نه په مجهوري اوس د (ښ) ګرافيم دا درې واړه لهجې راغونډوي او دغه صورت درې واړه ادا کوي .

د مکتبونو او مدرسو دپاره د لهجې د وحدت سيستم ضروري دي ، په دې باب د مرحوم محمد ګل خان پريکړه دا وه چه د منځني افغانستان لهجې دې ومنل شي . ځکه دا لهجه د نورو دوه شمالي او جنوبي لهجو تاريخ ژوندی ساتلی شي ، خو جنوبي او شمالي لهجې که هره يوه تعليمي شي ، نورې دوه لهجې به چورې هيرې شي ، ځکه وسط دواړه خواو سره ربط لري ، مګر دواړه خواوې که وسط نه وي اجنبي حسابېږي . (ق – خ)

د لرغونو اسنادو له مخې په اراکوزیا کې د ق م په (۴) او (۳) پېړۍ کې یوه " مرکزي آریائي ژبه " موجوده وه ، چه باید " باختري ژبه " یې وبولو دې ژبې د اوستا سره نزدې خپلوي لرله ، دغلته یو تعداد قبائل او ژبني دیالیکتونه موجود وو ، چه مؤرخینو او ژبپوهانو په عقیده همدغه دیالیکتونه او قبیلې د اوسنۍ پښتونخوا د ژبو او د قومونو منبع ده ، ددغو ژبو او د لهجو په لړ کې د تاریخي فونیتیکو علامو له مخې مؤرخین او ژبپوهان حکم کوي چه باختري ژبه له یوې خوا د سوغدي ، خوازمي او پارفیاني ژبو او له بل پلوه د معاصرې پښتو ترمنځ موقعیت لري . (۱)

زمونږ په ځوانو ژبپوهانو کې دوست شینواری د کابل مجلې په ۲۲۰ ګڼه کې لیکي زما په عقیده د محققینو دا حکم تر زیاتې اندازې د سره کوتل د ډبرلیک په لوست پورې اړه لري ، ددغې کتیبې د یوه مهم پیرګراف د لوست

(۱) معنی یې داده چه پښتو له باختري څخه جوړه ده او باختري دپکتیانو ژبه ده . نورې باختري ژبې لکه سوغدي ، خوارزمي ، دپارفیاني ژبې هم له باختري څخه سازې شوې دي ، اما مرکزیت په دغو ټولو کې پښتو ته حاصل ؤ او دی ، نو دا د فکر خبره ده دا نورې ژبې سمې له باختري راوتلي دي او که د پښتو په واسطه ؟

دا چه د ق . م په (۴) او (۳) پېړۍ کې یوه مرکزي اریائي ژبه په اراکوزیا کې تثبیت شوېده معنائې دا نه ده چه په همدغه میعاد تینګار وکړو ، بلکه معنا ئې دا ده چه تر دغه وخته لاهم د مرکزي اریائي ژبې څوک په افغانستان کې شته ، مؤرخین وایې چه اصلي اریایي ژبه په اته زره ق م کې په بخدي کې ژوندۍ وه ، مرکزي اریائي ژبه داریایانو له انشعابه وروسته د اصلي اریائي ژبې کوم شکل ؤ .

او تحليـل لـه مخـې چـه زه کـومې نتيجې تـه رسـېدلی يـم او ليکلي مـي دي (۱) نـو هلتـه دا ښـودل شـوي ده چـه د سـره کوتـل کتيبه پښتو ده (۲) دلته به د نجيـب الله خـان د تاليف دا نقل هم بې ځايه نه وي چه وايي "اراخوزيـا ، اراکوزيـا (۳) او اراکوسيـا د لرغوني افغانسـتان هغه سيمه ده چه د هلمند له مرسـتيالانو پـه تېره د ارغنداؤ لـه سينده اوبـه کېدلـه . د سـکندر پـه وخـت کـې ددغـې سـمېې اوسـيدونکو ځـان د (پختـون) پـه نامـه يـاداوه هيرودوت يوناني مورخ په خپلو تاريخي اسنادو کې دا خلک د (پختـوليس) (X) پـه نامـه يـاد کـړي دي ، "ددغـې سيمې مرکـز د کندهار زوړ ښار دي" ، چه وايې يوناني سکندر ودان کړی دی (۴) مګـر ځينـي د کنـدهار د زاړه ښـار ودانـي "کنـدوفارنس" يفتلي پښتون بادشاه ته منسوبوي (۵) .

---

(۱) دا تحليل د کابل مجلې د ۲ ، ۳ او ۴ ګڼه کې خپور شوی دی . (۲) له دې هم ثابتېږي چه باختري ژبـه د اوسنۍ پښتـو مـوږ ده او نـوري باختري ژبـې لکـه سـوغدي ، خـوارزمي او پارفياني يا لـه اصـله يالـه دغـې فرعـي څښـه را توکېـدلې دي . (۳) داسې فکر ته راځي چه دکندهار "الکوزيـان" همدغـه اراکوزيـان دي پـه دې نومونـو کـې د "سـروند د وجـود "خبـره "اريـه" اساس ته رسـوي . نجيـب الله خـان دکابـل د محمـدزو څښه دی چه يـو وخـت د پوهنې وزير هـم ؤ . ده د هغـه کتـاب نـوم چـه پـر افغانسـتان يـې ليـکلی دی "اريانـا افغانسـتان" نوميـدی . ودې کتـل شي ددغـې کتـاب ۱۹۸ . ۱۰۷ مـخ (X) زه پـه خپلـو مراقبـو کـې د پـر وروسته پـه دې خبره پوه شوم چه (پکتوليس يا پختوليس) نـوم پـه اصـل کـې لـه دوه جـزو جـوړ دی اول (پکت ، پخت) او دويم يې (ويس) دی . پکت يا پخت دوه لهجې او د يوه قام نـوم دی (ويس ، ديس ، ديش ، ديز) د عصـر او زمانې د تطوراتو پر اساس د لهجوي اختلاف له مخې د وطن سيمې او هستوګنځي معنی افاده کـوي . پکتـويس يـا پختـويس يعنـي د پکتانـو يـا پختانو وطن نن ددغـې معنـی د پـاره لـه افغانسـتان ، پښتونسـتان ، پښـتيانا ، پښـتونخوا او غروېس ، کلمې منځ ته راغلي دي (۴) د کابل مجلې د ۲۲۰ ګڼې ۳۷ مـخ (۵) دا عبـارت د مؤلف دی ، چه د طقر کاکا خېل له کتابه په کې اخذ شوی دی . (ق - خ)

# ساکي ژبه او پښتو

د نړۍ مؤرخین او ژبپوهان د تاریخي لیکو او یستیکو اسنادو له مخې عقیده لري ، چه معاصره پښتو او د ساکې ژبې لهجې یو تر بله سره نږدې خپلولي لري . (۱) .

خو زما عقیده دا ده چه "که د اوسنۍ پښتو مقائسه د ساکي ژبې سره نه ، بلکه دوه زره کالو مخکې تاریخي پښتو (۲) د ساکي ژبې سره پرتله کړی شي یو شی به وخېژي ، خو متاسفانه د دواړو ژبو د هغه وخت کافي متنونه تر اوسه په لاس کې نشته ، البته عقل همداسې شهادت ورکوي " (۳).

په دې ځای کې به دا خبره ښځایه نه وي چه د باختري ژبو او د هغو په مناسباتو لږ وغږیږو .

---

(۱)کابل مجله ۲۲۰ گڼه .

(۲) ځکه چه پښتانه له زرګونو کالو څخه همدلته موجود وو .

(۳) دا عبارت د مؤلف دی .

# اريائي ژبې

اريـائي ژبـې لـومړی پـه دوه څـانګو ويشـل کېـږي ، (الـف) مرکزي اريائي (ب) هندي اريائي مرکزي آريـائي د تـاريخي فونيټيکـو او نـورو ژبنيـو خصوصـيـاتو لـه مخې بيـا پـه دوه څانګو بېلېږي : اول ، باختري ژبې ، دوهـم پيرسـيک . امـا د مرکـزي اريـائي ژبـو د ويـش دپـاره د "بـاختري" او "پيرسـيـک" اصـطلاح ډېـره موزونـه ده د مرکـزي آريـائي واحدې ژبې دغه انشعاب (۱)

---

**د اريائي ژبو ويش**

(۱) په دې ويش کې لږ اختلاط او د مصطلحاتو ګډوډي موجوده ده ، لومړی بايد اصلي اريائي ژبه چه درې زره ق م نه مخکې موجوده ده او د مرکزي اسيا د غرونو په لړۍ کې ويل کېده په مرکزي اريائي او هندي اريائي وويشل شي ، هنديانو چه تقريباً د دوه زره ق م په حدودو کې له مرکزه مهاجرت کړی او ايرانيان لاڅه زمانه نور هم د باختر په حدود کې پاته وو ، بيا د زر ق م په خواوشا کې د ايران غرب ته تللي دي نو مرکزي آريائي ژبې بيا بايد په :

**باختري او پيرسيک**

بېلې شي ، داسې نه چه باختري او پيرسيک دواړو ته ايراني ژبې وويل شي ، ځکه پښتو ژبه نه په هندي ګروپ کې راځي او نه په ايراني ګروپ کې . دا يوه علمي غلطي ده چه باختري د پرسيک په لړۍ کې وګڼل شي ، له بلې خوا هر کله چه دسره کوتل ډبرليک ثابته کړه چه باختري ژبه عيناً پښتو ده ، نو مناسبه ده وي چه مرکزي اريائي د هنديانو د بېلېدو نه وروسته ، په

**پښتيک او پيرسيک**

دوه ګروپونو وويشل شي او باختري هغه ژبې چه د ميدي ګروپ له بېلېدو وروسته يا مخکې دلته پاتې ده او پښتو سره مقائسه کېدی شي په ، "پښتيک ګروپ" ياد ېږشي ، په دې کې اغلباً پښتو ، مونجاني ، پاميري ژبې داردي کور دي او بلوچي راځي .

د قبل المیلاد په لرغونو وختونو (۱) کې د جغرافیائي، کولتوري، اقتصادي او سیاسي عواملو له مخې په واقعي ډول اړول شوی دی.

مرکزي اریایان، باختریان پښت (پکت، پخت) خوارزمیان سوغدیان، پارفیان (پارتیان) ساک او د منځنۍ اسیا نور قومونه او د هغو په جمله کې د معاصر افغانستان بومي او سیدونکي دي، چه د کسپین د بحیرې د ختیځ او جنوب ختیځ خواته اوسیدل (۲) د دوی د اوسیدلو سیمې د تورکي ژبو خلکو، چین او هند پورې رسیدلې وې.

بالمقابل پیرسیک قومونه یا پارسیان د کسپین د بحیرې لویدیځ او جنوب خوا ته د دجلې او فرات ترمنځه او د مدیترانې خواته خپاره وو(۳) البته دا باید هېره نه شي چه لرغوني او پخواني لوی مهاجرتونه شرق، غرب او جنوب ته اکثره له منځنۍ اسیا او د پامیر له لمنو او د ایندوکوښ له اطرافو څخه شوی دي.

(۱) د دغه انشعاب وخت تقریباً له (۵) څخه د (۸) زره ق م پورې تخمین کېږي.

(۲) په دې علاقه کې د کویر د دښتې نه چه د ایران په شرق کې پرته ده د اورال د بحیرې سکیانګ او شط العرب پورې ساحه شامله ده، چه اوس په څینې ملکونو کې مغولي قومونه ودان دي

(۳) چه له تفلس څخه تر تهران او پورته ترې د عراق او سوریې پورې حدودو ته مراد دي.

(۱) لکه چه د جرمن ساؤ قام اوس هم د باختر سره د مورنۍ او پلارنۍ مینې په حیث مینه لري (۲) نو د پارسیانو ځمکه مادیا ، فارس او خوا شائي (۳) دا چه په افغانستان کې فارسي ژبه ولې شته ، په دې باندې جلا څیړنه شویده (۴) دلته زموږ د څیړنې موضوع باختري ژبې او خاص بیا د ساکي او پښتو ترمنځ خپلوي ده (۵).

---

(۱) کابل مجله ۲۲۰ گڼه ، د لوی مهاجرت اغلبا په (۵ تر ۸ زره ق م) کې دی.
(۲) دا عبارت د مؤلف د ی.
(۳) د کابل مجله همدغه گڼه.
(۴) د کابل مجلې د ۱۳۴۹ کال په (۷) گڼه کې لیکل شوی دی : منځنی فارسي د ساسانیانو په وخت کې له خپل ټاټوبي (فارس) څخه د شمال لویدیځ او خراسان خواته خپره شوه او په اوومه ، اتمه میلادي پېړۍ کې یې یو لړ باختري ژبې او لهجې خصوصاً له ښاري اودولتي مقاماتو څخه له منځه یو وړې او د نورو د استعمال ساحه یې تنگه کړه ، د اتمې میلادي پېړۍ نه وروسته فارسي په ډېره بېړه په دغو پردیو سیمو کې ځیلۍ وغځولې ، په دغه شان د سوغدي ، باختري ساکي ژبو ویونکو ورو ، ورو خپلې ژبې هېرې کړې او په فارسي لگیا شول ، دغه وخت په دې ځمکو د فترت زمانه وه چه په څېنو لا اوس هم تیره نه ده
(۵) کابل مجله ۲۲۰ گڼه.

# باختري ژبې

باختري ژبې هغو ژبو او لهجو ته ويل کېږي چه د ايراني قومونو د نيکونو له مهاجرته وروسته په افغانستان او هغه ته ورڅېرمه د مرکزي اسيا په سيمو يعنې د (کوير دبښتې) * په ختيځو برخو کې مروجې وې ؛ لکه (باختري ، پښتو ، سوغدي ، ساکي ، خوارزمي) پارفياني اونورې ، دغه باختري يا (مرکزي اريائي) ژبې هم په خپل منځ کې په دوه ورو ، ورو ډلو ويشل کېږي:

(۱). شمالي ختيځې باختري ژبې .

(۲). جنوب لويديځې باختري ژبې .

۱ - شمال ختيځې باختري ژبې ، عبارت دي له سوغدي ، خوارزمي او سيکيفي لهجو؛ لکه (اوسيتي)او نورو څخه د دغو ژبو د ويونکو ساحه د مرکزي آريائي ځمکو شمال ته د توري بحيرې تر غاړو غځېدلې وه ، د سوغدي لمن له پارسو او ترکي ژبو له خوا په ورو ، ورو تولسه شوه يوازې يغنوبي لهجه يې پاتې ده .

---

* د کوير دښته د افغانستان په غرب او د ايران په شرق کې شمالا له جرجان او جنوبا تر زاهدان او کرمان ده همدا ځمکه ده چه په ۱۸۴۰ ق م کې د کاسي او کورد په موجوديت په کې تاريخونه شهادت ورکوي ، مشهد او بجند ددې علاقې بيخې په شرق کې پراته دي ، دې ځمکې ته په وروسته زمانه کې خراسان هم ويل شوی دی .

خوارزمي ژبه د ۱۳ ، ۱۵ ع پېړيو په منځ کې مړه شوه ، د سکيفي يعنې پارتي لهجو څخه لومړۍ (الاني) او (سيتي) پاتې دي او بس.

۲- جنوب لويديځې باختري ژبې: ددغو د ژوند او رواج ساحه د معاصر افغانستان سيمه ده او څه يې د چينې ترکستان پورې وړاندې تللې ده ، ددغې ځمکې تاريخي ژبې باختري، ساکي ، هفتالي او نورې دي ، ددغو ژبو ليکلي اسناد يوازې په باختري د سره کوتل د برليک او "په خوتني ساکي" پاتې دي *

* هغه ژبې چه په رسمي يعنې درباري ، تعليمي او دفتري دول نه ساتل کېږي او د نورو سرکاري ژبو د تاثير لاندې راشي ، يا دا چه کوم قام ملي هويت او تشخيص ته پام نه کوي اود نورو سره ګډ شي ، نو اول يې ژبه مري اووريسي د ژبې په مرګ قام هم مړشي ، ځکه قوميت او مليت يوه صيغه ده نه د نسب سلسله او دا صبغه اول په ژبه او بيا په کلچر پورې اړه لري ، خو رښتيا داده چه قومي کلچر هم په ژبه اړه لري ، پښتانه لر دي که بر دي له خپلې ژبې بېخبر دي !

اورانسکي په ايراني ژبې کتاب کې باختري او خوتني ساکي د معاصرې پښتو مونجاني او پاميري ژبو ميندې ګڼي (۱).

زاروبين په خپل کتاب " مونجاني ژبې خصوصيت مخ ۱۲۹ کې ليکلي دي : " د نړۍ د ژبو محقيقن اتفاق لري چه پښتو د مونجاني او نورو پاميري ژبو تر منځ موقعيت لري"(۲).

خلاصه دا چه نامتو ژبپوهاند (ی م اورانسکی) عقيده لري چه د غه ټولې جنوبي باختري ژبې چه په پښتو او ټولې پاميري ژبې په کې شاملې دي، دلرغونو (ساکو، تخاري ژبو) پاتې شونې دي او د ښاغلي زاروبين نظريه لاتر دې هم لړه د مخه ده.

---

(۱) د اورانسکي د نظريې معنی فکر ته داسې راځي چه باختري او خوتني ساکي يو شی دی، خو د مورولۍ نسبت يې پښتو ته راجع کيږي.

**پاميري ژبې دا دي :**

شوغناني، مونجاني . داخاني . ايشکاشمي، يازګاکوليامي.

(۲) ترمنځ موقعيت معنی داده چه پښتو ئې مور ده، ځکه چه دا خو مور وي، چه ټول اولادونه ورنه چاپيره وي او وايې په منځ کې واقع دي او ټولو ته ئې نسبت يوه شان دي.

حقيقت دا دی چه زاروبين د نړۍ د ټولو ژبپوهانو د اتفاق په صورت کشف کړی دی، ځينې علماء لکه اورانسکي هم دې حقيقت ته رسيدلي دي، خو عبارت يې د يقين داسې اظهار نه کوي لکه ښاغلی زاروبين چه په صريحه لهجه د غه حقيقت څرګند کړی دی.

خو پته دې پاتې نه وي چه پښتو ته د ژبپوهنې له مخې کولو ډېره لوړه موده کيږي وروسته تحقيقات واقعيت حق اليقين ته ورسوي، ولې کاشکې چه د پښتو دنيا د غه ابتکارات په خپله کړي وای، خو ډېر افسوس !!!

!! لنډه دا چه دا ټول تاريخي اسناد دپښتو او ساکي په خپلوی شهادت ورکوي !! .

دلته دا خبره هم د هېرولو نه ده چه د ق م په ۲-۴ پېړيو کې د پښتنو د پاروپاميزاد او د ګندارا ولاياتو غربي سيمې د ساکو د نړۍ سره مشترک سرحد و نه ـ سري (۱) نجيب الله خان په خپل کتاب (اريانا افغانستان) کې ليکلي دي چه پاروپاميزاد د لرغوني افغانستان هغه سيمه ده چه يوه مهمه دره ئي (کوفن کابل) ؤ * ددغې سيمي يو مشهور ښار رارتوسپان : د کابل معاصر ښار دی او نور يې (کارتانا او کادروسي) وو .

(۱) مخکې هم ويل شوي دنيا چه د ق م په (۲-۵) پېړۍ کې پښتنو د ګندارا په ولايت کې لوی دولت جوړ کړی ؤ .

* له عقله لرې نه ده چه مخکې غبار ښودلی (Kipin) د نجيب الله خان دا (KOFAN) سره يو شی دی ، که څه هم غبار د کی پن موقعيت د ارغنداو په حدودو کې او نجيب الله خان کوفن د کابل په ولايت کې ښودلی دی.

## کینت KENT

دا لغت په ساکي ژبه کې د ق م د (۴۰-) پېړۍ پورې د ښار يا کلي په معنی ؤ ، د پښتو او هغو ته ورڅېرمه سيمو په نومونو کې ښار ، علاقې ، کلي او ناحيې په معنی اوس هم په لږ تغير پاتې دی ؛ لکه تاشکند ، يارکند ، کوکند ، سمرکند ، چمرکنۍ ، ملکنۍ ، (      ) (۱) لغت د پښتو په محاوره کې کندی شوی دی او اوس هم د مځلې او ناحيې په معنی شته او مستعمل دی .

---

(۱) (      ) په لومړي چاپ کې د ملکنۍ څخه وروسته خلا او سپين ځای پاتې دی ، چه په غالب گومان يو نوم د چاپ څخه پاتې شوی دی ، نو ما هم د (      ) په شکل کښې مبې رانقل کړ. (روښان خادم)

# ساکي ژبه

په معاصره ژبپوهنه کې چه کله دساکي ژبې نوم اخستل کېږي ، مراد ورنه هغه باختري ( مرکزي اريائي) ژبه ده چه متنونه ئې په براهمني ليک ليکل شوي دي ، ددغو متنونو او کتيبو ليکلو نېټه د پنځمې ميلادي پېړۍ پورې تاکل شوېده ، ددغو متنونو زياته برخه په نظم او نثر کې د هغو بودائي آثارو ژباړه ده چه متنونه يې په هندي براهمني ليک ليکل شوي او د سانسيکريت نه ترجمه شوي دي ، دغه متنونه کله د "خوتني ساکي" او کله يوازې د "خوتني" په نامه يادېږي ، په دغو موندل شويو اسنادو کې دغه ژبه د (هوتنه :خوتني) په نامه ذکر کېږي .

د خوتني ژبې خپلوان دياليکتونه په چېني ترکستان کې خوتن ته په ورنږدې سيمو : (مورشوک) او تومشوک کې خپاره وو چه په موجوديت يې دغه موندل شوې کتيبې دلالت کوي ، تردې چه دغسې لهجې او دياليکتونه لاپه يوولسمه عيسوي پېړۍ کې هم په کاشکار (تاشقار) کې ژوندي وو ، د چيني ترکستان په دښتو کې موندل شوي اثار په دې شهادت ورکوي چه باختر ، ماورالنهر او سيستان باندې د تخاري ساکو دمکررو يرغلونو څخه وروسته باختري ژبه د لومړيو زرو او وروستنيو زرو ميلادي کلونو ترمنځ موجوده ده .

وروستني تحقيقات ثابتوي چه خوتني ژبې هم دوه مرحلې تېرې کړي دي:

(۱) زړه خوتني.

(۲) نوې خوتني.

لرغوني خوتني ساکي د لغت له مخې ډېره بډایه وه، اسم يې اوه ګرامري حالتونه لرل، وروستنۍ خوتني نسبت لرغوني ته د فونيتيک په پراختيا ت، د عدد (مفرد، تثنيه، جمع) په اختصار او د اداتو په مرسته د ګرامري حالتونو په افاده بېلېږي، د فونيتيک په لحاظ خوتني د لرغوني اريائي (مرکزي اريائي) نه چه مونږ يې باختري هم بولو، ډېره په ځنګ شويده، د ساکي ژبې نورې لهجې لکه (تومشرک) تر زياتې اندازې پورې د فونيتيک په لحاظ خپل لرغوني خصوصيات ساتلي دي.

# د خوتني ژبې د څو لغاتو مقائسه

۱. اس ، په خوتنۍ : (اسه) په زړه پارسۍ ( اسه) په اوستا (اسپه) (۱)

۲. زه ، په خوتنۍ: ( اسو) په زړه پارسۍ (ادم) په اوستا (ازم)(۲) .

۳. غر ، په خوتنۍ : ( ګره) په سوغدي ( غر) په اوستا (ګیری)*

۴. زوی ، په خوتنۍ : ( پوړه) په زړه پارسۍ ( پوتره) په اوستا (پوتره) په پارفیائي ( پوهر) په پښتو کې دا کلمه د (تربور) او ( بوره) په ریښه کې پاتې ده .

۵. شپه په خوتنۍ ( شو) په زړه پارسۍ ( خشپ) په اوستا (خشپ) (۳).

۶. څرمن ، په خوتنۍ: ( څرمن ) په زړه پارسۍ ( چرمن) په اوستا ( چرمن) .

---

* پښتو کې اوس هم چونه ئي کانکریتي ځمکې ته ګاره وایې او د غره خالي ځای ته غار ویل کېږي ، ګاره او غار د ګره او ګیري سره ډېره لګوي .

(۱) په پښتو کې (اس) او (اسپه) دواړه کلمې شته یو ه د مرکز او بله د مونث په ډول .

(۲) د اوستا (ازم) د پښتو د (زما) سره نږدې والی لري .

(۳) د افغانستان په پارسۍ کې هم (شپی) ته (شو) وایې چه له خوتنۍ پاته دي .

## د خوتنئ ساکي د تومشوک د لهجې یو متن

۱. اسودهارما داسې بارسه سارانیه څمي.

۲. داته سارانیه څمي.

۳. سنګا سارانیه څمي.

۴. دیتانا دریتانا هوانامي.

## په غربي تورو

۱. ASU DHARMA DASI BASA SARANYA CCHAMI.

۲. DATA SARANYA CCHAMI.

۳. SANGA SARANYA CCHAMI.

۴. VITANA DRITANA HAVANAMI (۱)

(۱) حبیب صاحب وایي: (دری تنه) نه ده (تری تنه) ده.

## د متن ترجمه

الف: زه د هارما داسې دبووا پناه ته ځم.

ب: د انصاف پناه ته ځم.

پ: د ټولنې پناه ته ځم.

ت: دوه واده درې واره وایم.

## د متن شرحه

د هارمارداس د کوم بودائي بادشاه نوم دی، دی د مذهبي تعهد او میثاق په ډول حلَف کوي.

د بادشاه دا څلور فقر ایزه لوړنه ټول رعیت او ګړو ته تبلیغ او لاز ښوونه وه چه ای خلکو تاسو هم دغسې وکړئ، قوي احتمال شته چه دا جملې د وظیفې او ورد په شکل تلقین کېدې.

د هغه وخت بادشاهان مذهبي مشران هم وو یا دا چه مذهبي مشران به بادشاهان هم وو.

## معنی یې داده

زه د بودا د مقدس روح پورې پناه نیسم، د نفس د ټولو بدو نغوتو څخه د انصاف او رحم سنګر ته پناه وړم او نجات په دغه عمل کې غواړم.

ټولنې ته پناه وړم او د خلکو خدمت کوم، زه دوه درې واره دا تعهد کوم.

## د متن لغتونه او ترکیب

الف: اسود مفرد، متکلم، شخصي ضمیر دی؛ لکه (زهٔ).

ب: د هارماداسي، مفرد خاص نوم دی په فاعلي حالت کې.

پ: بارسه خاص نوم دی * په مجرد حالت کې زوَر دَ جري حالت علامه ده.

* . ماته اعزازي یا خطابي لقب معلومېږي؛ لکه مشران او درانه خلک چې په لقب ذکر کېږي او هغه لقب بیا داسې شي لکه خاص نوم، خو دا ښه خبره ده چه مونږ د بارسه معنی که وزکړې ده او دا څکه چه هیڅ تاریخ د بودا محض نوم بارسه نه دی ذکر کړی بلکه دا چه پیغمبران په خاص نوم یادول بې عزتي ګڼل شوي ده. (خادم)

ت : سارانیه : عام اسم ، مضاف واقع شوی دی ، مضاف الیه ئي (بارسه) دی ، سارانیه ، د سویري په معنی دی ، چه لفظي تناسب هم ورسره لري.
ټ : څمې ، مفرد متکلم بالواسطه متعدي د حال فعل دی چه بارسه سارانیه یې مفعول اله واقع شوی دی ، نو د بارسه سارانیه څمې معنی دا شوه ، د بودا ؤ سیوری ته ورځم.
په (څمې (کې (مې) د واحد متکلم حال فعل ضمیر دی ، نو فعلي رینبسه په کې یوازې (څه) پاتې شوه ، دا رینبسه په اورمړي کې هم (څه) ده ، په (اویستئ) کې (څو) او په کوردي کې (چون) ده.
په موجوده معیاري پښتو کې د حال دفعل واحد متکلم صیغه (ځم) ده ، په همدغه مقام کې څمې صیغه او شکل زمونږ د پکتیا د ځاځیو په لهجه کې وجود لري ، زمونږ ځاځي عزیزان وایې : (کور ته څمې ، ډوډۍ خوره مې ، بیا ویده کېږي مې) (۱).
ج ، داته : په داته کې اصلي کلمه (دات) عام اسم دی ، زوَر ورته دَ عامل په سبب راغلی دی ، ځکه چه دلته هم (داته سارانیه) مضاف ، مضاف الیه مفعول واقع شوی دی.

---

(۱) دا وروستی پیراګراف د خادم دی ، نور عبارات د کابل مجلې ۲۲۰ ګڼې څخه اخستل شوی دی.

د خوتني (دات) د پښتو د (دود) په منځنۍ پارسۍ (داذ) او د اوسنۍ د (داد) د زړې پارسۍ د (دا) او د هندۍ د (دها) سره چه څنګه په ریښه کې خپلوي لري.○

○ په معنی کې هم سره بیخي نږدې دي (دعدالت، رحم، دود، دستور معنی د هندي لغت معنی (رغولو جوړولو) ته خورا نږدې ده.

خ، سنګا: عام اسم دی، په دریم حالت کې د ټولنې او جامعې په معنی یا په بل عبارت مفعول واقع شوی دی.

ځ، ویتانه: د دوه څله په معنی د شمیر نوم دی لکه (دوباره) اصل لغت په کې (وي) دی.

چ: دریتانه: (دری څله) اصل لغت په کې (دری) دی، چه کټ مټ پښتو دی، دا لغت په اوستا کې (دزایه) دی.

ځ: هوانامي: د (وایم) په معنی د حال د فعل واحد متکلم صیغه ده، اصل یې (هون) دی، دا صیغه په هم دغه شکل او اشتقاق د (ځمې، خوره مې، هوانامې) غوندې د پکتیا په لهجو کې ژوندۍ ده، البته مونږ (هونه) د ویلو په معنی پښتو کې څرک نه لرو.

دوهمه برخه

## ساک پښتانه دي

څکه چه ددوی د پیدایښت اصلي ځای د ایندوکوښ لمنې دي * دلته پیدا شوی دی ، دلته ډېر شوي دي او له دې ځایه خپاره شوي دي له دې ځایه یې عروج کړی ، دلته یې نزول کړی او همدلته اوس هم په ډېر لوی شمېر موجود دی. **

(۲) د هیرودوت په روایت : د سهاکو لومړی نیکه (ترګیتای) په یو وچ ډاګ کې پیدا شو ، پلار یې اسمان او مور یې د سنید لور وه ، ددې روایت معنی دا ده چه سهاک قام د وطن د آدې زوی دی او مهاجرنه دی راغلی.

(۳) د ایندوکوښ دواړه پلوه لمنې ، له امو تر اباسیند او جیلمه ، او له پامیره د شط العرب او د هند د دریاب پورې، په دې سیمه کې د غرونو ، سیندونو هېوادونو ، قومونو ، قبائلو ، ژبو ، عتیقه آثارو او مهاجرتونو څخه په ډاګه

* د مسکو د اکاډیمی د علما د تحقیق له مخې.

** دا وروسته عبارات د مؤلف دی ، د همدې کتاب مخکې عنوان "په موجوده پښتنو کې سهاک قومونه" مضمون او شرحې ته دې رجوع وشي.

معلومېږي چه دا پښتني سيمه ده ، تاريخ نشي ښودلای چه له کله ، لکه چه " لين پول " ويلي دي. *

(۴) د ترګيتای بابا د درې واړه زامنو نومونه په څرګند ډول ناري وهي چه مونږ پښتانه يو ، وګوري لورکزی ، اړپوکزی او کولکزی ، د بابا په نامه کې فکر په کار دی څکه چه د درې زرو کالو وړاندې خبره ده ، دا عينا لکه د قيس بابا او د درې واړو زامنو دنومونو مسئله ئې (۱) .

(۵) د ئېوي تسکورې او کاسي د روايت تدقيق ، څرک د بابا آدم پورې ورسوي ، بابا آدم غنم ، جنت او د بابا آدم له جنته وتل او د (حوا) انا قصه په اسماني کتابونو او ورته منسوبو روايتونو کې موجوده ده .

همدغه شان چينيان هم په خپلو رواياتو کې د څان د پاره جلا بابا آدم لري چه " پانګو " نومېږي ، دوی وايي چه دا هغه لومړی سړی دی چه په چين کې پيدا شو او له ده څخه نور خلک وزېږېدل .

(*) دا نوم حبيبي صاحب هم لين پول ښودلی دی خو په څينو ځايونو کې (والين پول) هم ليدل شوی دی .

(*) ودې کتل شي د مؤلف په بل قلمي کتاب " نوې لاز " کې د " پښتنو د تاريخ په باب اساسي څېړنه " مضمون په درې مکالمو کې ، له هغې شرحې او بسط نه دلته ډډه کېږي ، (خادم) .

(۱) په ظاهره خوقيس عربي نوم دی او زامن يې سړبن ، غرغښت ، او بېټن صاف او سوچه پښتو نومونه لري، دلته بله هيڅ خبره نشته خبره هم دومره ده چه پښتنو په خپله د خپل تاريخ کلچر او ژبې ليکلو څخه غفلت کړی دی او يا دا چه د زماني سيلاب زمونږ علمي ادبي اثار وړي دي ، لکه چه پټه خزانه او نور تحقيقات په دې باب شهادت وايي . (خادم)

﴾۲۸﴿

## (۱) حقیقت هر څه چه وي خو دا روايات په دغه هېوادونو کې د انسان د پيدائښت ډېر قدامت او اصالت ښيئ (۲).

(۱) د ۱۳۵۱ هـ ش په میزان کې زه د يوې رسمي ډلې سره چين ته ولاړم ، ددې ډلې رياست د سردار سلطان محمود غازي په غاړه او غړي يې ډاکټر انس محمدزی او ډاکټر محمد عثمان انوري او يو بل کس وو ، يوه ورځ ما د خپلو ملګرو په مخکې دا خبره وکړه " کوم وخت چه زه په يوه مملکت کې هسې تېر شم هم اجتماعي حالت يې راته څرګندېږي" دوی دا خبره په حيرت سره واوريدله ، ماوويل : " دغه دی زه درته وايم چه چين يوه بيله او خانته دنيا ده چه حتی بابا ادم به يې هم بيسل وي " د دوی تعجب لازيات شو ، ما ويل راځئ له خپلو لارښوونکو کوربنو چينيانو څخه به پوښتنه وکړو ؟ دوی ويل ښه ده کنه ، نو زمونږ په ميلمه پاله چيني ډله کې يو کس و چه ((نورالدين ماشين)) يې باله او د کابل د ادبياتو په فاکولته کې يې پښتو او فارسي زده کړې وه ، هغ ته مو ورغږ کړ ، راغی او ترې پوښتنه مو وکړه چه ستاسو روايات څه وايي په چين کې لومړی څل انسان څنګه پيدا شو ؟
ده وويل : " لومړی ځل په چين کې يو انسان پيدا شو چه ((پانګو ((PANGO)) نوميدو ، له هغه څخه نور خلق وزېږېدل " په دې کې زمونږ د حرکت پروګرام راورسيد او مونږ پاسيدو . (خادم)
(۲) په دې باب کې نور تفصيل زمونږ په بل قلمي کتاب ((پښتنې تاريخ پوهنه)) کې لوستل په کار دي . (خادم)

(۲) د سهاک بابا په نامه په بامیانو کې د سهاک بابا دښار کنډوالې چه ډېر لرغونتوب ښئي ، تر اوسه هم لا شته چه د سهاک د ځوځات د يوې کورنۍ د واکوالۍ تاتوبي (پايتخت) ؤ او سهاک پټې خزانې د غوريانو او سوريانو وړاندې نيکه ښودلی دی چه تاريخونه يې د «ياما ، يم ، جم ، جمشيد» د باختر د لومړني بادشاه چه «هوما= هما» يې په پنجو کې نيولی تاج له اسمانه راکوز کړ او دده پر سر يې کيښود ، معاصر ښئي او د سهاک او جمشيد مبارزه تاريخونو ضبط کړېده ، چه بيا سهاک پرده غالب شو ، جمشيد له ميدانه په تېښته کې مړ شو او سهاک د باختر په تخت کښيناست (۱) .

(۷) د ساکو د لوئي اتحادي (فدرالي حکومت) د امپراطوری د بادشاهانو بادشاه (زرينه ملکه) ډېره مشهوره وه ، د زرينې نوم ، ددې کردار او کسات نه پرېښودل ددې پر سو چه پښتنولۍ صريح دلالت کوي .

(۸) د ساکو بله لويه امپراطوري په (پارتيانو ، پارفيانو) کې وه چه پنځه سوه کاله يې دوام وکړ او د روما د دولت سره يې ټکرې وهلې (فارس ، پارسي ، اپاريتي ، اپريدي ، افريدي او بهارت) ددغه نامه او د دولت بقايا دي .

---

(۱) زيات تفصيل دپاره پټې خزانې ، زمونږ په قلمي کتابونو «نوي لار» او د «پښتني تاريخ پوهنه» کې همدغې موضوع ته رجوع په کار ده . (خادم) .

چه دوهم وار مؤسس يې "ارساس" د باختر د "پښت" د کورنۍ او قام شخصي ؤ (۱) پارتيا ډېره مخکې موجوده وه، بيا يونانيانو رنګه کړه، ارساس بيا استقلال وباخښه.

(۹) د ساکو دريمې لوئي امپراطورۍ مرکز په ارغنداو او تيکسلا کې وو چه له دې ځايه يې د افغانستان او هند په ډېرو برخو واک (حکومت) درلود.

د ديو دور مورخ د وينا له قراره د ساکو ښځې ډېرې زړورې وې، دوی به په ټولو جګړو کې د خپلو مېړونو سره ګډون کاوه، مګر زرينه د ساکو د ټولو ښځو په نسبت زړوره وه، هغې خپل ولس د ګاونډيو توکومونو له غلامۍ څخه خلاص کړ، ډېر ښارونه يې ودان کړل او د خپل رعيت تکليفونه يې کم کړل چه د ديو دور دا ليکنه سړی ولولي، په هند کې يې «سلطان بهلول لودي» او حضرت شيرشاه سوري عليه الرحمه سترګو ته نيغ ودرېږي، دا کارونه د پښتنو دي.

(۱) وايي چه ارساس د خپل قام په سردارۍ راغی، او د ايران په جنوب مشرق کې د پارسيا دولت له يونانيانو خلاص کړ او پارتيا يې بېرته ازاده کړه، مؤرخين په يوه خوله وايي چه ارساس د پښت له تکومه باختري پښتون ؤ، زموږ په چاپ شوي کتاب «نوې رڼا» کې د پارتيانو د حکومت د عنوان لاندې دا بحث په تفصيل سره راغلی دی. (خادم)

(۱) ژبـه د قوميـت دتولـو دلايلـو څخـه قـوي دليـل (۱) او ممتـازه نښـه ده پـه دې بـاب زمـونږ ځـوان عـالم دوسـت شينواري د کابـل مجلـې پـه ۲۲۰ ګڼـه کـې ليکلـي دي : ( مؤرخين او ژبپوهان ، حکم کوي * چه باختري ژبه له يوې خوا د سوغدي ، خوارزمي او پارفيـاني ژبـو سره او لـه بلـې خوا د معاصرې پښتو ترمنځ موقعيت لري ، دا حکم تر زياتې اندازې د سره کوتل د کتيبې پـه لوست او تخيـل بنا دی او د هغه تحليل له مخې چه زه علماً ور رسيدلی يم ،

---

(۱) يو بل قوي دليل دلته شته هغه دا دي چه ساک د سهاک په تلفظ د قوموتو ، قبيلو او عشائرو په شکل نن يوازې په افغان ولس کې په يو ډېر لوی تعداد ې موجود دی چه ژبه يې تر اوسه پښتو ده ، نو څنګه په دې کې شک کېدی شي چه ساک پښتانه نه دي ؟؟؟

* حکم کوي البخ داکتر مستمندي وويل : " پروفيسور خوسمن د فرانس نمائنده چه ۱۸ کاله په افغانستان کې په لرغون پېژندنه مصروف ؤ ، په خپله خطابه کې وويل : دغزني د ناور د دشتي د کتيبې له کشفه وروسته دې نتيجې ته ورسيدو چه باختري ژبه او پښتو له يوه اصل څخه بيلې شوي دي " .

له دې بيان څخه د پښتو قدامت نور هم ورانديز دروميي او پښتو او باختري بيخي نږدې کېږي ، مګر ياد ساتل په کار دي چه پروفيسور فوسمن معاصره پښتو او منشعبه باختري ژبه ښودلې ده ، نه لرغونې پښتو او مرکزي باختري ژبه چه د مرکزي آريائي ژبې سره يو شی دی .

د سره کوتل کتیبه پښتو ده" (۱) د همدغې مجلې په ۴۲ مخ کې لیکلي: "په معاصره ژېپوهنه کې چه کله د ساکي ژبې نوم اخستل کېږي، مراد ترې، مرکزي اریائي ژبه" ده (۲)
چه متنونه یې په هندي براهمني لیک پاتي دي.
غټه خبره دا ده چه کوم موندل شوی لیک مونږ وښود په هغې کې (ثمی، داته، ویتانا، وریتانا) او نور لغات یا چور د نننۍ پښتو سره سرخوري او یا دا چه د باختري ژبو سره اشتقاقي یو والی لري.
د جملې سازولو او نحوی ترتیب په لحاظ خو بیخي اوسنۍ پښتو ده، چه دا یووالی په ژبه کې له لغوي تناسب څخه زیات اهمیت لري. (۳)
(۲) البته په دغومره لوی قام کې نور اقلیتونه هم وي چه د اکثریت د کولتور منونکي او تابع وي، دغسې اقلیتونه د لوی واحد ملت له اجزاؤ څخه گڼل کېږي په قانون او حقوقو کې د پوره حق خاوندان وي.
مخکې د پتولیمي نومې مورخ له خوا د ساکو د واکمنۍ په

---

(۱) چه مرکزي باختري د نورو باختري ژبو او پښتو ترمنځ موقعیت لري او د سره کوتل ډېر لیک چه په باختري ژبه دی پښتو دې ته اساساً باختري ژبه پښتو او د تولو مور شوه.
(۲) په دې حساب مرکزي آریائي ژبه، باختري ژبه، ساکي ژبه او پښتو ژبه یو شی گرځي.
(۳) ستالین په خپل کتاب قومیت او ژبه کې لیکلي دي چه د ژبې اساس لغت نه دی بلکه هغه واره، واړه آوازونه یعني سفکس او پروفکس دي او د نحوی ترکیب په اصالت خو ډېر علماء قایل دي.

سیمه کې د بلیت قبیلي نوم او بالتستان یاد راغلی دی چه وایې زیات په کې داردیان دي.

خو وروسته یې د ساکو ژبه او کولتور منلی او ساک شوي دي، ((۱)) ي، م اورانسکي نامتو ژبپوهاند عقیده لري چه ټولې جنوبي باختري ژبې (پښتو، پشي، نورستاني، چترالي، ختني، کشمیري، پامیري او داسې نورې) د غربي ساکي او تخاري ژبو پاتې شوني دي چه په باختري نامه کې شریکې دي)).

کوهن او ګریرسن وایې، چه ((نورستانیان د نورو داردي قومونو په شمول هغه وخت له، مرکزي آریائي باختري ستې څخه جلا شوي دي، چه لا په (هندو اروپائي) څانګو نه وو بېل شوي)).

د نورستانیانو د نژاد او د هغو د ژبو په باب وروستني تحقیقات وایې چه دوی د داردي قبائلو یوه مهمه پښه ده او ژبې یې د داردي ژبو یوه څانګې څانګه ده چه لوید یځه څانګه یې بولي.

(۱) دا وینا زمونږ دا قول اثباتوي چه قومیت یوه صبغه ده، نه د نسب سلسله. (خادم)

(پانيني) وايي : په پښتو کې د ټولو داردي ژبو ګډون موجود دی (۲) پخوا پښتو ته «مشهوره اسماني او الهامي ژبه» ويل شويده، په جغرافيائي لحاظ د نوح ع له طوفانه مخکې د (هرپرش) د (بري ويش) ژبه وه او د نوح ع له طوفانه وروسته د (لري دېش، بري دېش) دوارو ژبه وه او د (۵۰۰۰ ق م) نه د پښتونخوا په دې سيمه کې ويل کېږي) (۳).

---

(۱) د کابل مجله ۲۳۵ ګنه روسي منابعو په حواله.

(۲) معنی يې دا ده چه پښتو ژبه د داردي ژبو دپاره د ستې حيثيت لري او رشتيا چه فلالوجي تحقيقات هم دغه مدعا اثباتوي.

(۳) له پانيني څخه نقل شوی عبارت تر دې ځايه د (عبدالحليم اثر) دی، د کوټې ولس مارچ ۱۹۲۷ ع څخه، هرپرش، بری دېش توضيح غواړي چه تر اوسه پرې نه يو موفق شوي، خو د اټکل له مخې (لر او بر) خو د پښتو مروج لغتونه دي، دېش يا (دېس) هېواد ته وايي، دا مصطلحات به د سانسکريت وي، اغلباً (هرپرش) به د پخواني (بهارت) مرادف، (لري ديش) به له (اباسينده ښکته وطن او (برش دېش) به له اباسينده پورته هېواد وي او دا عقل ته نژدې ده، ځکه چه «سنسکريت» د يوې پخوانۍ عامې ژبې «سم کړی شوی: تصفيه شوی: معياري شوی» صورت دی چه په غالب ګومان دغه ژبه «پښتو» ده، زموږ استاذ پانيني په خپل مشهور شاهکار د «سنسکريت ګريمر» په ټيکسلا کې چه د بري ديش او لري ديش فاصل حد دی ليکلی دی، پوهنه د خدای ده.

# ساک او کاسي

که تاسي په «نوې رڼا» کې دا مضمونونه ولولئ: کوشانيان څوک وو؟ غوريان څوک،، ؟ د پښتنو د لرغوني تاريخ يو فصل (پارتيان څوک وو؟) او دا رنګه په «نوې لار» کې دا مضامين مطالعه کړئ چه «درې نيم زره کاله مخکې د پښتنو د تاريخ يقيني برخه» د «غور سيمه او غوريان»، «د افغانستان د تاريخ غټ ټکي» او بيا په همدې وروستني کتاب کې (۱) هغه کانفرنسونه وګورئ چه د تاريخ په باب کې د مکالمو په شکل ليکل شوي دي، نو تاسو ته به د زاړه افغانستان يو نوی تصوير مجسم شي، البته د پښتنو د تاريخ په باب «پښتنې تاريخ پوهنه» هم په ژوره مطالعه ارځي (۲) که دا کار وکړئ، نو يقين دی چه دا قام به درته ډېر لوی، عظيم او موثر ښکاره شي او زمونږ د زړو آثارو د متخصص موسيوشلومبرژي فرانسوي غونډې به زمونږ په موجوده حال د تاسف ګوته په غاښو

(۱) نوې رڼا او نوې لار د مؤلف کتابونه دي، نوې رڼا په ۱۳۴۰ ش کې چاپ شوی او په افغاني ادبي محافلو کې يې زيات شهرت پيدا کړی دي، دا کتاب تراوسه د کتابونو په پلورنځو کې پيدا کېږي. نوې لار تر اوسه چاپ شوی نه دی، هيله ده چه ډېر ژر چاپ او تر نوې رڼا زيات مفيد واقع او خلک يې قدر وکړي: دا کتاب په ۱۳۴۸ ش کې تکميل شوی دی.

(۲) پښتنې تاريخ پوهنه، په ډېر زيار او زحمت د مؤلف له خوا ليکل شوی دی اکثره يې مضامين په کې راغونډ شوي دي، که څه هم کتاب د پښتنو د تاريخ پر مهمو خواو بحث کوي خو په کتاب کې د روايت سره درايت هم په کار لويدلی دی، دا کتاب په ۱۳۵۱ ش کې پوره شوی دی، چه لا ورته د چاپ چانس په لاس نه دی راغلی.

ونیسئ او وبه ژاړئ (۱) مخکې تاسو ولوستل چه د میلاد نه په زرکاله مخکې او زر کاله وروسته په دوه زره کاله موده کې د "ساکو" شومره عظمت په افغاني دنیا کې ښخ دی! همدارنګه د "کاسي" نوم د میلاد نه (۱۷۰۰) کاله مخکې تاریخ ثبت کړی دی چه تر نن پورې د غرونو، دریابونو، قومونو او ملکونو په نومونو کې ژوندی پاتې دی (۲)، د لغمان د الیشنګ درې (کسیګر) او د کونړ د ګوریک نه وربر (کاشکوټ) زمونږ د سترګو لاندې د کاسي یاد تازه کوي. د کاسي په نامه اوس هم په غور، کوټه او د لوی پښتونخوا په سیمو کې د هر پښتانه قومونه لرو چه ژبه یې لا اوس هم پښتو ده، تر ټولو غټه لا دا ده چه قیس عبدالرشید افسانوي شخص عربو د کاسي له نامه جوړ کړی دی، یعنی کاسي د دغه شخص قومي

---

(۱) مرسیلو شلو ممبرزي یو ځای لیکلي دي چه زه د افغانستان د تاریخي عظمت مقابله د موجوده حال سره وکړم نو ژړا راشي، دا ملت د هر لوړ ځای نه د هر کښته را لویدلی دی. (خادم)

(۲)، د لغمان د، کسیګر، او د کونړ (کاشکوټ) نه پرته چه کوم نومونه همدا اوس زمونږ یاد ته راځي (کسپین. کاشیک، کسی غر، کفکاسي (قفقاز) کشمیر، قافکاز او کاشغر دي، په دغو ټولو کې د (کاسي) د کلمې څرک شته، نو له دې څخه دا استنتاج کېدی شي چه په پخوا وخت کې په دغه لویه ساحه چه تر بنارسه رسیده کاسي قام د هره زمانه واک چلولی دی، ځکه چه یو قوم د کلماتو په ریښه نوتل او د سروند او پسوند حیث قبلول سوونه او زرګونه کاله غواړي او تر دې په لږه زمانه کې نه کېږي. (خادم)

نوم دی ، عربو ورته (قيس) ساز کړی دی او بيا ئي عبدالرشيد ورپوري ضميمه کړی دی .
دلته دا هم بايد وويل شي چه د (قيس ، کيس ، کاسي ، بابا اولاده چه سړبنيان ، غرغښتيان) او بتنيسان دي ، دا ټولکاسيان حسابيږي ، دکندهار بړيڅ قوم چه مشهور فتح خان د رابيا ګلې مين اود قصې هيرو هم له دغه قومه دی دا هم کاسيان دي ، شينواري هم کاسيان دي ، تر دغو قومونو پرته نور پښتانه قومونه ؛ لکه غوريان ، لوديان ، سوريان ، دلـه زاک او نور ټول بايد سهاک وګڼل شي ، نو په دې حساب بايد دا مفکوره سمه او سهي وبلل شي چه (۱)

پښتون په اصل کې ټول غلجی دی
له غره پيدا دی دغه يې ځی دی .
د (پښت) له پښتنه را ټوکيدلي
که څوک سهاک دی او که کاسي دی

(خادم)

---

(۱) دا مفکوره چه په لاندې رباعي کې بيان شويده . د خوشحال خان د دې رباعي په مقابل کې ده « پښتون په اصل کې سړبنی دی | يا غورغښتی دی يا بيټني دی
لر دي غلجي دی د بيټ له لوره | په سړبن پورې بيا کرلاڼی دی
د خوشحال خان دا رباعي د هغه وخت د روايت په بنا ده ، علمي نه ده . هغه وخت د نژاد پيژندنې ، ژبپوهنې او لرغون پيژندنې علم پرمختګ نه و کړی ، اوس د علم په رڼا کې څرګنده شوه چه « پښتون » د قيس نه چه شپږ سوه کاله تاريخ لري ، زرګونه کاله وړاندې او لرغونی د افتخاراتو او وياړ څخه ډک عمر لري او د پښتنو تاريخ په وضاحت سره نهه ، لس زرو کالو ته رسيږي .
په دې باب کې دزياتو معلوماتو د پاره زمونږ ناچاپ شوي کتاب « د پښتني تاريخ پوهنې » ته رجوع پکار ده . (خادم)

کاسي قام هم د سهاک په شان دهند په ډېرو برخو واک درلود ، د آئين اکبري په قلمي نسخه کې چه د (۱۳۵۰) په ژمي کې د لاهور د شاهي کلا په موزيم کې وليدله په کې ليکلي وو «کاسي باول ممدود سين مهمله وياى معروف نام موضع معظم معبد هنود ، و شهر بنارس همان است» د دينه معلومېږي چه د کاسيانو په حکومت کې يو وخت بنارس هم داخل ؤ (۱) (کاسي او ساکي) پرته له دې چه اشتقاقا يوه کلمه معلومېږي ، نو که (ى) چه نسبتي ايسي ورنه لرې شي نو (کاس ، ساک) به پاتې شي چه په اسانۍ سره يو له بله مقلوب فکر ته راتلی شي ، نو بيا په دې کې څنګه شک کيدی شي چه د ميلاد نه زر کاله مخکې (ساکي) به هماغه ميلاد نه (۱۷۰۰) کاله مخکې (کاسي) نه وي ؟ حال دا چه دواړه قامه اريائي دي ، د دواړو وطن او هېواد يو دی ، دواړه کوچي قومونه وو چه بيا يې مدنيتونه تاسيس کړل د دواړو په نامه اوس هم ددوی په ابائي ځمکه کې قومونه شته چه پښتو وائي (۲) ظفر کاکا خېل

---

(۱) د خادم ياد داشتونه .

(۲) د خادم ياد داشتونه .

دېته اشاره کړېده چه د شنسب کورنۍ غوریان او تر ې مخکې سوریان د (ساکا) د کورنۍ څوځات دي، پتې خزانې خو په صراحت سره لیکلي دي چه د غوریانو وړاندې نیکه سهاک دی.

دا چه پښتانه د ځان په باب په صراحت سره څه نه شي ویلای او تعجیز شوي دي، داتعجیز ډېر وجوهات لري، زمونږ د ټولو پاتې کېدو یوازینی سبب همدا دی چه رقیبانو سره ډېر پخوا (قلم او علم) دواړه وو او مونږ سره که کله (علم: بیرغ) ؤ نو قلم مو چېرته ؤ؟! نو په نتیجه کې مونږ نه ځان هېر شو او رقیبانو را باندې خاورې راواړولې! (۱) حاصل دا دی چه ساک او کاسي دواړه یو قام او پښتانه دي. (۲)

---

(۱) د مؤلف مقصد دا دی چه د پښتو د انحطاط علة العلل کولتور دی، نه بل څه او علاج یې هم د دغې تاریخي خلا ډکول دي.

(۲) وروسته سره ببېل شوي دي. (خادم)

# کاسي

دلته به بیمناسبه نه وي چه لږ شانې په کاسي باندې په تفصیل وغږیږو :

له تاریخي اسنادو څخه داسې معلومیږي چه درې زره کاله پخوا پښتانه په (کسی غره) یعنی سلیمان غره کې مېشته وو (۱) دا غر په هغه سیمه کې واقع دی چه د پښتنو د لوی ولس جنوبي سیمي له پنجابه بېلوي ، اوس سوال دا دی چه دا پښتانه دې غره ته له کومه ځایه راغلي دي ؟

په دې خبره تاریخ پوهان اتفاق لري چه دا غر د یوه لوی قام په نامه چه (کاسیان ، قیسیان) یې بلل موسوم شوی دی ، د کسي د غره کاسیان هم د غه خلک دي چه همد غلته اوسي او تر اوسه پښتو وایې ، خو دا چه کاسیان څوک وو ، او دلته له کومه ځایه راغلل؟ په دې باب له جغرافیائي ، تاریخي ، لساني او ثقافتي تحقیقاتو څخه څرګندیږي چه د اریایانو په لومړي مهاجرت (۱۰۰۸) زره کاله ق م کې.(۲)

---

(۱) درې زره کاله پخوا تر دې تقریباً زر ق م ته رسیږي چه په دې وخت کې د ساکو وجود هم د ایندوکوش په لمنو کې اثباتیږي ، مګر په زر کاله ق م کې د پښتنو وجود په کسي غره کې فکر دې خواته راکاږي چه د غه پښتانه خو به په ناڅاپي او تهاجمي ډول نه وي راغلي خو خدای زده څومره عمر به تېر شوی وي چه دلته به دوی د قام صورت غوره کړی وي ؟

(۲) حبیبي صاحب وایې چه لومړی مهاجرت د (پنځه څخه تر پنځه نیم) زره کاله څخه مخکې دی خو زه وایم چه ممکنه ده ، د سردریاب له مهاجرته مخکې هم شور مهاجرتونه شوي وي ؛ لکه د سوغدیانو مهاجرت بابل ته . بله دا چه دا خو د سائبریا له حوزې مهاجرت دی نه د سردریاب له حوزې

زره کاله ق م ک دغه قام د سائبیریا له له لوړو سیمو (۱) د خزر د بحیرې (۲) لور ته راخوځیدلي وو ، هغه ځای ((کانسک)) نومیدو (۳) چه اوس هم په دغه نامه په روسي نقشو کې خوندي دي ، ددې قام رواج ؤ چه چېرته به اوسیدل هغه ځای به یې په خپل نامه یاداوه ، نو ځکه د خزر د بحیرې ( دریابګی) په کومه برخه کې چه دوی هستوګن شوي وو ، هغه هم د ( کاسک) په نامه نامتو ده وروسته تاریخونو وایې چه دا قام د ق م د (۱۷۴۵) کلونو په شاو خوا کې د زاغروس یا زاکروس چه نن یې ( کرمان) بولې په غرونو کې اوسیدلو او دلته ورسره کوردان هم یو ځای وو ، په دغو وختونو کې ددوی سره یو ځای د کوردانو نوم هم یاد شوی دی .

د ق م په ۱۸۴۵ کې دوی د خپل مشر ګانداش په اداره کې په بابل بری وموند . (۴)

---

(۱) د سائبریا له لوړو سیمو ، له دې ځخه ځرګند یږي چه پښتانه ان تر سائبیریا خپاره وو .

(۲) د خزر بحیره : د افغانستان نه لږ څه په شمال غرب د خزر او کسپین بحیره پرته ده چه اوس یه منځ کې شوروي ترکمنستان پروت دی .

(۳) کانسک : اوس هم دغه قام چه د پښتیانا په سیمو کې شته په ( کاسي) او ( کانسي) دواړو قومونو یادیږي ، کانسک د کرانسویارسک په ولایت ، د سائبیریا په منځ لوړه برخه کې واقع دی .

(۴) د بابل : (اور ) ښار چه هلته په (۸) زره ق م کې د شوماش په نامه د نمرو رب النوع ته منسوب مشهور معبد هم درلود ، دغه ښار هم هغه پښتنو ودان کړی ؤ چه د سومیریانو په نامه په ۸ زره ق م کې له سوغدیانې ځخه دغلته راغلي وو ، اغلباً داسې فکر ته راځي چه کاسیان به کرمان ته له بابل ځخه راغلي وي .

او تقریباً (۵۷۳۰) کاله ددوی (۲۲) واکوالانو (بادشاهانو) له کانداش څخه تر "لیل نارین دهه" پورې په بابل واک چلولی او حکومت کړی دی، چه په نتیجه کې اشوریانو، عیلام یانو او نورو قومونو په ګډه ددوی سره جنګ وکړ او له ماتې وروسته چه کورد هم ورسره وو، د فارس د خلیج خواته ولاړل، دغلته نو ددوی تاریخ لړ تت دی (۱) خو په درې زره ق م کې ددوی هستوګنه په (ایران) کې ثابته شوي ده، جنوبي پښتیانا (د پښتنو ځمکه) په دغه وخت کې په درې برخو ویشل شوې وه، اوله مستونګ څخه د جنوب خوا چه مرکز یې مرکان دی، (جدروشیا) بلل کېده، دوهمه: د مستونګ د شمال خوا د (اراکوزیا) په نامه یاده شوې، دریمه: ختیځه برخه یې چه له سیوی څخه تر اباسینده پرته ده (سیوستان) په نامه یادیدله (۲) په شمالي علاقه کې چه اراکوسیا ده ټول پښتانه پراته وو، فردوسي هم په شاهنامه کې وایې:

(۱) (ماد) او (پارسوا) چه د فارس اصلي اوسیدونکي دي، دوی له پخوا څخه عادت درلود چه په خپله ځمکه کې یې د نورو قومونو تاریخ نه ثبتاوه او حتی الوسع یې له دې کاره اجتناب کاوه، نو ځکه دلته د کاسیانو او کوردانو تاریخ ورک شانې دی.

(۲) په سیوی او سیوستان کې د (سي:See) ریښه موجوده ده چه د سهاک قام له نومونو څخه ده؛ لکه سیستان کې دلته دا هم فکر ته راتلی شي چه سهاک او کاسي د یوه قام دوه نومونه دي (علم خدای لره دی). کک، کا، کاکړ او کاسي یو تربله نژدې کلمې دي کاکڅ چه پر لغمان کې د کابل د سیند پر غاړه واقع ځای دی، اغلباً دا به کاک کڅ وي، کڅ او کڅۍ خو ساحلي ودانۍ ته وایې. د کاتا ویل په کاک فکر ته بیخي نژدې دی، کک، کاک، ککی، کاکا، اکا دا ټولې کلمې یو تربله اخستل شوي ښکاري. دا خبره ډېره بعیده نه ده چه (کک) د کوم پښتون مشر لقب وي نه نوم: لکه چه ځینې پښتانه اوس هم په بابا او کاکا مشهور دي؛ لکه احمد شاه بابا، رحمان بابا، کاکا صاحب، اکاخېل، کاکا خېل، بابیازي او نور. (خادم)

که نزدیک زابل بسه روزه راه
یکی کوه بد سرکشیده به ماه

لـه زابـل څخـه تـر کـوټې پـورې (۲۳۰) میلـه لار ده او دغـه واټـن د اس پـه سـپرلۍ پـه درې ورځـو کـې وهـل کېـږي ، نـو معلومـه شـوه چـه دغـه لـوړ غـر د کـوټې غـر دی ، چـه جنـوب تـه یـې د مسـتونګ د خرګـاه دښـته ده او جنـوب تـه یـې هغـه دښـته چـه د بـولان د درې پـه خولـه کـې پرتـه ده او هندوسـتان تـه پـرې یـوه لاره تېـره شویده ، فردوسي وایي :

نشسته دران دشت بسیار کوچ – زاو نمان دلاچین وکرد و بلوچ

یعنـی دغلتـه دا قومونـه اوسـیدل او دا هـم څرګنـده ده چه واک او اقتـدار د اوغانـانو پـه لاس کـې ؤ او مشـر یـې یـو مېړنـی اوغـان چـه نـوم یـې "کـک" ؤ چـه فردوسـي ورتـه پـه خپلـه ژبـه "کهزاد" ویلـي دي چـه پـه پښـتو کـې ورتـه کـټ مـټ د (غـرزی ، غلجـی ، (غلځـی او خلجـی) کلمه موجوده ده.

معلومېږي چه دغه قوه کردانو او بلوڅانو سره چه تول پښتانه دي او هغه وخت لاقبيلې، قبيلې وې او په قومي رنګ نه وو جلا شوي، دغلته يو ځاى د يوه قام په حيثيت اوسېدل، نو فردوسي وايي:

در نام بودی کک کوهزاد - بگيتي بسی رزم بودش به ياد

يعنی د فردوسي په قول دوه زره کاله مخکې دغلته دغه قومونه يو ځاى اوسيدل، د کوټي په سيمه کې چه کوم کاسيان پراته وو په دوه لويو قبيلو يا ټپو جلا کېدل: چه يوه يې (کند) وه او بله يې (زمند).

د خصدار په جنوب ختيځ کې اوس هم دوه دَرې دي چه يوه يې د کند دره ده او بلې ته يې ارباب دره واي، کند همدغه ټپه ده او ارباب دغو خلکو خپل مشر ته وايه.

دا خلک چه څو موده په دغه سيمه کې پاته شول بيا کوټي ته راغلل او چه نفوس يې زيات شو، دژوب سيمې ته يې هڅه وکړه او د سليمان د غره (کسی غر) په شنو لمنو او سمسور ورشوګانو کې ودان شول، نو دا غر يې هم په خپل نامه د (کسی غر) په کلمه مسمی کړ.

هيرودوتس د ق م په (۴۰۲) کې د اراکوزيا په سيمو ګرځيدلي او د کسی غره شا وخوا ده (پکتيکا) يا (پکتيا) په نامه ياده کړېده او په خپل تاريخ کې يې ليکلی دی چه " د دې سيمې خلک پکتان يا پکتيان نوميدل، د څرمنو

کالي به یې اغوستل او غشي لیندۍ به ورسره وي ،(۱) د ډېر تکړه او زړور خلک وو؛ (۲) استرابو ۲۴۰ ق م کې یو بل یوناني مورخ وایې په اریانا کې د فارسي میدیا ، باکتریا ، سوغدیانا ځینې برخې شامل دي دا ځکه چه دې خلکو په یوه ژبه خبرې کولې)) .

---

(۱) د پکتانو د پښتنو [illegible] چه [illegible] والې ( دخرمنو کالي ) ، غشي او لیندۍ دي د ساکو هویت رایادوي چه دخکې په همدغه شکل بنودلې شوي دي .

(۲) د اریانا ، میدیا ، باکتریا او سوغدیانا خلکو په یوه ژبه خبرې کول دا معنی لري چه یو قام ؤ اودا مشترکه ژبه بې له پښتو بله هیڅ ژبه نشي کېدای ، ځکه دا ددې ځمکې د ډېره قدیمه ، عامه او مشترکه ژبه ده او تر اوسه یې لاهم دا صلاحیت ساتلی دی .

دا ژبه هر ومرو پښتو ده نه بله ژبه لکه چه وې موضوع ته مخکې اشارې شوې دي. (۱)

یو بل یوناني مورخ او جغرافیا لیکونکی په (۱۴۰ ق م) کې ویلي دي "په پکتیکا = (پکتیا = او پښتونخوا) کې د اراکوزیا له غزني څخه د اندوس (اباسیند) او د سلمان د غره پورې ځمکه شامله وه او اراکوزیا د اریانا یو ولایت دی".

سر اورل استن وایي: "دسند په ناوه، بلوچستان او د اکسوس (امو) په شمالي سیو کې د خزر او فارس د خلیج ترمنځ او لر څه وړاندې د بین النهرین او عیلام پورې چه کوم حفریات او کیندنې شوې دي او څه موندل شوي هغه د هیلمند ، سیستان او هامون د پخوانو آثارو سره ډېر نزدې والی لري ، نو مونږ دې نتیجې ته رسېږو چه (د ۷۰۰ تر ۵۰۰ ق م کې) چه کوم کاسیان کوټې څخه تر ژوب یعنې د کسې د غره پورې سیدل ، نو په دې وخت کې هغه کاسیان چه افغانستان ته تللي وو ، یوه برخه یې د (پکتیکا) په شمالي برخو کې میشته شول او په جنوب ختیځ کې د جنوبي برخو کاسیان ودان شول".

په بل عبارت ویلی شو:

هغه څوک چه د پکتیایانو ، کاسیانو یا قیسیانو په نومونو

---

(۱) مخکې یادګیرنې ته رجوع وکړئ (خادم)

یادېدل سره یو ځای شول ، په دې اساس چه قوم یو ؤ او نومونه یې زیات وو ، نو ځکه د تاریخ پوهانو او لیکوالو ترمنځ اختلاف پیدا شوی دی ، مګر دوی قوم یو ؤ ، مدنیت یې یو ؤ ، ژبه ، کلچر او عنعنات یې سره شریک وو .

مځکې مسوویل چه د کوټې او بلوچستان په پښتنو کاسیانو کې کند ، زمند او ځینې نور شامل وو او بیا ددې سره یو ځای کورد هم راغلي وو ، نو کورد د بولان په دره کې مېشته شول ، ځینې قبیلې لکه کند ، زمند او شام د ژوب خواته و لېږدېدل ، شام په هندوباغ (ایندو باغ)* کې پاته شول ، چه وروسته د شامندین او شام خېل په نامه یاد شول ، یو ښاخ یې پر مخ ولاړ او د کسې د غره په لمنو کې تیت و پرک شول !

تر کومه ځایه چه د کاکړو خبره ده تاریخ وایې چه د کاک نیکه قبر په هرات کې دی ، ددې معنی دا هم کېدی شي چه کاک نیکه په هغه کاسیانو کې تللی دی چه د (۱۰۰۰ ق م) په شاوخوا کې هرات او غور ته تللي ؤ. (۱)

---

(۱) د عبارت په لږ تغیر او ځینو اضافو د ۱۳۰۱ د خپلواکۍ له ترون څخه واخیستل شو خادم)

* ایندو باغ وروسته هندو باغ شوی دی ، لکه چه ایندوکوښ هندوکش ګرځیدلی دی ، (اینده) ابو ته وایي ؛ لکه انډیا چه له ایند + یا څخه جوړ شوی دی ، هند هم د ایند څخه جوړ دی ، وروسته بیا هند د وطن نوم شو او بیا له هنده هندو او وریسې له هند ، هندوستان جوړ شو او دا ټول نومونه د اباسیند د سرحدي اوبو یا د بحر د اوبو په لحاظ منځ ته راغلي دي . (ق خادم)

﴿۸۸﴾

# د تاریخ د زنځیر ماتې کړۍ

**( د پښتنو د تاریخي قومونو ارتباط )**

تاریخ څه داسې علم نه دی چه سړی په کې څه ایجاد کولی شي ، نو زه چه څه وایم زما عندیات نه دي، بلکه د مؤرخینو د متفرقو اقوالو پیوستون دی ، نو کوم انکشاف چه ماته یې نسبت کېدی شي دا دی چه زه لومړی پښتون یم چه دغو نکتو ته مې پام شو ، راومې سپړلې او یو تر بله مې وتړلې ....

**(۱) پارتیان**

پارتیان له اریائي مهاجرو قبیلو څخه شمار شوي دي چه له باختره څخه یې پارتیا ته مهاجرت کړی دی ، دلته راغلل او د یوه تمدن بنیاد یې کیښوده ، پارتیان د باختر له اریایي تبر ( پښت: پخت = پکت ) (۱) .

---

(۱) په مخکې مباحثو کې مو د (( مرکزي آریائي ټولنې )) د پښت ( پخت ، پکت ) له لوی قوم او ټبره او په مرکزي آریائي ټولنه کې ددوی له قوت او تبارز څخه یادګیرنه کړېده ، دلته مو پارتیان ځکه په عنوان کې ونیول او پښتانه مو ددوی په ذیل کې ذکر کړل چه منکران خو په تاریخ کې د پښتنو له وجوده انکار نه شي کولای خو البته په اریائي لوی ټبر کې ددوی له مرکزیت او مشرۍ څخه انکار کوي. په دغه شان یې دوی په دنیا کې کوچنی ، تعجیز او حتی په خپله په خپل ځان شکمن کړي دي ، موږ دلته وښودله چه پارتیان پښتانه دي ، پارتي امپراطوري پښتني دولت و ، دوی پارسي وانان نه دي ، بلکه د هغو ضد او رقیبان وو په هغو یې حکومت کاوه او هغوی پس له پنځو سوو کالو موفق شول چه دوی وباسي او ورک یې کړي . اوس نو که پښتانه خپله بقا غواړي نو د غیرت له مخې دي په خپل مشخص موجودیت ودرېږي او پردی کولتور چه د هرچا وي هغه دې طرد کړي ؛ که نه نو دغه پاتې پښتانه به هم د پارتیانو او د نورو پښتنو په شان ورک او محوه شي .!!!

څخه دي ، چه د خزر د بحيرې او هريرود ترمنځ يې هستوګنه غوره کړه او دغې ځمکې ته يې پارتيا وويله. (۱)
د پارت ، پارس ، فارس او بهارت ترمنځ د پښو نږدې لغوي اشتراک فکر ته راځي ؛ لکه چه مخکې ليکل شوي دي.
پارتيان د سکيف او سکيفيانو په نامه هم ياد شوي دي (۲)
پارفيان هم همدغو ته ويل کېږي ، د مرکزي اريائي قبيلو (باختريانو) په منځ کې دا لويه او مشهوره قبيله ده، کهزاد په ((اريانا)) رساله کې وايي : ((پکتان)) دويدي قبائلو د باختري اريايانو له جملې څخه خورا لرغونې قبيله ده ، چه د مهاجرت په وخت کې دوه ډلې شوه ، يوه يې په بخدي کې پاتې شوه او بله يې ؛ لکه چه د لس ملکانو په جنګ کې ياده شويده ، د ايندوکوښ جنوب ته ښکته شو ، دوی خپلې خاورې او وطن ته (پکتيکا) يا (پکتيا) وويله.
ښلو ددې ملک شمالي حدود د سوات او نچکوړې او د لوګر او کابل د سيند جنوبي غاړې ښې او جنوبي سرحد يې د کاکړو علاقه پشين (۳) شال او بوري دره تاکي چه اندوس ته رسېږي ، شرقي حد يې اندوس يعنې اباسيند دی او غربي حد يې د سليمان د غره د لمنو وروستنۍ برخې دي.
د پکتانو (پکتنيو يا پښتنو) بله برخه په بخدي او تخارستان کې پاتې وه

---

(۱) افغانستان ته يو نظر د غبار تاليف ۳۷ مخ.
(۲) اسکايان هم بلل شوي دي.
(۳) پشين ، ددې کلمې ليکل په (ښ) روغ برېښي ، پښين د پښت کلمې ته نږدې ښکاري.

څه (۱) زمانه وروسته د غرب او هېرکاني خواته د خپل بادشاه "ارساس" سره ولېږدېدله او هلته يې د پارت * دولت تاسيس کړ، چه د فارس امپراطوري يې هم تسخير کړه، په فارس او بين النهرين يې ډېره زمانه حکومت وکاوه او څو څو ځله يې رومي امپراطورۍ ته ماته ورکړه.

ظفر کاکا خېل ليکي «پارتيا صوبه د ق م په پنځمه صدۍ کې موجوده وه»، مستر تيلر انګريز د مراة العالم په حواله وايي: «د پارتيا اساسي کورنۍ چه په اسلامي تاريخونو کې په "اشکاني" نامه ياده شويده پښتانه دي (۲) دی وايي: «پارتيان يا اشکانيان د څلور سوو کالو نه زيات موده حکومت کې چه په پارس يې وکړ د پارسيانو سره يو او جوړ نه شول.

---

(۱) تخارستان، د کندوز او خان آباد د شمال مشرق په لور يو ولايت دی چه له ډېر پخوا څخه په کې پښتانه اوسېدل او اوسېږي.

* پارت، پارتهه، پارس، فارس: دا هغه نوم دی چه په دې خمکه د پارت د پنځه سوه کاله امپراطورۍ پاته شوې برېښي، پارسوا او پارتوا هم يو له بله ماخوذ تصور کېدی شي.

(۲) دا يو تاريخي صراحت دی، د غسې تاريخي صراحتونه نور هم ډېر دي.

ځکه چه پارسیان سخت متعصب وو(۱).
"بیا په ۲۲۲ ع کې (۲) اردشیربابکان چه ځان د جمشید او کیخسرو له نسله ګاڼه ، پښتانه له ملکه وایستل ...

(۱) د دنیا ټول قومونه او ملتونه په ملي تعصب چه ملي غیرت یې باید وبولو ژوندي کوي او چه کوم وخت دغه تعصب یا غیرت چه علامه اقبال یې (خودي) بولي له یو قام یا ملت ځخه ولاړه شي ، نو دغه وخت ملت مري او هلاکېږي . سید جمال الدین افغاني هم په عروة الوثقی کې په تعصب دغسي یو مضمون لیکلی او ملي تعصب یې د ملت د بقا له شرائطو ځخه ګڼلی دی ، ایران دغسې تعصب له پخوا ځخه درلود او دغه تعصب یې ژوندی ساتلی دی ، په پښتنو کې دغه ډول اجتماعي تعصب لږ او کم ؤ . نو بنا پر دې په ایران کې نور ټول غیر ایراني قومونه ضم او حل شول . خو پښتانه چه هر چرته لاړل یا یې کوم حکومت او دولت تاسیس کړ ، خپل ملي شعائر یې ونه ساتل ، پردی ژبې ، ادیان او کولتور یې په اسانه ومنل ، نو ځکه سوونه ، زرګونه او ملیونه په ایران ، هند ، پاکستان او نورو ملکونو کې منحل او ورک شول ، دغه یوه ډېره ځرګنده او بارزه مسئله ده ، چه پښتانه لا اوس هم پرې نه پوهېږي پخوا به یو ملت پر بل د عسکري زور او توري په واسطه خپل تسلط او باداري قائمولـه . بیا به یې خپل کولتور او ژبه په کې ټینګوله . مګر په حاضر عصر کې کولتوري او لساني تسلط او انبساط یو فن ګرځیدلی دی ، نن کولتوري امپریالیزم د استعمار خورا منحوسه بڼه غوره کړېده . راځئ وګورئ ځومره پښتون نژاده قومونه خلکو بسکته او پورته او دارنګه په افغانستان کې له خپلې ژبې او کولتوره پر بله وګرځول ، او اوس یې پخپله د خپل ځان . قام او وطن دښمنان کړل ، اوس ډېر اړول شوي افغانان په خپله د خپل افغانیت په ضد مبارزه کوي نو هوښیاران په دې لاره کې ډېر مالي تاوانونه هم ګالي

(۲) یعنې ۷۲۸ کاله مخکې پارتیان متفرق او د فارس قوم ایران شوی دی

او شمالي غرونو ته يې وشړل ، دينه پس د پارس نوم ايران شو (۱)"

دغه مورخ وايي : " په شرق کې د پښتون قام د امپراطورۍ زوال هغه نسبت لري ؛ لکه چه په يورپ کې د روم د امپراطورۍ چپه کېدل يې لري ، يعنی د دواړو سلطنتونو د زوال زمانه پخوانی تاريخ له اوسني تاريخ څخه بيلوي " .

مستر جوستين د ميلادي دوهم قرن يو ايتالوي مورخ وايي: "د پارتيانو ژبه د ميدي او (سيتي) ژبو ترمنځ ده " يعنی مور يې ده !

ميديان هماغه پارسوا قبائل دي چه د عمومي مهاجرت (۲) په وخت کې د باختر له سيمي د ايران په لور تللي دي (۳)

مارګين ستيرن وايي ((پښتو د ساکانو ولسي ژبه معلومېږي)) . (۴)

---

(۱) ددينه هم معلومېږي چه په پارس کې د پارک د کلمې څرک شته ، ددغه وطن د نوم دا تبديلي هم دا ښيئ چه په پارس کې د پارت پښتني ريښه ښکاريده چه دوی پنځه سوه کاله په دغه ملک حکم چلولی ؤ ، نو د نامه په تبديلۍ دغه تاريخ بدل کړی شو - !

(۲) د عمومي مهاجرت نېټه د ق م په ( ۱۰۰۸ ) کالو کې اټکل کېږي ، خو ځينې دا نېټه زياته ګڼي .

(۳) د ظفر کاکا خېل پښتانه د تاريخ په رڼا کې کتاب ، خو ځيني نور ما د او ، پارسوا بېل بېل قومونه بولي .

(۴) د ظفر کاکا خېل کتاب ۲۱۸ مخ .

## ۲. سکایان

کوم وخت چه سکایان یا اسکایان باختر ته راغلل دلته په بېلو بېلو قبیلوي نومونو یاد شول ، په دغو کې یوه تخار قبیله وه (۱) دا نوم وروسته ډېر مشهور شو او د آمو لوړه حوزه په دغه نامه تخار یا تخارستان ونومول شو .

مخکې مو ویلي دي چه د سیتیانو (۲) له څلورو مشهورو قبیلو (سرمت ، مساجت ، سکائي) له جملې څخه یوه مشهوره قبیله "یوچي" هم وه ، چه کوم وخت له امو راپورېوتله او د باختریانو سره ګډه شوه ،نو کوشاني حکومت یې تشکیل کړ ، وایې چه (یوچي) او (تخار) داسې ګډ وډ شول چه کله به تولو یوچیانو ته تخار ویل کېدل (۳) * ، نو په دې حساب تخار ، یوچي او سکائي یو قام دی . (۱).

(۱) تخاریان سکایان دي ، سکائي ، سیتی او ساک د یوه قام نومونه دي .

(۲) سیتي د ساکو بل نوم دی .

(۳) په صریح عبارت . تخاریان او یوچیان یا یو شی یا د یوه قام چه سیتي دی دوه قبیلي دي ، او سیتیان ساک دي .

* تردې ځایه د غبار د کتاب د ۴۰ مخ عبارت دی .

(۱) په دې ځای کې د همدې کتاب ۲۴ مخ ته رجوع په کار ده ، هلته لیکل شوي دي ، کوم وخت چه یوچي سکایان باختر ته راغلل ، په علیحده قبیلوي نومونو یاد شول : لکه ازتي ، یازني ، ساکارولي ، تخاري ، دغه وروستنۍ قبیله بیا ډېره مشهوره شوه الخ . نو دغلته په صراحت ذکر ده چه تخار د یوچي قام یوه قبیله ده او یوچي سکایان او سکایان ساک دي .

یادګیرنه : ساک یو لوی قام ؤ چه په قبیلو ، عشیرو او ټپو ویشل شوي ؤ ، دغو ټولو خپل جلا جلا نومونه لرل مؤرخینو په کې ، پوره تمیز نه دی کړی او ګډوډ کړی یې دی ، خو ما د سپیناوي کوښښ کړی دی .

### ۳ . پهلوایان

دا قوم د ساک او پارت له ګډون څخه جوړ شوی دی * دوی د ق م په اوله نیمائي کې د یونانو باختري پاتې حکومت د ایندوکوښ په دواړو خواو کې وغورځاوه او په پای کې یې د یونانو باختري دوه نیم سوه کلن حکومت د پهلوایانو له لاسه سقوط وکړ (۱) د ژبې او دود دستور د یووالي له کبله پهلوایانو ته ځینو (ساکو پارت) هم ویل (۲) د پهلوایانو د حکومت مرکز د اسکایانو په شان د هیلمند او کندهار حوزه وه ، دوی په ارغنداو کې پایتخت جوړ کړ ، له دې ځایه په نمر خاته کې تر سند او پنجابه او په شمال کې تر کابله وړاندې لاړل .

---

* مخکې په ساک او پارت کافي بحث شوی او د دوی هویت پوره څرګند شوی دی ، تېرو بحثونو ته دې رجوع وشي .

(۱) د غبار له کتابه واخستل شو .

(۲) د ظفر کاکا خیل کتاب پښتانه د تاریخ په رڼا کې .

د پهلوايانو د حکومت موده (۵۰) کاله وه. (۱)

داسې برېښي چه د ايران پهلوي کورنۍ به همدغو پهلوايانو ته منسوبه وي چه پارتيان او د ساکو سره ګډ او مخلوط شوي وو، يا به داسې ووايو چه د يوه قام دوه قبيلې ګډې او بېرته يو وجود شوې، پهلوي ژبه (۲) اغلباً د همدغو ساکو پارت قام ژبه ده، "پهلوان" کلمه، د قوي، زورور او لوړ غټ په معنى له همدغې ستې تو کيدلې معلومېږي او دا څکه چه دا کوچي قام زمونږ د نن ورځې د کوچيانو په شان د صحت، روغتيا او قوت په نعمت پور او معمور ؤ، ظفر کاکاخېل وايي: دا خبره يقين ته ډېره نژدې ده چه د پهلوايانو مشهور بادشاه کندو فارس به د کندهار د لرغوني بناربانې وي.

---

(۱) د ښاغلي غلام محمد غبار د کتاب افغانستان ته يو نظر ۳۵ - ۴۲ مخ)

(۲) پهلوي ژبې آثار او بقايا که وکتل او وپلټل شي، نو پښتو ته به ډېر نژدې وي، پهلوي کورنۍ به په فارس کې خپله ساکو پارت ژبه له لاسه ورکړې وي، که نه نو د دوی ژبه فارسي نه وه.

### ۴. کوشانیان

مخکې وویل شو چه دوی یوچیان او د سیتیانو یا په بل عبارت د ساکانو له تبره دي ، دوی لومړی د چین د (کانسو)* په ولایت کې اوسېدل ، یوچیان د میلاد نه دوه پېړۍ مخکې د (هونیانو) ** (چه د چین د امپراطورۍ دښمنان وو او د چین لوی دېوال ددوی په مقابل کې جوړ شوی دی)، په فشار له وطنه بېوطنه شول او د یو ملیون یوچیانو دغسې راخوځېدل د غرب ولور ته ، په شاوخوا په ټولو قومونو اغیزه وکړه او یو لوی حرکت په دغه ساحه کې پیدا شو.

کوم وخت چه یوچیان په دغه شان د (ایسک کول) *** سیند حد ته ورسیدل په دوه برخو جلا شول (کوچني یوچیان او لوی یوچیان) کوچني یوچیان د تبت په اطرافو کې پاته شول او لوی یوچیان د غرب و خواته پرمخ ولاړل او په سنکیانګ او د سیحون په حوزه کې یې د اسکایانو ځای ونیو ، اسکایان له ناچارې ورځې له امو څخه پوریوتل ، باختر او بدخشان ته راغلل ، دا کار د میلاد نه په دوه پېړۍ مخکې موده کې وشو ، هغه یوچیان چه د امو په شمال کې اوسیدل او د سیتیانو څلورمه طائفه وه ، کوم وخت چه له امو راپوریوتل او د (باختریانو ، تخاریانو) سره خلط شول.

---

* کانسو ، د مغولستان او اتین طاق د غرونو ترمنځ د انسي په نامه ځای په نقشه کې شته.

** ایسک کول سیند ؟

*** هونان.

نو د (کوشان) په نامه یې دولت تاسیس کړ.

وایې چه د یوچي او تخار د اووه سوه ۷۰۰ کاله د ګډ ژوند څخه وروسته دوی کوشاني دولت جوړ کړی شو (۱). ظفر کاکاخېل وایي: د ساکا پهلوا په دوره کې او تر دې وروسته د کوشانیانو په زمانه کې هم د ګندارا او افغانستان ه اکثرو علاقو کې د ساکاقام ولسي ژبه ویل کېده (۲).

ښه نو چه دا ژبه پښتو نه وه نو څه وه؟ او اثار یې څه شول؟(۳)

لومړی شخص چه کوشاني دولت یې تاسیس کړ (کوزولو) یا (کجولاکدفیرس) یې باله، ده د تخاریانو کوچني، کوچني دولتونه فتح او یو کړل، بیا یې باختر کابل او کندهار هم په خپل دولت کې شامل کړل. وایې چه په پارتیا یې هم حمله وکړه، ده د یونانو باختري او پهلوایانو نفوذ پر کابل ختم کړ، دده د دولت سرحد له پارتیانو څخه داندوس پورې ؤ.

دده پسې ویاکدفیرس د اتیا زرو سپرو په قوت د پامیر له لارې په چین یرغل وروړ، که څه بری یې ونه موند خو د دولت مخالفینو او د وطن مېرځمنو ته یې جټکه ورکړه، د روما سره یې ښه روابط لرل، ده پنجاب او د ګنګا د حوزې څه برخه په خپل دولت کې شامله کړه.

---

(۱) د غبار د افغانستان ته یو نظر کتاب، ۳۹ – ۴۳ مخ).

(۲) پښتانه د تاریخ په رڼا کې د ظفر کاکاخېل تالیف ۲۲۹ مخ.

(۳) دا عبارت د مؤلف "خادم" دی. د بغلان د سره کوتل کتیبه هم اغلباً همدغه ژبه لیکل شوېده چه څېنې یې له نا فهمۍ "ماردزبان دوی" بولي د ساکامي ژبه د تېرو تحقیقاتو له مخې همدغه باختري پښتیک ژبه ده نه پېرسیک لهجه.

دریم سړی : سوتر میګاس ( منجی ) ؤ چه دولتي ګډوډي یې سمه کړه ، بیا نوبت " لوی کانشکا " ته ورسید ، دی په ۱۲۰ م کې د اریانا پرتخت ناست دی ، دده د امپراطورئ لمن له اریانا څخه د باندې غځیدلې او پراخه شوې وه ، د تارم حوزه ، چیني ترکستان ، د هند شمال غرب او د ګنګا غاړې په کې شاملې وې.

کانیشکا د ګندارا د بادشاه لقب لاره ، چه کشمیر یې وګاته ، هلته یې معابد او یو ښار ودان کړ ، چه ښار یې (کانیشکاپورا) باله ،په پارتیانو یې هم بری وموند ، په شمال مشرق کې یې کاشغر ، خوتن او یارکند ونیول.

دده امپراطوري څلور لوی سیندونو ، جیحون ، اباسیند ، ګنګا او تارم احاطه کړې وه ، کانیشکا د چین په جنګ کې فاتح شو او د کاشغر یو شهزاده (شن یان) یې یرغمل راوست. * د زیات تفصیل لپاره د ( کوشانیان حکومت ) رسالې ته چه په (( نوې رڼا )) کې چاپ شوې ده رجوع په کار ده ، هلته په کوشاني ژبه او لیک دود هم څېړنه شته. (◆)

---

* افغانستان ته یو نظر ۴۳ مخ د غبار تالیف.

(◆) دغه تحقیقات د سره کوتل یعني بغلان د ډبر لیک د پیدا ښت نه لومړی را ورسیده چه د کوشانیانو ژبه د هماغه وخت پښتو وه چه اوس یې باختري بولي . چا چه " مادر زبان دري" بللې ده ، دا خبره په قطعي علمي دلائلو او د فیلالوجي په مستندو براهینو رد شویده او یوه غرضي لیکنه ده.

## ۵. یفتلیان

یفتلیان دنژاد له پلوه د اکثرو مؤرخینو د وینا له قراره د یوچیانو یا کوشانیانو یوه څانګه ده ، چه سیتي یا تخاري ټبر ته منسوبه ده . یفتلیان د میلاد په (۴۲۰-۳۸۰) کې څرګند شول (۱) ددوی ظهور په باختر کې ؤ او د میلاد په شپږمه پېړۍ کې یې امپراطوري ړنګه شوه .
چینیانو او د بېزانس لیکوالو دوی په مختلفو نومونو لکه (یېتل ، افتهالوی توی ، اوتهالی توی ، نفتهالوی توی ، ابدلوی) سره یاد کړي دي ، د سانسیکریت وروستنیو منابعو یفتلیان په (سیتا اونا ، شوتا هونا ، سپین خارجیان) سره ذکر کړي دي . (۲)
د افغانستان په پښتو او فارسي ژبو کې اتل او هیتال د

---

(۱) د غبار کتاب .

(۲) سپین خارجیان خینو کسانو په "سپین هونز" بدل کړي دي . حال دا چه یفتلیان یوچیان او آریین دي ، هونز ، یا هونان د یوچیانو مخالف او دښمنان وو . دوی اریایان نه دي ، یوچیان د یو ملیون په تعداد د کانسو له ولایت څخه بېخایه شول او سبب یې هم د هونانو حملې وې چه په دوی یې کولې ، هونان ژېړ قام دي ، سپین هونان هیڅ معنی نه لري ، څکه داسې کله کېدی شي چه هونان دې هم ژېړ وي او هم سپین !

پهلوان ، قوي او زورور په معنی دی (۱) ، شک نشته چه د یفتلیانو اصلي نوم دې (اپتل) وي ، ورسته دې (افتل) او په اخر کې دې (یفتلیان) شوي وي (۲).

تر اوسه هم د یفتل په نامه په بدخشان کې سیمې شته چه خلک یې یفتلیان بلل کېږي.

همدارنګه (ابدل او ابدالي) د اپتل او اپتالي سره لفظي مشابهت لري او ابدالیان د پښتنو د لویو او مهمو قبیلو څخه دي چه ژبه یې تر اوسه پښتو ده ، نو نتیجه دا لاس ته راځي چه یفتلیان پښتانه دي ، نه دا چه ابدالیان پښتانه نه دي ؛ لکه چه ځینې په دې کنده کې لویدلي دي (۳).

په هر صورت : یفتلیان یو سپین پوټکی اریائي قوم ؤ ، دغه زړوره ، توریالئ طائفه له وړو یوچیانو څخه وه ، چه په سهاکو ګڼل کېږي.

کوم وخت چه دوی د چین له کانسو ایالت څخه مهاجرت وکړ نو له خپلو ورونو لویو یوچیانو څخه په مرکزي اسیا کې بېل شول ، څه زمانه د تبت په غرنیو سیمو کې پاتې

(۱) دا معنی د پهلوا سره نږدې والی لري چه په قومي اشتراک دلالت کوي.

(۲) هیڅ لرې نه ده چه د عربي (بطل) د نابغه په معنی له همدغه (افتل) څخه ماخوذ وي ؛ لکه چه عرب ځینې کسانو ته د (بطل الحرب والسیاسة) لقب ورکوي.

(۳) د پښتنو یوه مهمه قبیله ابدالي بلل ، نور دلائل هم لري ، چه تفصیل په "(نوې لار)" کې دی او حاصل یې دا دی چه د دوی مشر نیکه ته یې د مرشد (ابدالي) لقب ورکړی ؤ ، وروسته د قبیلې نووم شو . وګورې (تیمورشاه دراني) کتاب د عزیزالدین پوپلزي تالیف.

شول او څنګه چه لوی یوچیان د تارم * ، سیحون او جیحون له حوزو څخه باختر ته راغلل او دلته یې کوشاني دولت تاسیس کړ ، ورو یوچیانو دغه لاره پسې ونیوه او په اخره کې یې د باختر په مدني مرکز کې د «یفتلي دولت» اعلان وکړ (۱).

**افتالیتو** : یفتلي بادشاه د بهرام ګور ساساني بادشاه په مقابله کې ماتې وکړه ، خو دغه کسات یې خلف د بهرام ګور له زوی دویم یزدجر څخه وکیښ (۲) او مهر پور یفتلي بادشاه هغه باختري ځمکې چه بهرام ګور له باختره تجزیه کړې وې ، بېرته راوګرځولې ، د افتالیتو په حکومت کې د جیحون (امو) دواړ خواوې یعنی قطغن او بدخشان ، بلخ او سغدیانه داخلې وې.

**اخشنور**: د یفتلیانو مشهور بادشاه ؤ چه د ۴۲۰ میلادي په حدودو کې یې حکومت کاوه ، ژمی په بلخ او دوبی په بدخشان تېراوه . ده فکر کاوه چه د قدیمې اریانا خاوره څنګه سره بېرته یو ځای کړي ، د اخشنور د مملکت لمن په غرب کې تر هراته رسېدله ، لږ وروسته یې د لښکر سره د ایران په شرقي حدودو حمله وکړه ، په جنګ کې د ایران بادشاه فیروز او زوی یې قباد اود بادشاه لور د یفتلي باچا په لاس کښېوتل ، اخشنور د خپلو بندیانو سره د خپلو روایاتو له مخې ښه سلوک وکړ.

---

* سیحون او جیحون.

(۱) د ښاغلي غبار د افغانستان ته یو نظر کتاب.

(۲) یعني یفتلیانو دا کار وکړ.

فیروز ساساني بادشاه پس له دې چه د یفتلي او ساساني دربار د ټولو اراکینو په مخ کې د اخشنور د تخت و مخې ته په خاورو تندې کښېنود او بخښنه یې وغوښته ، په معاهده کې یې دا هم ومنله چه که عفوه راته وشي بیا به د فارس له ټاکلو حدودو څخه تېرې نه کوم (۱) او د جنګ تاوان او غرامت به هم نغد ادا کړم او ترڅو چه د معاهدې شرائط عملي شوي نه وي ، قباد زوی به مې د یرغمل په طور یفتلي دربار کې پاتې وي.

اخشنور دا غوښتنه ومنله او فیروز یې رخصت کړ ، قباد پس له دوه ؤ کالو ، له یفتلي درباره څخه خپل وطن ته د تللو اجازه حاصله کړه ، خو نتیجه یې څه شوه ؟ په نتیجه کې فیروز ایراني د پر زر خپله وعده هېره کړه او ویې غوښتل چه د جنګ او وینو په بدل خپل ذلت او سرکوزي تلافي وکړي ، مګر هر کله چه خدای غیرتي او د غیرتیانو پر خوا دی نو په ۴۸۲ م کې چه فیروز خپل فوځ افغانستان ته رادمخه کړ او اخشنور یې د سپینو تورو په بریښنا د جنګ په میدان کې هر کلی وکړ دا ځل هم دا مقابله د حق پر خوا یعنې د پښتنو په غلبه او د ایرانیانو په بدمرغۍ تمامه شوه ، داسې چه فیروز د ټولو کسانو سره په جنګ کې مړ شو او لښکر یې په بده ورځ تباه شو ، ټولې له لاسه وتې افغاني ځمکې بېرته راوګرځول شوې او فارس د باج د ورکړې په منلو مجبور شو (۲).

---

(۱) معلومېږي چه اخشنور د ایرانیانو د تېرې په مقابل کې اقدام کړی ؤ . اخشنور له دوه کلمو مرکبه ده (اخښ + نور) یعنې نور اخیستونکی .

(۲) دا مطلب د غبار له کتابه واخستل شول .

په دغه شان د افغانستان يفتلي پښتنو د نيمې پېړۍ نه په زياته موده او څلور جنګونو کې د فارس د دولت تجاوز لاس لنډ کړ ، او د غربي ګاونډي سره يې د جنګ موضوع له منځه وايستله ، د ساسانيانو تسلط او نفوذ له افغانستانه پورته شو ، غربي ولايات او هېلمند له ساسانيانو آزاد شول او په دغه ډول د يفتليانو د لوی دولت تسلط د وطن په ټوله خاوره ټينګ او ايراني استعمار له افغاني مقدسې خاورې طرد شو (۱).

تر دې وروسته د افغان او ايران په منځ کې وړې غټې شته . خو فارس د ميلاد د پنځمې پېړۍ تر اخره پورې د نظر او امر لاندې باج ورکوونکی ؤ ، تر دې چه فارس به د خپلو شاهانو بلاش ، قباد او د خسرو سکې د باج د ادا په غرض د افغانستان په (کوشانو يفتلي) ليک ضرب کولې (۲).

(۱) دا مطلب هم د غبار له کتابه واخستل شول.
(۲) د غبار کتاب

## ۶. کابل شاهان

کابل شاهان چه رتبیلان یې هم بولي ، د کوشانو یفتلي د لوی کورنۍ نسوم دی (۱) د مملکت اداره ددغې کورنۍ د محلي واکوالانو په لاس کېدله او اغلباً ددغې کورنۍ یوه څانگه د (کابلي رایان) په نامه د ایندوکوش په جنوبي صفحاتو کې د تورک په مقابل کې په مستقلانه ډول ولاړه وه ، د تورک مرکز کندوز ؤ.

**تورک څوک ؤ ؟** په دې باب لږ تفصیل په کار دی : د یفتلي مقتدر بادشاه (مهیراکولا) د حکومت مرکز بلخ ؤ ، کشمیر یې په خپله سیمه کې داخل کړی ؤ ، سیالکوټ یې عسکري چونۍ وه او د گوپتا د کورنۍ اقتدار یې په هند کې هم ختم کړی ؤ؛ لکه چه په افغانستان کې ختم شوی ؤ، د تورامانا فتوحات په هند کې د سکر او گوالیار پورې رسیدلي وو.

کوم وخت چه مهیراکولا مړ شو، نو یفتلي کورنۍ سقوط په هند کې تکمیل شو او په افغانستان کې دننه د محلي حکومتونو دپاره لار ببرته شوه ، په بدخشان ، غرجستان ، بادغیس ، بامیان او کاپیسا کې مستقل امارتونه چه سکه او بیرغ یې لرل ودرېدل ، دینگي ملکان شیران او شارانو په نامه سکې ددغې اثبات کوي . په همدغه وخت کې مهیراکولا مړ دی او یفتلي امپراطوري توټې ، توټې ده . په شمال او غرب کې تورکي اوساساني دولتونو قوت واخیست.

---

(۱) د غبار له کتابه.

توركي دولت د "استامي" نومې د قدرت او شخصيت له كبله چه (سازبول) او (ديزابول) يې هم باله او له مغولي تكوم څخه ؤ ، (بلكاش) له خوږ څخه راتېر شوې او د پامير پورې يې توسعه موندلې وه ، ده غوښتل چه د سوغدياني او باختر ولايت هم ونيسي.

له بلې خوا (خسرو) نوشيروان ساساني بادشاه چه پښتانه يې لا عادل؟ هم بولي هڅه كوله چه د خپلو اسلافو د حقارت غچ چه د يفتلي امپراطورئ له لاسه يې پر شاتګ كړي ؤ او د لاس لاندې يې اوسېدل له يفتليانو څخه واخلي.

نو تورک خان او ساساني بادشاه موافقه وكړه چه د يفتليانو د اضمحلال د پاره په اقداماتو لاس پورې كړي ، نتيجه دا شوه چه ٥٢١ م كې يفتلي دولت د ايندوكوښ په شمال كې ماتې وكړه ، ماورالنهر يعنې د جيحون شي پلو سوغدي ولايات د تاشكند او سمركند سره توركانو ته په لاس ورغلل ، او نوشيروان (عادل؟) د باختره پورې افغاني ځمكې د ځپتې لاندې كړې ، يفتليان په غرونو كې د مقاومت په غرض متفرق شول.

كه څه هم د توركانو او ساسانيانو تر منځ مخالفتونه او نښتې وشوې ، خو د غې د فترت زمانې ١٩٠ كاله دوام وكړ، دغه توركي دولت په تاريخ كې (تګين شاهي) او (تجن شاهي) هم ياد شوي دي. (١).

---

(١) توركان زېر تكوم دي ، خويښتانه خپل مخالفين تور بولي. (خادم)
زما زړه ته هم دا راځي چه ننني د (ترک) كلمه د (تورک) له بقاياؤ څخه ده ، يعنې دغه لقبي كلمه وروسته د قام نوم وګرځيد. (خادم)

## د کتاب لنډيز په درسي ترتيب*

### کابل شاهان

د اسلام نه مخکې زمونږ په هېواد زمونږ د اسلافو کابل شاهانو حکومت ؤ ، کابل شاهان چه رتبيلان يې هم بولي ، د خپل نسب سلسله "لوی کانيشکا" ته رسوي او دا مو هم ليکلی دي چه دا دولت د "کوشانو يفتلي" د يوې کورنۍ له خوا اداره کېدو .

### يفتليان

د يفتليانو په باب ليکلی شوي دي دوی د نژاد له پلوه د اکثرو مؤرخينو د وينا له مخې د يوچيانو يا په بل عبارت د کوشانيانو يوه څانګه او سيتي يا تخاري ټبر ته منسوبه ده .

### پهلوايان

پهلوايان د ساک او پارت له ګډون څخه منځ ته راغلل ، يا دا چه دوی پارتيان وو چه د سيستان د سهاکو سره ګډ شول .

---

* مراد له دې عنوان څخه دا دی چه د تاريخ له جزئ جزو پل په پل اول تند لاړ شو ، د دې د پاره چه دا کار د مسئلې فهم اسانوي . ( مؤلف )

## اسکایان

کوم وخت چه یوچي سکایان (اسکایان) باختر ته راغلل په څلورو قبیلو وویشل شول چه یوه په کې تخار نومیدله ، نو په دې حساب تخاریان یوچیان دي ، یا دا چه سکایان او یوچیان دواړه د سیتي قام قبیلې دي او (سیتي) یا د ساک بل نوم دی یا یې قبیله ده ، د دې کتاب مخکې عنوان (ساک یا سیتي قام په قبائلو تقسیم ؤ) ته ورګرځېدل پکار دي .

## پارتیان

پارتیان د باختر د آریائي ټبر پښت (پخت ، پکت) یوه پښنه ده ، دا هم ویل شوی دی چه ساک او پارت د ژبې او کولتور له مخې دومره مخلوط وو چه بیلتون یې څه څرګند دلائل نه لري (۱) *

## د ساک او پارت وروري

هر کله چه ساک او پارت وروڼه وو ، نو چه پارت پښتون شو نو په ورور کې یې چه ساک دی څه ویل په کار دي ؟ دا مو هم لیکلي دي چه ساک په تاریخ کې په ډېرو نومونو یاد شوي دي ، د ساک په ژبه او قومیت هم غږیدلي یو .

---

(۱) ظفر کاکاخېل .

* پښتانه یعنی (پختان یا پکتان) معلومه ده چه په مرکزي اریائي ټولنه کې لویه ، قوي او بارزه قبیله ده .

## ساک او کاسي

په ساک او کاسي مو هم څېړنه کړې ده اوس نو څوک ویلی شي چه ساک او کاسي بې له (پښتون) بل څوک دي ؟
دا خبره کټ مټ داسې ده لکه نن چه د "پښتون" د قومیت لاندې لډرې او کړړې قومونه، پټې او نه راځي، چه په یو بل کې ننوتي، دخیل او خلط دي چه روغ زنځیر تری هېڅ نه دي جوړ کړی.

## لس اریائي قبیلې

ما ته کله دا فکر هم راځي چه د اریایانو لس مشهورې قبیلې* به په تغیر د نامه ټولې د (پښت) څانګې وي؛ لکه په اوسني عصر کې د پښتنو لوی، لوی قومونه ! زر، دوه زره او درې زره کاله وروسته به څوک ومني چه وزیر، یوسف زي، دله زاک او اورمړ مثلاً د پښتون په نامه کې ګډ بدل. (۱)

---

(۱) لږ صبر په کار دی چه تر دې وروسته پوهنه علم او تحقیق څه وایي، تر دې وروسته یادګیرنه هم ولولئ. (خادم)

* لکه د لس ملکانو د جنګ په نامه یې چه تاریخ یادوي (ملکان) یوازې او یوازې د پښتنو د تاریخ ساتلي کلمه ده او بس، دا مسئله په وروسته دوه ؤ لیکل شوو کتابونو (علمي پښتنولي) او (پښتون) او پښتونولي کې د څېړنې لاندې راغله او نتیجه هماغه را وخته چه په متن کې ورته اشاره شوې ده "علمي پښتنولي" د پښتو د بین المللي سیمینار نه وروسته په زېرې او هېواد کې نشر شوه خو دا بل کتاب هیڅ نشر شوی نه دی. (خادم)

## حاصل او نتيجه

د پورتـه ټولـو تحقيقـاتو او څېړنـو څخـه چـه کومـه وروستۍ نتيجـه لاس تـه راځـي ، هغـه دا ده چـه غـور لـوړه سـطحه ، د پامير ، ايندوکوښ او د سليمان غره علاقـه ، د دغـو غرونـو درې ، لمنې ، شمال او جنوب ، شرق او غرب ، له آمـو څخـه تر جېلمه د پښتنو تاريخي ځمکه ده .

په دې سيمه کې ( پخت : پکت ) ، کاسي ، سهاک، سيتي ، اسـکائي ، پـارتي ، يـوچي ، تخـار ، کوشـاني ، يفتلـي ، پهلوايان ، رتبيلان او نور د اسلام تر ظهوره پورې او پس لـه اسلامه لويکان ، برمکيـان ، غوريـان ، سوريان ، لوديـان ، غلجيـان ، ابـداليان ، هوتکيـان ، بارکزيـان ، سـدوزيان ، محمد زيان او نور .

او هغه څوک چه د پښتون ، افغان او پټان په نامـه يـادېږي ، دوی د ټولو قومونو ، قبيلو او عشيرو سره د يوه اصـل ، يـو قوم او تېر ښاخونه او څانګې دي ، چه خپلې ژبې ، لهجې ، مـذاهب ، اديـان ، قـوانين ، عـادات ، کلچـر ، تهـذيب او تمدن لري .

دوی پـه خپـل اوږد تـاريخ کـې د قفقـاز لـه لـړۍ ، د تـورې بحيـرې ، خـزر ، او د کسـپين دريـابګي د غـاړو ، چينـي ترکســتان ، د چـين او تبـت د ځينـو علاقـو پـه شـمول ، د سـائبيريا د لـوړې سـطحې د کانسـک ، د شـط العـرب او د

هند د درياب ترمنځ ، دګوجرات او کاتياوار پورې د مرکزي اسيا په لويه ساحه کې ژوند کړی او اوس هم په لوی تعداد موجود دي .

د پښتنو په دې عظيم قوميت او تاريخ کې ددوی سره کورد او بلوڅ هم داسې نښتي او ګډووډ دي ؛ لکه نوک او ورۍ ، چه بېلول يې محال دی ، البته هند او ايران له ابائي ځمکې ډېر پخوا جلا شوي دي .

اوس ددغه لوی تاريخي قام څوځات په منځني ايشيا کې د پښتون په نامه تقريباً د ديرش مليونو په حدودو کې موجود دي چه افغان او پټان يې هم بولي ، ددوی ژبه پښتو ده چه افغاني هم ورته وايې ، دا ژبه ډېرې لهجې ، ښاخونه او دياليکتونه لري .

دوی خپل خاص او متمائز کولتور ته " پښتنولي " وايې ، پښتانه په پښتنولۍ ايمان لري او هر څوک چه دا کولتور خپل کړي هغه پښتون دی .

# د کتاب ماخذ


۱ د کابل مجلې ۲۲۰ ګڼه.

۲ د . غ . م ، غبار ( افغانستان ته یو نظر ) .

۳ د و ، ا ، مسون ، او ، و ، ا ، رومودین ( د افغانستان تاریخ ) .

۴ د ، یو ، و ، کانسوفسکي ( ایراني ژبې ) .

۵ د ، ی ، س ، براګینسکی ( تاجکي ولسي اشعار ) .

۶ د نجیب الله خان ( اریانا افغانستان ) .

۷ د ، ا ، ع کهزاد رساله ( اریانا ) .

۸ د ، ظفر کاکاخېل ( پښتانه د تاریخ په رڼا کې ) .

۹ د ، ا ، ع کهزاد ( د افغانستان تاریخ ) .

۱۰ د ، کوتی ، ( د ولس سالنامه ) .

۱۱ د ، ۱۳۵۱کال په باب ( د خپلواکۍ ترون ) .

۱۲ د ، ق ، خادم ( نوې رڼا ) د کابل طبع .

۱۳ د ، ق ، خادم (نوې لار ) قلمي .

۱۴ د ، ق ، خادم ( نوی ادب ) قلمي .

۱۵ د ، ق ، خادم ( یادداشتونه ) .

۱۶ د ، قاضي عطاؤ الله د پښتنو تاریخ .

۱۷ د ، کهزاد ، افغانستان د پرتو تاریخ .

۱۸ علمي پښتنولي ، د ق ، خادم تالیف قلمي .

۱۹ پښتون او پښتنولي ، د ق ، خادم تالیف ، قلمي .

۲۰ د فطرت غوریدلی کتاب ( درایت ) .

کابل - خادم مینه - میوند جاده ۲ برخه
۱۵ د سرطان ۱۳۵۳ ـــــ قیام الدین خادم
په خپل قلم مسوید کړ -

ډېر افسوس دی چې کاپي خانې او کمزوري زما د ډېر زيات او
زحمت سره هم د زړه په غوښتنه برابره نشوه ښکلې ئې لاس ته راوړه
او ښکلا له لاسه لاړه ... د انسان د بو ضعيف او بربوتي ،
مظلوم قيام خادم - قيام الدين
۲۵ د دلوی ۱۳۵۶ پېښور - پښتيانا

ددغه مهم او تاريخي اثر لومړنۍ چاپي نسخه چه په کال ۱۳۵۲ هـ ش کال په پېښور کې چاپ شوی ، لوستونکي ته يې ډېر مشکلات پېښول .

چاپ ، خط او کاغذ يې هم ښه نه وو ، چه خپله علامه (خادم) هم ورته په پورته ډول اشاره کړې ده .

ما ډېر کوشش کړی چه دغه نسخه د تېروتنو څخه پاکه چاپ شي او د پښتون ملت د نوي نسل او محققينو دپاره د استفادې وړ وي .

روښان (خادم)

## د استاد (خادم) چاپ شوي اثار

۱- د کوچنیانو اخلاقي پالنه.
۲- نوی ژوندون.
۳- پښتونولي.
۴- د شریف سرګذشت.
۵- د مرغلرو امیل.
۶- بایزید روښان.
۷- مکارم الاخلاق.
۸- خیالي دنیا.
۹- نبوغ او عبقریت.
۱۰- نوې رڼا.
۱۱- اوسني پښتانه لیکوال.
۱۲- لوی اصحابان.
۱۳- کاروان.
۱۴- د نثر او نثاراو تذکره.
۱۵- پښتو کلي، دویم جلد.
۱۶- د معلم پښتو یوه برخه.
۱۷- پښتانه شعراء، لومړۍ لویه برخه.
۱۸- د مولانا جامي د کافۍ شرحه.

۱۹- د خوشحال او رحمان موازنه.
۲۰- افغاني تهذيب او تمدن.
۲۱- د خوشحال خان پر دستار نامه شرحه.
۲۲- د تاريخ يوه سره پانه.
۲۳- د پارتيانو حکومت.
۲۴- د کوشانيانو حکومت.
۲۵- علمي پښتونولي.
۲۶- د روښانيانو مبارزې.
۲۷- پر تذکرة الاولياء تبصره.
۲۸- د بابا نصيحت.
۲۹- سيد کمال او بويو جانه.
۳۰- غلجي په تاريخ کې.
۳۱- د مور حماسه.
۳۲- لرغوني پښتانه قومونه.
۳۳- تېولنپال افغان مونوفست.
۳۴- نصوص الحکم.
۳۵- د مور مينه.
۳۶- بلکا.

# د استاد (خادم) نا چاپ شوي اثار

۱- پښتون او پښتون ولي.
۲- د ويښ زلميانو حقيقت.
۳- زما د ژوند قصه.
۴- زريادريس او اوداتيس قصه.
۵- پښتو پتې پهٔ ګندارا ليک کې.
۶- پښتني تاريخ پوهنه.
۷- د پښتنو واکوالي.
۸- دوراني حکومت.
۹- کره پښتو ګرامر.
۱۰- مکالمات.
۱۱- غريزه حب الخير.
۱۲- نوې لار.
۱۳- نوې پوهنتيانه (نوې پوهتيا).
۱۴- غوره يادګېرنې.
۱۵- راه نجات بنام نامی اعليحضرت محمد ظاهر شاه.
۱۶- تمدن مشخص افغانی بنام رئيس جمهور افغانی محمد داود
۱۷- وزارت شئون اجتماعی بنام محمد موسی (شفيق).
۱۸- معياري پښتو.